دریم چاپ

# درویش

# انګلیسي ګرامر

له پښتو ژباړې سره



Ketabton.com

حسین احمد درویش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Dervish English Grammer

# درویش انګلیسي ګرامر

**لیکوال :** انجنیر خلیل احمد درویش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

**الحمدلله رب العلمین، والصلواة و السلام علی امام الهدة المرسلین، و علي آله و اصحابه الذین أنا روا الدنیا بنور الدین و علي من تبعهم باحسان و نشر الهدی الی یوم الدین اجمعین.**

له لوی توانا خدای(ج) څخه ډېر شکر ګزار یم چې ماته یې بیا هم د دې کتاب لیکلو توانایي راوبښله. ژبه د پوهېدنې او پوهونې یوه وسیله ده دا چې الله(ج) ادم (ع) له خاورې څخه جوړ کړ او وروسته یې ساه ور دننه کړه کله چې په ادم (ع) کې روح پیدا شوه او انسان ترېنه جوړ شو نو الله (ج) زر کسبه د هغوی له نومونو سره ور وښودل، نو ویلی شو چې ژبه د انسان له پیدایښت سره سمه پیدا شوې ده؛ له بلې خوا انګلیسي هغه نړیواله ژبه ده چې په اوسنۍ او عصري نړۍ کې ډېره زیاته اړتیا ورته لېدل کېږي، نو زما هم دا یوه ارزو وه، چې د انګلیسي ژبې ګرامر به د خپلې خوږې پښتو ژبې له ژباړې سره لیکم ځکه زموږ په ټولنه کې یو تعداد پښتانه وروڼه او خوېندې له یو لړ ستونزو سره مخ دي نو د دې کتاب سره به ان شاء الله د ډېرو وروڼو او خوېندو ستونزه هواره شي. لکه څنګه چې انګلیسي یوه نړیواله او علمي ژبه ده نو باید په زده کړه کې ورڅخه ناوړه ګټه وانه خېستل شي.

زموږ ګران هېواد له څه باندې تېرو درې لسیزو راهیسې د اور په لمبو کې سوځېدلی، وران شوی، د ښوونې او روزنې کچه پکې ډېره ټیټه ده نو د دې دردېدلی هېواد جوړونکې او کونډو یتیمانو د اوښکو پاکوونکي به همدا ځوان تحصیل یافته نسل وی، هرڅومره چې ښوونه او روزنه پرمختګ کوي په همدې ډول مو هېواد هم د پرمختګ په لوری راونیږی او د پردیو څخه به په امن، بې احتیاجه او سوکالۍ کې ژوند کوی؛ پښتو متل دی چې(پردی کټ تر نیمو شپو وي) پردی هېڅ وخت نشي خپل کېدای، نه به خپل شی، او نه به پرمختګ راته راوړی ترڅو چې مو پخپله مټه خپل هېواد نه وی پیاوړی کړی او په پوره صداقت او سپېڅلې احساس مو کار نه وي ورته کړی.

له بلې خوا اوس محال زموږ په ټولنه کې تهذیب ډېر تنزیل کړی دی، چې د دې عمده عوامل د پردیو تقلیدونه دي او د دې ناوړه ارمغان راوړل هم د پردیو هدف او کار دی چې دا تقلیدونه زموږ د ځوانو نسلونو په فکرونو، عقیدو، اخلاقو او ښوونه او روزنه باندې ډېر ناوړه او بده اغېزه کړې ده؛ دا یو داسې ویروس دی چې زموږ د ټولنې ډېر کسان پرې اخته دي نو له دې سره مبارزه او د دې مخنیوی هم د تحصیل یافته او مفکرو افرادو په واسطه کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې دا کتاب ما له مختلفو ګرامري کتابونو څخه راټول کړی او پخپله مې ډیزاین کړی، کمپیوټرایزډ کړی او تألیف کړی نو که چېري د ویونکي په نظر کومه نیمګړتیا ورغله لومړی به ښښنه راته کوي او وروسته به حتماً ما ته د برېښنالیک یا د ټیلیفون په ذریعه احوال راکوي ترڅو په راتلوونکي چاپ کې اصلاح شي او دا به مو په ما تل پاتې او نه هېرېدونکي لطف او احسان وي.

په درناوي

**انجنیر خلیل احمد« درویش»**

**برېښنالیک**: Khalil.dervish@gmail.com

**نمبر : 0744979728 / 0790768705**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب په هکله څو کرښې

په دفتر کې په کار بوخت وم چې ګران خلیل احمد«درویش» راغي او خپل د کتاب(انګلیش ګرامر) په باب یې راته یادونه وکړه چې پر یاد کتاب یې ډیري خواري ګاللې او هغه یې د چاپ تر بریده چمتو کړي دي؛ ډیر خوشحاله شوم او ده ته مې مبارکي و ویله، کتاب مې په داسي حال کې چې د ده په زیار او زحمت ډیر خوشحاله وم، وکتي.

کتاب چې په(281) مخونو کې د انګلیسي ژبي ګرامر په اساساتو باندي لیکل شوي دي، له ځانه سره پښتو ژباړه هم لري چې د انګلیسي ژبي د هغه مینه والو لپاره چې د مقدماتي حالت څخه یو څه مخته شوي وي ډیر مؤثر دی، کتاب په روانه ژبه لیکل شوي او ویل یې د مینه والو لپاره ګټور او مفید دی.

زه د ګران «درویش » دا هلې ځلې ستایم چې د دې کتاب په لیکلو او تدوین کې یې کړي دي؛ دا چې نوموړي تر اوسه پوري د انجنیري پوهنځي په دریم ټولګی کې محصل دي د هیواد او او خلګو د خدمت لپاره ده ته نور توفیق غواړم او په راتلوونکي کې د نورو سترو بریاوو هیله ورته کوم.

په درنښت

پوهنمل انجنیر عبدالتواب«بالاکرزی»

د لوړو زدکړو وزارت پخوانی، علمي مرستیال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډه پېژندنه

خلیل احمد "درویش" د ډاکتر محمد رحیم "رنځورمل" زوی د مرحوم فیض الله (پوپل) لمسی او د مرحوم محمد سرور خان (ابدالي) کړوسی، چې په ۱۳۷۳لمریز کال د غزنی ولایت، قره باغ ولسوالۍ د کندلخو په نومي کلي په یوه درنه او علمي کورنۍ کې زېږېدلي چې د نسب اصلی سلسله یې د کندهار ولایت په شاولي کوټ ولسوالۍ پوري اړه لري. درویش صاحب خپلې لمړنۍ او ابتدایي زده کړې د بي بي خدیجې الکبرای(رض) په ابتدایي ښوونځي کې او ثانوې زده کړې یې د سلطان محمود غزنوي په عالي لېسه کې په لمړۍ درجه پای ته رسولي دي.

وروسته له فراغت څخه د ښو او عالي نمرو په لاس ته راوړلو سره د خپلې علاقې او خوښې سره سم د کندهار پوهنتون انجنیري پوهنځي ته بریالی او په ۱۳۹۴ لمریز کال کې یې له همدې پوهنځي څخه د لیسانس په کچه لاسوند(دیپلوم) تر لاسه کړ.

درویش صاحب، په ۱۳۹۷ ل. د ماسټرۍ ترلاسه کولو په نیت، هند هېواد ته سفر وکړ، په ۱۳۹۹ ل. یې د هند له یو نړیوال پوهنتون (شارده پوهنتون/Sharda University) څخه د سېول انجنیري په (ساختماني مدیریت/ Construction Management) برخه کې، په عالي درجه د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ.

دا چې انګلیسي ژبه یوه معیاري، علمي او نړیواله ژبه ده او زده کړه یې په اوسني عصر کې ضروري بریښي نو د نوموړي د پرلپسې زیار او زحمت پایله وه، چې خپل باکیفیته او په علمي معیار برابر اثر یې د وخت له غوښتنو سره سم د لوستونکو لاس ته ورساوو.

زما په نظر به د درویش صاحب دغه اثر د زده کوونکو او لوستونکو د علمي کچې پر وده او ترقي زیاته اغېزه ولري او هیله من یم چې د انګلیسي ژبې د ښې او چټکې زده کړې لپاره به د شاګردانو او لوستونکو مېندې او پلرونه د خپلو بچیانو د ښې او باکیفیته زده کړې لپاره له همدې اثر څخه ګټه پورته کړي.

په درنښت

**استاد محمد اسماعیل«سعادت»**

غزني، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالـــۍ

- ♥ هغـو پلرونو او مېندو ته چې د خپلو ماشومانو په ښـوونه او روزنه کې هڅې کوي.
- ♥ خپل درانه استاد پوهنيار عبدالستار «کاکړ» ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Table of Contents

Language ........ 12

Compound Letters ........ 25

Parts of speech ........ 26

Pronoun ........ 30

To Be verbs ........ 34

To have verbs ........ 36

To do verbs ........ 38

Emphatic “Do” ........ 41

Usages of (It) ........ 43

Possessive pronouns ........ 45

Tense ........ 45

Simple present tense ........ 48

Present continuous tense ........ 56

Article ........ 70

Simple past tense ........ 78

Past continuous tense ........ 81

Present perfect tense ........ 90

(c) ketabton.com: The Digital Library



Present perfect continuous tense ........ 94

Verbs ........ 96

Simple future tense ........ 100

Future continuous tense ........ 103

Noun ........ 119

Sentence ........ 132

Gerund ........ 138

Infinitiv ........ 140

Tag questions ........ 141

Conditional sentences ........ 145

Past perfect tense ........ 148

Past perfect continuous tense ........ 150

Phrase ........ 151

Adjective ........ 154

Comparison of Adjectives ........ 164

Adverbs ........ 170

Future perfect tense ........ 184

Future perfect continuous tense ........ 185

(c) ketabton.com: The Digital Library



Clause ........ 187

Additions to remarks ........ 191

Simple Future in the past tense ........ 193

Future in the past continuous tense ........ 195

Conjunction ........ 196

Preposition ........ 201

Future in the past perfect tense ........ 209

Future in the past perfect continuous tense ........ 210

Mood ........ 211

Active and Passive voice ........ 219

The Simple present tense ........ 222

The persent continuous tense ........ 223

The present perfect tense ........ 224

The present perfect continuous tense ........ 225

The simple past tense ........ 225

The past continuous tense ........ 226

The past perfect tense ........ 227

The past perfect continuous tense ........ 228

(c) ketabton.com: The Digital Library



The simple future tense .......... 229

The future continuous tense .......... 230

The future perfect tense .......... 231

The future perfect continuous tense .......... 232

Direct and indirect speech .......... 232

(Quoted and reported) speech .......... 232

Changing direct to indirect speech .......... 233

Chart of tenses change .......... 235

Interjection .......... 242

Suffixes and prefixes .......... 246

**Punctuation** .......... 250

Writing .......... 257

Letter writing .......... 260

Important Structures, Words & Its Useges .......... 263

ځيني انګليسي متلونه .......... 281

References .......... 282

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Language ژبه

Language is a social phenomenon which is used for understanding.

ژبه یوه ټولنېزه پدېده ده چې د پوهېدنې لپاره پکار وړل کېږي.

**Grammar:** Grammar is the series of rules regulations which is used for correct writing, reading and speaking.

**گرامر**: گرامر عبارت له یو لړ مقرراتو او اصولو څخه دی، چې د صحیح لیکلو، لوستلو او خبرې کولو لپاره پکار وړل کېږي.

Or: The scientific study of a language is called Grammer.

**اویا**: د یوې ژبې علمي زده کړې ته گرامر وايي.

**Alphabet:** A set of letters arranged in order for forming words is called alphabet.

**الفباء**: د تورو یوه مجموعه چې د کلمو د جوړولو لپاره پکار وړل کېږي الفباء بلل کېږي.

Or: Alphabet is the basic sound of a language and each sound is considered as a letter.

**اویا:** الفباء د یوې ژبې اساسي غږ، دی او هر غږ د یو توري په حیث مطرح کېږي.

**Letter:**The conventional alphabetical character or a written symbol used to represent a speech sound and constituting a unit of an alphabet is called letter.

**توری:** قراردادي الفبایي جوړښت اویا یو لیکل شوی سمبول، چې د خبري کولو/وینا، غږ بیانولو لپاره استعمالېږي او د الفباء یوه برخه تشکیلوي توری بلل کېږي.

Or: The basic sound of a language is called letter.

**اویا**: د یوې ژبې اساسي غږ ته توری وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **The Letters are commonly of two kinds in English Language:**

- **په انګليسي ژبه کې توري عموماً په دوه ډوله دي:**

**a: لوی توري (Capital Letters ( Uppercase Letters**

هغه توري دي چې په غټ او برجسته شکل ليکل کېږي اوپه لاندې ډول دي.

**A, B, C, D, E, F, G, H, I, J, K, L, M, N, O, P, Q, R, S, T, U, V, W, X, Y, Z.**

- **لوی توري په لاندې ځايونو کې استعمالېږي:**

۱: د يوې جملې د ليکلو په شروع کې استعمالېږي:

Ex: We are students. — مثال: موږ شاګردان يو.

۲: د خاصو اسمونو او صفتونو د لومړي توري د ليکلو لپاره استعمالېږي:

Ex: Aziz, Afghani, Samiullah. — مثال: عزيز، افغاني، سميع الله.

۳: د کال د مياشتو او د اوونۍ د نومونو د لومړي توري د ليکلو لپاره استعمالېږي:

Ex: Sunday, Friday, March, April.

۴: د (I) فاعلي ضمير د لېکلو لپاره استعمالېږي.

Ex: I am a student. — مثال: زه يو شاګرد يم.

۵: د مخففاتو د ليکلو لپاره استعمالېږي.

Ex: U.E.A, UN.

٦: د لقبونو د لومړي توري د ليکلو لپاره استعمالېږي.

Ex: The King of India. — مثال: د هند پادشاه.

Ex: Abdul Bari (Jahani). — مثال: عبدالباري (جهاني) .

Ex: Abobaker Sediq. — مثال: ابوبکر صديق (رض).

۷: د کتابونو د نومونو د ليکلو لپاره استعمالېږي.

Ex: Quran, Zaboor, Torat etc... — مثال: قران، زبور، تورات او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸: د ملي و رځو او عمومي رخصتیو لپاره استعمالېږي.

مثال: عـید، نـوروز، عـاشـورا.

Ex: Eid, Nawrooz, Ashora.

۹: د علومو او ژبو د نومونو لپاره استعمالېږي.

مثال: بیـولـوژي، پـښتو، عـربي.

Ex: Biology, Pashto, Arabic.

۱۰: د غـرونو او دریابونو د نوم دلیکلو لپاره استعمالېږي.

Ex: Kunar River, Hindokush Mountain, Ba Ba Mountain etc...

مثال: کونړ دریاب، هندوکش غـر، بابا غـر اونور...

۱۱: د نداء د توري د لیکلو لپاره استعمالېږي.

مثال: آه!، پوه!

Ex: Oh!, Pooh!

**b : واړه توري (lowercase letters) Small letters**

واړه توري هغه توري دي چې په غیر برجسته شکل لیکـل کېـږي او معـمولاً پـه کتابـونو، مجلـو، اخبـارونو او نـورو لیکـنو کـې ورځخه ګټه اخیستل کېږي.

**a, b, c, d, e, f, g, h, i, j, k, l, m, n, o, p, q, r, s, t, u, v, w, x, y, z.**

**Note**: There are 26 letters in English language.

**نـوټ**: په انګلیسي ژبه کې ۲٦ توري دي.

**ـ په انګلیسي ژبه کې توري د تلفظ له لحاظه په درې برخو وېشل شوي دي:**

۱: غـــږ لـــرونــکـــي تـــوري (Vowel letters).

۲: نیمه غـږ لرونکي توري (Semi vowel letters).

۳: بـــــې غـــږه تـــوري (Consonant letters).

**Vowel letters**

(c) ketabton.com: The Digital Library



Vowel letters are those which make syllables in a word, It means every vowel letters can make a syllable or sound alone.

**غږ لرونکي توري:**

غږ لرونکي توري هغه دي چې په يوه کلمه کې هيجا(سيلاب) جوړوي، هغه په دې مانا چې هـر غـږ لرونکـی تـوری پـه تنهايي سره کولای شي يوه هجا يا غـږ تشکيل کړي.

There are five vowel letters in English language which are :

**(A, E, U, I, O).**

په انگليسي ژبه کې پنځه غږ لرونکي توري دي چې عبارت دي له: **(A, E, U, I, O)** څخه.

- **The role of vowel letters.** د غږ لرونکو تورو نقش.

1. All the word in English should have at least one vowel to be pronounced.

۱. د انگليسي ژبې ټولي کليمې حد اقل بايد د يو غږ لرونکي درلودونکي وي ترڅو تلفظ شي. (هيڅ کلمه نشو کولای بې د غږ لرونکي توري له موجوديت څخه تلفظ کړو).

**غږ لرونکي توری نلري** **غږ لرونکي توری لري**

Ex: rng ___________ Orange

2. Vowel letters causes syllabication in the word.

۲. غږ لرونکي توري په کليماتو کې د هجا بندي باعث گرځي( کلمې د اواز له لحاظه تقسيم بندي کوي).

**Syllable** **Syllable** **Syllable** **Syllable**

Ex: Report = Re ____ port. Ex: Moral = Mo ___ ral

3. For the words that are started with a vowel letter use article (an).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د هغو کلماتو لپاره چې په غږ لرونکي تورو شروع شوي وي د (**an**) تعریف توري ځخه استفاده کیږي.

غږ لرونکی توری ↑ Ex: an o̲range.

غږ لرونکی توری ↑ Ex: an a̲pple.

- **Semi vowel letters:( w, y).** نیمه غږ لرونکي توري: (w, y).

These letters also can make a sound in the words.

همدارنگه دغه توري کولای شي په کلیماتو کې غږ تشکیل کړي.

Ex: pharmacy̲.

**Note:** the two letters (w ,y) are sometime vowel and sometime consonant in this reason they are called semi vowels. that is to say when they are used at the beginning of the words to start a syllable, are consonant, but at the middle of a word or at the end, are vowels.

**نوټ:** دوه توري چې عبارت دي له (W, Y) څخه، ځیني وخت بې غږه او ځیني وخت غږ لرونکي وي نو په دې دلیل هغه ته نیمه غږ لرونکي توري وایي. یعنې کله چې دغه (توري) د هجایي تورو په شروع کې راشي بې غږه دي مگر کله چې د کلمو په مابین او اخیر کې راشي غږ لرونکي دي.

Ex: w̲indow, w̲ord, y̲ellow : (consonant بې غږه).

Ex: Spy̲, Sky̲, Cy̲cle, Why̲ : (vowel غږ لرونکي).

## Consonant letters بې غږه توري

Consonant letters are those which can not pronounced in a word without vowels.

بې غږه توري هغه توري دي چې د غږ لرونکو تورو له موجودیت څخه پرته نه تلفظ کیږي.

**Or:** Consonant letters are those which can not make a sound or syllable alone.

**اویا:** بې غږه توري هغه دي چې نشي کولای په تنهایي سره غږ یا هیجا(سیلاب) تشکیل کړي.

*Except five vowel letters all the rest are consonant in English language.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*په انګلیسي ژبه کې له پنځو غږ لرونکو تورو پاتي ټول بې غـږه دي.

**Note:** Syllable is the unite of classification of a word according to its voice (sound).

**نوټ:** د تلفظ او غږ مطابق د کلیماتو د تقسیم واحد ته هجاء وایي.

- The consonant letters are nineteen letters in English language, those are consist in: **Bb, Cc, Dd, Ff, Gg, Hh, Jj, Kk, Ll, Mm, Nn, Pp, Qq, Rr, Ss, Tt, Vv, Xx, Zz.**

- په انګلیسي ژبه کې نهه لس(۱۹) بې غږه توري دي چې عبارت دي له:

**Bb, Cc, Dd, Ff, Gg, Hh, Jj, Kk, Ll, Mm, Nn, Pp, Qq, Rr, Ss, Tt, Vv, Xx, Zz.**

- **Explanation of consonant letters:**

- **د بې غـږه تورو تشریح :**

۱: د (**B** ) توری پهر پښتور ژبه رکې د (ب) غږ ورکوي.

Ex: **B**oy, **B**room.

**نوټ:** دغه توري په دوه حالته کي خاموش(بي غږه) دي:

a. په هغه کلمو کې چې د (**b**) توری د (**t**) د توري مخکي راشي.

بــــې غـــــږه

Ex:De**b**t, Dou**b**t

b. په هغو کلمو کې چې د (**b**) توری د (**m**) د توري څخه وروسته په اخیر کې راشي.

بــــې غـــــږه

Ex: Com**b**, Thum**b**.

۲: د (C) توری په پښتو کې د ( س، ک) غږ ورکوي د (**e ,i ,y**) څخه مخکي (س) له هغه بغیر (ک) تلفظ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: **<u>C</u>ity, <u>C</u>ar, <u>C</u>ycle.**

س ک س

- د (C) توری له (H) سره یوځاي استعمالیږي او د (ش، چ، ک) غږ ورکوي.

Ex: **School, March, Choice, Mechanic.**

ک چ چ ک

- د (C) توری ځینې وخت له نورو تورو سره یوځای کیږي د (ش) غږ ورکوي.

**Ex: Special, Ancient, Ocean, Conscious..(ش)**

۳: د (D) توری په پښتو کې د (ډ) غږ ورکوي.

**Ex: <u>D</u>oor, <u>D</u>ram.**

- ځینې وخت د (D) توری د (U) د توري مخته راځي د (ج) غږ ورکوي.

**Ex: E<u>du</u>cation, Gra<u>du</u>ate.**

ج ج

- د (**D**) توری د (**G, J**) له توري څخه مخکي نه تلفظ کیږي.

**Ex: A<u>d</u>jective, bri<u>d</u>ge.**

**بې غږه بې غږه**

- د (**D**) توری ځینې وخت له (**H**) سره د (**ض**) غږ ورکوي.

Ex: Ramadhan. .(رمضان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: د (F) توری په پښتو کې د (**ف**) غږ ورکوي.

**Ex: <u>F</u>an, <u>F</u>amily, <u>F</u>ather.**

- د (F) توری د (of) په کلمه کې د (v) غږ ورکوي.

**Ex: A part o<u>f</u> the book.**

▼

د(v)غږ ورکوی

۵ : د (G) توری د (**ج**) غږ ورکوي کله چې د (E ,I) څخه مخکې راشي کله (**گ**) او کله (**ج**) تلفظ کېږي.

**Ex: <u>G</u>irl, <u>G</u>ender, <u>G</u>et.**

↓ ↓ ↓

**گ ج گ**

- هغه وخت چې د (G) توری د (y) څخه مخکې راشي همېشه (**ج**) تلفظ کېږي.

**Ex: Geology, <u>G</u>ymnastic.**

- کله چې د (G) توری د نورو تورو څخه مخکې راشي همېشه (**گ**) تلفظ کېږي.

**Ex: <u>G</u>arden, <u>G</u>rass, <u>G</u>ood.**

- هرکله چې د (G) توری د (M) او (N) له توري مخکې په سر یا په اخېر د کلمې کې راشي، نه تلفظ کېږي.

**Ex: Sign , Diaphragm.**

↓ ↓

**بې غږه بې غږه**

٦: د (H) توری په پښتو ژبه کې د (**ح، ه**) غږ ورکوي.

**Ex: <u>H</u>ide, <u>H</u>and, <u>H</u>en.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د (H) توری ځینې وخت بې غـږه وي.

**Ex: Hour, Honor.**

بې غـږه بې غـږه

- د (H) توری په ترکیب شوي ډول له نورو تورو سره یوځاي کېـږي او مختلف غـږونه ورکوي.

**Exs: a: Laugh, Rough**

ف ف

**b: She, Shine**

ش ش

**c: Character, School.**

ک ک

**d: Rhyme, Rheumatism.**

بې غـږه بې غـږه

**e: Biography, Phone.**

ف ف

**f: Chalk, Choice.**

چ چ

۷: د (J) توری په پښتو کې د (ج) او ( ژ ) غږ ورکوي.

**Ex: Job, Jail, Jam.**

۸: د (K) توری په پښتو کې د (ک) غـږ ورکوي.

**Ex: Keep, Kick.**

- کله چې د کلمې په شروع کې د (K) توری د (N) د توري مخکې راشي نو(K) نه تلفظ کېـږي.

Ex: **K**nife, **K**nee, **K**noll.

بې غـږه بې غـږه بې غـږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹: د (L) توری په پښتو کې د (**ل**) غږ ورکوي.

**Ex: <u>L</u>ure, <u>l</u>ike, <u>l</u>ook.**

- د (L) توری اکثره وخت د کلمې په منځ کې نه تلفظ کېږي.

**Ex: Cha<u>l</u>k, wa<u>l</u>k, cou<u>l</u>d.**

۱۰: د (M) توری په پښتو کې د ( **م** ) غږ ورکوي.

**Ex: <u>M</u>other, <u>M</u>obile.**

- کله چې د (M) توری د (N) له توري څخه مخکې راشي نه تلفظ کېږي.

Ex**: <u>M</u>nemonics.**

▼ **بې غږه**

۱۱: د (N) توری په پښتو کې د (**ن**) غږ ورکوي.

**Ex: <u>N</u>ation, <u>N</u>ear .**

- کله چې د (N) په اخیر د کلمې کې د (M) له توري وروسته راشي نه تلفظ کېږي.

**Ex: Autum<u>n</u>, Contem<u>n</u>.**

▼ **بې غږه** ▼ **بې غږه**

۱۲: د (P) توری په پښتو کې د (**پ**) غږ ورکوي.

Ex**:** **<u>P</u>**oem, **<u>P</u>**aper, **<u>P</u>**art.

- د (P) توری ځینې وخت د (H) له توري سره یوځای کېږي د (**ف**) غږ ورکوي.

Ex**:** **<u>Ph</u>**one, **<u>Ph</u>**armacy.

- که چېري د (P) توری د کلمې په شروع کې د ( **s, t, n** ) له تورو څخه مخکې راشي نه تلفظ کېږي.

**Ex: <u>P</u>neumonic, <u>P</u>sychology, <u>P</u>**tomaine.

↓ **بې غږه** ↓ **بې غږه** ↓ **بې غږه**

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۳: د (Q) توری په پښتو کې د (**ک، ق**) غږ ورکوي او اکثره وخت د (U) له توري سره یوځای لیکل کیږي.

**Ex: Quran, Question, Quite.**

- که چیري (Q) له (U) سره په ترکیبي ډول راشي د (K) په څېر تلفظ کېږي.

**Ex: Technique, antique.**

۱۴: د (R) توری په پښتو کې د (**ر، ړ**) غږ ورکوي.

**Ex: <u>R</u>ead, <u>R</u>oom, <u>R</u>oad.**

- کله چې د (R) له توري وروسته یو بې غږه توری اویا ساکنه (e) په اخېر د کلمې کې د (R) د توري څخه مخکې راغلی وی په بریتانوي سیستم کې نه تلفظ کېږي.

**Ex: Fo<u>r</u>m, Teache<u>r</u>, Rule<u>r</u>.**

بې غږه بې غږه بې غږه

- د (R) توری همدارنګه کولای شي د (H) له توري سره یوځای استعمال شي.

**Ex: <u>Rh</u>ythm, <u>Rh</u>eumatism.**

۱۵: د (S) توری په پښتو کې د (**س، ص، ث**) غږ ورکوي.

**Ex: <u>S</u>ound, <u>S</u>tart, <u>S</u>ingle.**

- د (S) توری ځیني وخت د کلیمي په سر کې د (U) له توري مخکې د (**ش**) غږ ورکوي.

**Ex: Sure, Sugar.** .(**ش**)

- د (S) توری ځینې وخت د (**ز**) غږ ورکوي.

**Ex: Noi<u>s</u>y, Bu<u>s</u>y, Cou<u>s</u>in, Poi<u>s</u>on.** (ز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که چېرې د (S) توری د (ion)، (uat)، (ure) له ترکیبونو سره راغلي وي اکثره وخت (ژ) تلفظ کېږي.

**Ex: Pleasure, Explosion.**

- د (S) توری ځیني وخت له (ia) څخه مخکي راځي د (ش) یا (ژ) په څېر تلفظ کېږي.

**Ex: Asian, Persian, Controversial.**

- د (S) توری په ډېرو ځایونو کې بې غږه وي او نه تلفظ کېږي.

**Ex: Crops.**

- کله چې د (S) توری د (H) له توري سره یوځای د (ش) غږ ورکوي.

Ex: **Sh**op, **Sh**all, **Sh**ine.

١٦: د (T) توری په پښتو کې د ( **ت، ټ، ط**) غږ ورکوي.

**Ex: Teacher, Tree, Tear.**

- د (T) توری ځینې وخت د (U) له توري مخکې د (چ) غږ ورکوي.

**Ex: Picture, Actual, Signature.**

- د (T) توری ځینې وخت د (io) او (ia) څخه مخکې استعمالېږي او د (ش) غږ ورکوي.

**Ex: International, Action, partial.**

- د (T) توری ځینې وخت له (S) څخه وروسته نه تلفظ کېږي.

**Listen, Thistle, Nestle.**

*په دې مثال کې ( t ) غږ نه ورکوي.

- د (T) توری ځینې وخت له (H) سره یو ځای کېږي او نه تلفظ کېږي.

**Ex: Asthma, Isthmus.**

↓ بې غږه ↓ بې غږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷: د (**V**) توری په پښتو کې د (**وي**) او (**في**) غږ ورکوي.

Ex: **<u>V</u>**erse, **<u>V</u>**ast, **<u>V</u>**ine.

۱۸: د (**W**) توری په پښتو ژبه کې د (**و**) غــږ ورکوي.

Ex: **<u>W</u>**ag, **<u>W</u>**aif.

- د (**W**) توری د کلمې په شروع کې د (**R**) د توري مخکې نه تلفظ کېږي.

**Ex: Write, Wrong.**

↓ بې غـږه ↓ بې غـږه

- د (**W**) توری د (**H**) له توري سره یوځای کیږي ځینې وخت د (**ح**) او ځیني وخت د (**و**) غږ ورکوي.

Ex: **<u>Wh</u>**ile, **<u>Wh</u>**at, **<u>Wh</u>**ole.

۱۹: د (**X**) توری په پښتو ژبه کې د (**ایگــز**)، (**ایـکـس**) او (**اکس**) غږ ورکوي.

Ex: Bo**<u>x</u>**, Ta**<u>x</u>**, E**<u>x</u>**am .

↓ اکس ↓ ایکس ↓ اگز

- د (**X**) توری د کلیمې په شروع کې د (**ز**) غــږ ورکوي.

**Ex: <u>X</u>ylem, <u>X</u>eric.**

۲۰: د (**Y**) توری په پښتو کې د (**ي**) غږ ورکوي.

**Ex: Young, Yellow, Your.**

۲۱: د (**Z**) توری په پښتو ژبه کـې د (**ز، ذ، ظ، ض**) غــږ ورکوي.

**Ex: <u>Z</u>ero, <u>Z</u>inc, <u>Z</u>one.**

- د (Z) توري ځیني وخت د (U) د توري دمخه د (ژ) په څېر تلفظ کېږي.

**Ex: Sei<u>zu</u>re.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# Compound Letters ترکـیـبي تـوري

Combination of more than one letter which has particular sound are called compound letter.

د یوه توري څخه د زیاتو ترکیب چې مشخص غږ لري ترکیبي توري بلل کېږي.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **Ch** | (چ) | Ex: Chalk. | **Sio** | (ژ) | Ex: Television. |
| Sh | (ش) | **Ex: Shin.** | **Cie** | (ش) | Ex: Ancient. |
| Zh | (ژ) | **Ex: Zhalah.** | **Th** | (د) | Ex: This. |
| Gh | (غ) | **Ex: Ghazni.** | **Wh** | (و) | Ex: White. |
| Kh | (خ) | **Ex: Khan.** | **Du** | (ج) | Ex: Education. |
| Ph | (ف) | **Ex: Phone.** | **Su** | (ش) | Ex: Suger. |
| Tu | (چ) | **Ex: Nature.** | **Tia** | (ش) | Ex: Initiate. |
| Tio | (ش) | **Ex: Nation.** | **Cia** | (ش) | Ex: Special. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Parts of speech

# د کــلام اجـــزاوي

Words are the base of a language they are put together to make a sense in the sentences, are classified according to the work they do in the sentences are called these word parts of speech.

کلمې د یوې ژبې د بنسټ حیثیت لري، دوی په خپلو کې یوځای کېږي او په جمله کې یو مفهوم جوړوي، چې دغه کلمې د هغه دندو له مخې، چې دوی په جملو کې ترسره کوي طبقه بندي کېږي چې همدې ته د کلام اجزاوي وايي.

**Or:** Division of words in a language is called parts of speech.

**اویا:** په یوه ژبه کي د کلمو وېشنې ته د کلام اجزاوي وايي.

- **The parts of speech are divided in nine parts:**

- **د کلام اجـزاوي په نهـو برخو وېشـل شـوي دي:**

1. **Pronoun** **ضـمـیر**
2. **Verb** **فـعـل**
3. **Article** **د تعریف توری**
4. **Noun** **اســم**
5. **Adjective** **صفت**
6. **Adverb** **قـیـد**
7. **Conjunction** **د ربط توری**
8. **Preposition** **اضافه توری**
9. **Interjection** **د ندا توری**

**1) Pronoun :** pronoun is a word which is used instead of a noun and avoid the repetition of noun.

**۱) ضـمیـر:** ضمیـر هغه کلمه ده چې د نوم په ځای استعـمالېږي او د نوم له تکـرار څخه مخنیوي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


Ex: **Shfiq** is a student.
↓
Noun

مثال: **شفیق** یو زده کوونکی.
↓
**اســم**

Ex: **He** is a student.
↓
Pronoun

مثال: **هغه** یو شاګرد دی.
↓
ضمیر

2) **Verb:** verb is a word which shows an action, stat, possession, presence or absence in a sentence.

**۲) فـعـل:** فعـل هغه کلمه ده چې په جمله کې یو عمل، حالت(وضعیت)، ملکیت، موجودیت او نا موجودیت ښکاره کوي.

**Or:** Verb is a word which shows an action or state of a noun or pronoun.

**اویا:** فعـل هغه کلمه ده چې د یو اسم یا ضمیر عمل اویا حالت ښکاره کوي.

Ex: Qarabagh **is** a beautiful place.

مثال: قره باغ یو ښکلی ځای **دی.**

Ex: Amran **comes** to school every day.

مثال: عمران هره ورځ ښوونځي ته **راځي.**

3) **Article:** article is a word which is used with a noun or adjective and define them.

**۳) د تعریف توری:** د تعریف توری هغه کلمه ده چې له نوم او یا صفت سره استعمالېږي او هغوی تعریفوي.

**Or:** Article is a letter or group of letters that determine a noun or pronoun.

د تعـریف توری یو توری یا ګروپ د تورو دی چې یو اسم یا ضمیر مشخصوي.

Ex: **<u>The</u>** sun. Ex: **<u>The</u>** glass. Ex: **<u>The</u>** beautiful. Ex: **A** Book

4) **Noun:** noun is a word, which is used to name person, place, animal, and thing.

**۴) اسم:** اسم؛ هغه کلمه ده چې د شخص، ځای، حیوان او شي نومولو په لپاره استعمالېږي.

Ex: Asad, Logar, Table, Cow etc...

مثال: اسـد، لوګر، مېز، غوا او نور...

5) **Adjective:** Adjective, is a word which completes the meaning of a noun or qualifies a noun.

**۵)صفـت:** صفت هغه کلمه ده چې د نوم مانا تکمیلوي اویا د هغه ستاینه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Or:** Adjective is a word that describes people, things and events or modify a noun or pronoun.

**اویا:** صفت هغه کلمه ده چې خلک(اشخاص)، شیان او واقعي توصیفوي اویا یو نوم یا ضمیر تنظیموي.

Ex: Kandahar is a **big** province. مثال: کندهار یو **لوی** ولایت دی.

6) **Adverb:** Adverb is a word which is used to add something to the meaning of a verb, an adjective, or another adverb.

**۴)قـــیـــد:** قید هغه کلمه ده چې فعـل، صفت، او یا بل قید په مانا یو شي زیاتوي .(د هغوی مانا تکمیلوي).

**Or:** Adverb is a word which is used to describes a verb, an adjective, another adverb or adverbial phrase.

**اویا:** قید هغه کلمه ده چې فعـل، صفت بل قید یا قیدي عبارت تشریح کوي.

Ex: Obaid **runs** fast.(verb). مثال: عـبیـد تېز **ځغلي**.(فعل).

Ex: He spoke quite **correctly**.(adverb). مثال: هغه کاملاً په **صحیح ډول** خبري وکړي(قـید).

7) **Conjunction:** Conjunction is a word which is used to join two words, two sentences, two phrases, and two clauses.

٦)**د وصل(ربط) توری:** د ربط توری هغه کلمه ده چې د دوو کلمو، دوو جملو، دوو عباراتو، او دوو قضیو وصل کولو لپاره پکار وړل کېږي.

Ex: Abdul Hadi **and** Karrim are brothers. مثال: عبدالهادي او **کریم** سره ورونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


8) **Preposition:** Preposition is a word which is used to show the relationship between two persons or things.

**۴)اضافي توری:** اضافي توری هغه کلمه ده چې د دوو اشخاصو اویا شیانو ترمنځ رابطه ښيي.

**Or:** Preposition is a word that shows the relationship of a noun or pronoun to some other words in a sentences.

**اویا:** اضافي توری هغه کلمه ده چې د اسم یا ضمیر اړیکه د نورو کلمو سره په جمله کې ښيي.

Ex: I am **in** the Market .

مثال: زه **په** بازار کې یم.

9) **Interjection:** Interjection is a word or phrase that expresses emotion or exclamation, an interjection has no grammatical connection to other words.

**۹) د نداء (غبر) توری:** د نداء توری یوه کلمه یا عبارت دی، چې احساسات یا فریاد ښيي، ندایه توری کوم گرامري اړیکه د نورو کلمو سره نه لري.

**Or :**Interjection is a word which is used to express strong and sudden feelings, or for liking and disliking.

**اویا:** د نداء توری هغه کلمه ده چې د قوي او ناڅاپي احساساتو، اویا د خوښي او ناخوښي لپاره استعمالېږي.

Ex: **<u>Oh</u>**! She is so cute.

مثال: آه! هغه څومره ښایسته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# Pronoun ضــمیــر

Pronoun is a word which is used instead of a noun and avoid the repetition of noun.

ضمیر هغه کلمه ده چې د نوم په ځای استعمالېږي او د نوم له تکرار څخه مخنیوي کوي.

- **Kinds of pronoun: د ضــمیــر ډولــونه**

1. Personal pronouns; شخصي ضمیرونه؛
2. Demonstrative pronouns; اشاروي ضمیرونه؛
3. Possessive pronouns; ملکي ضمیرونه؛
4. Distributive pronouns; توزیعي ضمیرونه؛
5. Indefinite pronouns; نا معین ضمیرونه؛
6. Interrogative pronouns; پوښتـنیز ضمیرونه؛
7. Emphasizing pronouns; تاکیدي ضمیرونه؛
8. Reflexive pronouns; انعکاسي ضمیرونه؛
9. Relative pronouns. موصولي ضمیرونه؛

## 1) Personal pronouns شخصي ضمیرونه

Personal pronouns are used instead of people Places and things in the sentences.

شخصي ضمیرونه د خلکو(اشخاصو)، ځایونو او شیانو په ځای په جملو کې استعمالېږي.

Or: Personal pronouns are used for showing possession or state.

**اویا**: شخصي ضمیرونه د ملکیت یا وضعیت ښودلو لپاره استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- **Personal pronouns of two kinds: شخصي ضميرونه په دوه ډوله**

❖ Subjec pronouns; فاعلي ضميرونه؛

❖ Objec pronouns; مفعولي ضميرونه؛

### ❖ Subject pronouns: فاعلي ضميرونه

Subject pronouns are used in the place of subject in the sentence.

فاعلي ضميرونه د فاعل په ځای په جمله کې استعمالیږي.

| Subjec pronouns | فاعلي ضميرونه |
|---|---|
| I | زه |
| You | ته، تاسي |
| He | هغه (مذکر) |
| She | هغه (مونث) |
| They | هغوی، دوی |
| We | موږ |
| It | هغه (بېجان) |

- **Subje pronouns are as follow: فاعلي ضميرونه په لاندي ډول دي:**

| Subjective pronouns فاعلي ضميرونه | | | |
|---|---|---|---|
| First person<br>لومړي شخص(متکلم) | **Singular مفرد** | **I** | **I** go to school. |
| | **Plural جمع** | **We** | **We** play cheese. |
| Second person<br>دوهم شخص(مخاطب) | **Singular مفرد** | **You** | **You** are a student. |
| | **Plural جمع** | **You** | **You** are students. |
| Third person<br>دریم شخص( غایب) | **Singular مفرد** | **He, She, It** | **He**/**She** is a teacher.<br>**It** is a book. |
| | **Plural جمع** | **They** | **They** are my family. |

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Subject (مبتـدا) فاعـل**

➢ Subject is the doer of an action. فاعل د یو عمل سرته رسوونکي دی.

Ex: **Najeeb** speaks English. مثال: **نجیب** په انګلیسـي خبري کوي.

➢ Subject is a word which is used at the beginning of the senten-ces.

فاعـل هغه کلمه ده چې د جـملې په سر کې راوړل کېږي.

Ex: **This** is my room. مثال: **دغه** زمـــا اطاق دی.

➢ Subject is a person or thing that we talk about.

فاعـل هغه شخص یا شی دی چې موږ د هغـو په باره کې خبري کوو.

Ex: **He** is a doctor. مثال: **هغه** یو ډاکتر دی.

**Object pronouns: مـفـعـولـــي ضـمیـرونه**

Object pronouns are used in the place of object in the sentence.

مفعـولي ضمیرونه د مفعـول په ځای په جمله کې استعمالېږي.

**Objective pronouns are as follow: مفعـولي ضمیرونه په لاندي ډول دي**

| Object pronouns | مـفعـولـي ضمیرونه |
|---|---|
| **Me** | ماته، زما، له ما |
| **You** | تاته، تاسي ته |
| **Us** | موږ ته |
| **Them** | هغـوی ته، دوی ته |
| **Him** | هغه (مذکر) ته |
| **Her** | هغې (مونث) ته |
| **It** | هغه (بېجان) ته |

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Object: مفعول

Object is a person or thing in which the work or action is done to.

مفعـول یو شخص یا شی دی چې په هغه باندې کار یا عمل ترسره کېږي.

**Or:** Object is the receiver of an action.

**اويا:** مفعول د يو عمل اخيستونکی دی.( چې عمل وربانديي ترسره کېږي).

Ex: I gave **__him__** a book. مثال: ما **__هغه ته__** يو کتاب ورکړ.

- **Kinds of object: د مفعـول ډولونه**

1. Direct object. (Accusative Object).
2. Indirect object. (Dative object ).

### 1. Direct object: مستقیم مفعول

Direct object is an object which is affected by the action of a verb directly.

مستقيم مفعول هغه مفعول دی، چې فعل مستقيماً د عمل په واسطه متاثره کېږي.

**Or:** The first receiver of an action is called direct object.

اويا: د يو عمل لمړني اخيستونکي ته مستقيم مفعول وايي.

Ex: I sent a **__letter__** to Ahmad. مثال: ما يو **ليک** احمد ته ولېږه.

### 2. Indirect object: غیر مستقیم مفعول

Indirect object is an object which is affected by the action of a verb indirectly.

غير مستقيم مفعول هغه مفعول دی چې يو فعل د عمل په واسطه په غير مستقيم ډول متاثره کېږي.

**Or:**The second receiver of an action is called indirect object.

**اويا:** د يو عمل دوهم اخيستونکي ته غير مستقيم مفعول وايي.

Ex: I will buy a **__car__** for **__Naseer__**.
(car ↓ Direct object; Naseer ↓ indirect object)

مثال: زه به د **نصير** لپاره يو **موټر** واخلم.
(موټر ↓ مستقيم مفعول؛ نصير ↓ غيرمستقيم مفعول)

**Note:** Direct object is usually a thing and indirect object is usually a person.

**نوټ:** مستقيم مفعول معمولاً شی وي او غير مستقيم مفعول معمولاً شخص وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# To Be verbs د وجود لرلو فعلونه

To Be verbs are used to show state and being in sentences.

د وجود لرلو فعلونه په جملو کې د حالت (وضعیت) او موجودیت ښودلو لپاره استعمالیږي.

- We can use to be verbs before an adjective, a noun, a place expression, an"ing" form of a verb and third form a verb.

- موږ د وجود لرلو فعلونه له صفت، اسم، دمکان اصطلاح، دوخت اصطلاح، د فعل "ing" شکل او د فعل له دریم شکل څخه د مخه استعمالولای شو.

- **To Be verbs consist in:د وجود لرلو فعلونه عبارت دي له**

| **To Be verbs د وجود لرلو فعلونه** | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **Is** | are | am | was | were | be | been | being |

| Present conjugation | حـــال گـــردان |
|---|---|
| **I am** | زه یم |
| **You are** | ته یې، تاسي یاست |
| **They are** | هغوی دي، دوی دي |
| **We are** | موږ یو |
| **He is** | هغه(مذکر) دی |
| **She is** | هغه(مونث) ده |
| **It is** | هغه (بېجان) دی |

Ex: **He is** a doctor. مثال: هغه یو ډاکتر دی.

Ex: **I am** a student. مثال: زه یو زده کوونکی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


| Past conjugation | ماضي(تېر) گـــردان |
|---|---|
| **I was** | زه وم |
| **You were** | ته وې، تاسي وئ |
| **They were** | هغوی وو، دوی وو |
| **We were** | موږ وو |
| **He was** | هغه (مذکر) وو |
| **She was** | هغه (مونث) وه |
| **It was** | هغه (بېجان) و |

Ex: **He was** a carpenter. مثال: هغه يو نجار و.

Ex: **They were** engineers. مثال: هغوی انجنيران وو.

## Note: نوټ

If there is a (to be) verb in a sentence, in the question form these verbs are used at the beginning of the sentence and in the negat-ive form (not) is used after these verbs.

که چېري (to be) فعل په جمله کې موجود وي په سوالي شکل کې دغه فعلونه د جملې په سر کې راځي او په منفي شکل کې له دغه فعلونو وروسته د (not) کلمه استعمالېږي.

**Ex:** **مثال:**

- Ahmad Zia **is** a teacher. (+). - احمدضيا يو ښوونکی دی.(+).
- **Is** Ahmad Zia a teacher?. (?). ـ آيا احمد ضيا يو ښوونکی دی؟ (؟).
- Ahmad Zia **is not** a teacher. (-). ـ احمدضيا يو ښوونکی نه دی. (ــ).

## Note: نوټ

( To be) verbs are both ordinary and auxiliary verbs, if they are used alone in the sentences, they are ordinary verbs but when they are followed by other verbs in the sentences, they are auxiliary verbs.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د (To be ) فعلونه هم اصلــي فـعـلونه دي او هم کـومکـي فعـلـونه، که چېـري په جمـله کـې يوازي استعمـال شـي يعنې چې بل فعل موجود نه وي په دغه صورت کې اصلـي فعلونه دي مگـر کله چې له نورو فعـلونو سره يو ځاي شي کومکي فعـلونه دي.

Ex: Karrim **is** a Qari. (Ordinary verb). مثال: کريم يو قاري دی. (اصلي فعل).

Ex:Abdullah **is** playing football. (Auxiliary verb). مثال:عبدالله دفوټبال په لوبه مشغول دی. (کومکي فعل).

**نوټ:** په حال جاري زمانه کې د (Is, am, are) له (To be) فعلونو څخه، په تېره زمانه کې د (Were, Was) له (To be) فـعـلونو څخه، په راتلـوونکـي جـاري زمانه کـې د (Be) له (To be) فعل څخه او په کاملو زمانو کې د (Been) له (To be) فعل څخه گټه اخيستل کېږي.

**Examples:** **مثالونه:**

| | |
|---|---|
| **I *am* working now. زه اوس په کار کولو لگيا يم.** | **حال جاري زمانه** |
| **He *was* studying the book. هغه د مطالعې په حال کې و.** | تېره جاري زمانه |
| **I will *be* going to Kabul. زه به کابل ته د تلو په حال کې يم.** | راتلوونکي جاري زمانه |
| **We have *been* playing volleyball for two hour.** **موږ د دوو ساعتو لپاره د واليبال د لوبې په حال کې يو.** | حال کامله جاري زمانه |

Ex: **He is** a doctor. مثال: هغه يو ډاکټر دی.

Ex: **I am** a student. مثال: زه يو زده کوونکي يم.

Ex: **He was** a carpenter. مثال: هغه يو نجار و.

Ex: **They were** engeeners. مثال: هغوی انجينران وو.

# To have verbs: د لرلو فعـلونه

To have verbs are those which are used to show possession or ownership in the sentences.

د لرلو فعـلونه هغه دي چې په جمله کې ملکيت او مالکيت ښودلو لپاره استعمالېـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- **To have verbs consist in: د لرلو فعـلونه عبارت دي له**

| To have verbs د لرلو فعـلونه | | |
|---|---|---|
| **Have** | **Has** | **Had** |

| Present conjugation | حـــال گـــردان |
|---|---|
| I have | زه لرم |
| You have | ته لري، تاسي لرئ |
| They have | هغوی لري، دوی لري |
| We have | موږ لرو |
| He has | هغه (مذکر) لري |
| She has | هغه(مونث) لري |
| It has | هغه (بېجان) لري |

Ex: **<u>I have</u>** a car. مثال: زه يو موټر لرم.

Ex: **<u>You have</u>** three sons. مثال: ته درې زامن لري.

Ex: **<u>He has</u>** a bicycle. مثال: هغه يو بايسکل لري.

| Past conjugation | ماضي(تېر) گردان |
|---|---|
| **I had** | ما درلودل، ما درلود، ما درلودې |
| **You had** | تاسي درلودل، تاسي درلود، تاسي درلودي |
| **They had** | هغوي درلودل، هغوی درلود، هغوی درلودې |
| **We had** | موږ درلودل، موږ درلود، موږ درلودې |
| **He had** | هغه درلودل، هغه درلود، هغه درلودې |
| **She had** | هغې درلودل، هغې درلود، هغې درلودې |
| **It had** | هغه(بېجان) درلودل، هغه درلود، هغه درلودې |

(c) ketabton.com: The Digital Library


Ex: I **had** little money. مثال: ما لیـږ پیسې درلودې.

Ex: He **had** a car. مثال: هغه یو موټر درلود.

Ex: They **had** a lot of books. مثال: هغوی ډېر کتابونه درلودل.

**Note:** (To have) verbs are both auxiliary and ordinary when they are used alone they are ordinary verbs, but when they are used with other main verbs then they are auxiliary verbs.

**نوټ:** (لرلو فعـلونه) هـم کومکـي دي او اصلـي په هغه صـورت کـې چـې یـوازی استـعـمـال شـي (یـعنـې کوم بله اصلي فعل وجود ونلري) اصلي فعلونه دي، مگر کله چې له نورو اصلي فعلونو سره فعلونو سره استعمال شي بیا کومکي فعلونه دي.

Ex: I **have** a book. مثال: زه یو کتاب لرم.

Ordinary verb اصلي فعـل

Ex: I **have** studied Biology. مثال: ما بیولوژي مطالعه کړې ده.

Auxiliary verb کومکي فعـل

# To do verbs د سرته رسولو فعـلونه

(To do verbs) are those which are used to show performing of an action in the sentence .

د (سـرته رسـولو فعـلونه) هغـه دي چې په جمله کې د یـو عمل(کـار) سـرته رسـولو لپاره استعمالېږی.

- **To do verbs consist in: د سرته رسـولو فعـلونه عبارت دي له**

| To do verbs د سرته رسـولو فعـلونه | | |
|---|---|---|
| **Do** | **Does** | **Did** |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| Present Conjugation | حال گـــردان |
|---|---|
| I do | زه سرته رسوم |
| You do | تاسي سرته رسوي |
| They do | هغوی (دوی) سرته رسوي |
| We do | موږ سرته رسوو |
| He does | هغه (مذکر) سرته رسوي |
| She does | هغه (مونث) سرته رسوي |
| It does | هغه (بېجان) سرته رسوي |

Ex: **<u>I do</u>** my homework every day. — مثال: زه هره ورځ خپله کورنۍ سرته رسوم.

Ex: **<u>He does</u>** service every month. — مثال: هغه هره میاشت خپله نوکري سرته رسوي.

| Past conjugation | ماضي (تېر) گردان |
|---|---|
| I did | ما سرته ورسوله |
| You did | تاسي سرته ورسوله |
| They did | هغوي(دوی) سرته ورسوله |
| We did | موږ سرته ورسوله |
| He did | هغه(مذکر) سرته ورسوله |
| She did | هغه (مونث) سرته ورسوله |
| It did | هغه(بېجان) سرته ورسوله |

Ex: **<u>He did</u>** his education. — مثال: هغه (مذکر) خپلې زده کړې سرته ورسولې.

Ex: **<u>I did</u>** my homework yesterday. — مثال: ما تېره ورځ خپله کورنۍ وظیفه سرته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Note:نوټ**

The sentences which do not have any (to be) verb or other auxiliary verbs, (to do) verbs are used in their question and negative form.

په کومو جملو کې چې د (to be) فعل او بل کوم کومکي فعل موجود نه وي د هغو په سوالي او منفي شکل کې او منفي شکل کې د (to do) له فعلونو څخه استفاده کېږي.

**Ex:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| **Ahmad plays volley ball.** | **(+)** | **(+)** | **احمد د واليبال لوبه کوي.** |
| **Does Ahmad play volley ball?** | **(?)** | (؟) | آيا احمد د واليبال لوبه کوي؟ |
| **Ahmad does not play volley ball.** | **(-)** | (-) | احمد د واليبال لوبه نه کوي. |

**Note:نوټ**

(To do) verbs are both ordinary and auxiliary verbs; when they are used alone they are ordinary and show performing of the action; but when they are followed by other verbs in the sentence to form a question or negative, are auxiliary verbs and lose their meaning.

د (To do) فعلونه هم کومکي دي او هم اصلي فعلونه؛ په هغه صورت کې چې په جمله کې يوازي استعمال شي اصلي ده او د عمل په سرته رسولو دلالت کوي؛ مګر کله چې په سوالي او منفي شکل کې له نورو فعلونو سره يوځاي شي کومکي فعلونه دي او خپله مانا له لاسه ورکوي.

Ex: I **do** my homework.(ordinary verb).  مثال: زه خپله کورني وظيفه سرته رسوم. (اصلي فعل).

Ex: He **dose** not play chess (auxiliary verb).  مثال:هغه د سطرنج لوبه نه کوی. ( کومکي فعل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Emphatic "Do"

# تاکیدي"Do"

When the "to do" verbs are placed before the simple form of the verbs emphasize on performance of an action, are called emphatic do.

کله چې د "to do" فعلونه د فعل له ساده شکل څخه دمخه راشي او د عمل په سرته رسولو تاکید وکړي د تاکیدي "Do" په نامه یادېږي.

Ex: Sifat **<u>does</u>** perform his homework. — مثال: صفت خپله کورنۍ وظیفه سرته رسوي.

Ex: Asif **<u>does</u>** go to work everyday. — مثال: آصف هره ورځ کار ته ځي.

Ex: I **<u>do</u>** study English. — مثال: زه انګلیسي مطالعه کوم.

## 1. Demonstrative pronouns: اشاروي ضميرونه

Demonstrative pronouns are those which are used instead of noun and point out some person, place and thing.

اشاروي ضمیرونه هغه دي چې د اسم په ځای استعمالېږي او شخص، مکان او شي ته اشاره کوی.

- **Demonstrative pronouns are divided into two parts:**
- **اشاروي ضمیرونه په دوه برخو وېشل شوي دي:**

1. Definite Demonstrative pronouns . معین اشاروي ضمیرونه.
2. Indefinite Demonstrative pronouns. نامعین اشاروي ضمیرونه.

### 1) Definite Demonstrative pronouns . معین اشاروي ضمیرونه

Definite Demonstrative pronouns are those which point out to exact and clear person or thing.

معین اشاروي ضمیرونه هغه چې یو معین او واضح شخص او شي ته اشاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Like لکه :** this (دغـه), that (هغـه), these («جمـع» دغه), thos ( «جمـع»هغـه) the same (عین شی), such(داسي، دارنگه), the former (پخوانی، مخکنی), the latter (وروســته)

- **"This دغـه":** "this" is a demonstrative pronoun or adjective which is used for a singular noun that is near the speaker.

"This" یو اشاروي ضمیـر اویا صفت دی چې د هغه مفرد اسم لپاره استعمالیږي چې متکلم (خبـري کوونکي) ته نـږدې وي.

Ex: **<u>This</u>** is a computer. مثال: <u>دغه</u> یو کمپیو ټر دی.

- **"That هغه:** "That" is a demonstrative pronoun or adjective which is used for a singular noun that is far from the speaker.

"That" یـو اشاروي ضمیـر اویا صفـت دی چې د هغه مفرد اسـم لپاره استعمالـېږی چې له متکلم(خبري کوونکی) څخه لري وي.

Ex: **<u>That</u>** is a pen. مثال: <u>هغه</u> یو قلم دی.

- **"These «جـمـع» دغـه":** "These" is a demonstrative pronoun or adjective which is used for plural nouns that is near the speak-er; or " these " is used as the plural form of "this".

"These" یـو اشاروي ضمـیر اویا صفت دی چې د جمع اسـمونو لپاره استعمالـېږي چې متکلم(خبري کوونکي) ته نږدې وي، اویا "these" د "this" د جمعي شکل په حیث استعمالیږي.

Ex: **<u>These</u>** are my friends. مثال: <u>دغه</u> (جمع) زما ملگری دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **"Those«هغـه«جمع»":** "**Those**" is a demonstrative pronoun or adjective which is used for plural nouns that is far from the speaker, or "those" is used as the plural form of "that".

"Those" يو اشاروي ضمير او يا صفت دی چې د جمعي اسمونو لپاره استعمالېږي چې له متكلم (خبري كوونكـي) څخه لري وي، اويا"Those" د "That" د جمعي شكل په استعمالېږي.

Ex: **Those** are the books. مثال: هغه(جمع) كتابونه دي.

## 2) Indefinite Demonstrative pronouns: نامعـين اشاروي ضميرونه

Indefinite demonstrative pronouns are those which point out to unk- nown person and things.

نامعـين ضـميرونه هـغـه دي چـې نامعـين اشـخاصـو او شـيـانـو ته اشـاره كـوي.

Ex: **We** are Muslims. مثال:**موږ** مـسلـمانان يو.

Ex: **Everybody** must have good morality. مثال:**هرڅوک** بايد ښه اخلاق ولري.

# Usages of (It)

# د(It)د استعمال ځايونه

⇨ (It) is used for inanimate things. (It) د بې جانه شيانو لپاره استعمالېـږي.

Ex: **It** is a cup. مثال: هغه يوه پياله ده.

⇨ (It) is used for animal when do not consider their gender.

(It) دحيواناتو لپاره استعمالېږي هغه وخت چې دهغـو نوعيت په نظر كي ونه نيسو.

Ex: **It** is a dog. مثال: هغه يو سپی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(It) can be used for the people in the photo.

(It) کولاي شي د اشخاصو لپاره په تصوير کې استعمال شي.

Ex: Who is this in the picture? مثال: په دغه تصوير کې څوک دی؟

**It** is Noor Ahmad. هغه نوراحمد دی.

⇨ (It) can be used for small children.

(It) کولاي شي د کوچني ماشومانو لپاره استعمال شي.

Ex: It is a clever baby. مثال: هغه يو ځيرک ماشوم دی.

⇨ (It) also can be used for weather and time.

(It) همدارنګه کولاي شي د هوا(موسم) او وخت لپاره استعمال شي.

Ex: **It** is winter.(weather). مثال: ژمي ده.(هوا، موسم).

Ex: **It** is the four o' clock.(time). مثال: څلور بجې دي.(وخت).

Ex: **It** is rainy today.(weather). مثال: نن ورځ باراني ده. (هوا).

⇨ (It) is used to give emphasis to a noun or pronoun.

(It) د نوم اويا ضمير باندي تاکيد کولو لپاره استعمالېږي.

Ex: **It** was you who fought with Khalid. مثال: هغه ته وي چې له خالد سره دي جنګ وکړ.

**Note:** (It) and (you) are both subject and object pronoun, when they are used before the verb, they are subject pronouns and when they are used after the verb
verb they are objective pronouns.

**نوټ:** (It) او (you) دواړه هم فاعلي او هم مفعولي ضميرونه دي، کله چې (دغه ضميرونه) له فعل څخه مخکې استعمال شي فاعلي ضميرونه دي او کله چې ( دغه ضميرونه) له فعل څخه وروسته استعمال شي مفعولي ضميرونه دي.

Ex: **It** works good. (Subject pronoun). مثال: هغه ښه کار کوي.(فاعلي ضمير).

Ex: Hashmat give **it** yesterday me. (Object pronoun). مثال: حشمت هغه تېره ورځ ماته راکړ(مفعولي ضمير).

Ex: **You** can speak Pashto. (Subject pronoun).). مثال: ته په پښتو خبري کولاي شي( فاعلي ضمير).

Ex: I give some money to **you**.( Object pronoun). مثال: ما تاته يوه اندازه پيسي درکړي.(مفعولي ضمير).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Possessive pronouns
# ملکي ضميرونه

Possessive pronouns are those which are used instead of noun and show possession or ownership.

ملکي ضميرونه هغه دي چې د نوم په ځای استعمالېږي او ملکيت يا مالکيت ښيي.

- **Possessive pronouns consists in: ملکي ضميرونه عبارت دي له**

| Possessive pronoun | ملکي ضميرونه |
|---|---|
| **Mine** | زما |
| **Your** | د ستا، د ستاسي |
| **His** | د هغه(مذکر) |
| **Hers** | د هغې(مونث) |
| **Ours** | زمونږ |
| **Theirs** | د هغوی (د دوی) |

Ex: That house is **mine**. مثال: هغه کور زما دی.

Ex: This book is **yours**. مثال: دغه کتاب د ستاسي دی.

# Tense زمانه

Tense is a term used in Grammar to indicate the time of the action or event.

زمانه يو اصطلاح ده په گرامر کې د عمل وخت اويا واقعي ته اشاره کوي.

**Or:** Tense is the form of the verb which shows the time of occurrence of an action or state.

**اويا:** زمانه د فعل هغه شکل دی چې د يو عمل د مخامخ کېدو وخت اويا حالت ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **There are sixteen tenses in English language.**

**په انګلیسي ژبه کې شپاړس زمانې موجودي دي.**

**Note:** The word (tense) is a proper noun which indicates to a particular part of Grammar, but (Time) is a common noun which is used in genral.

**نوټ:** د (tense) کلمه یو خاص اسم دی او د ګرامر یو مخصوص بخش ته اشاره کوي، مګر (Time) یو عام اسم ده چې په ټولو کې استعمالېږي.

- **There are four basic tenses in English language:**

**په انګلیسي ژبه کې څلور اساسي زمانې موجودي دي:**

| | |
|---|---|
| **Simple present tense** | **ساده حال زمانه** |
| **Simple past tense** | ساده تېره زمانه |
| **Simple futer tense** | ساده راتلوونکې زمانه |
| **Simple Future tense in the past** | ساده راتلونکې زمانه په تېره (ماضي) کې |

- Tense according to their type are divided into three parts:

زمانې د هغوی د نوعې په نظر په درې برخو وېشل شوي دي:

| | |
|---|---|
| **Simple tenses** | **ساده زمانې** |
| **Prograssive tenses** | جاري زمانې |
| **Perfect tenses** | کاملې زمانې |

- **In a tence we study three items that are:**

**په یوه زمانه کې درې برخې په نظر کې نیول کېږي:**

1. Structure ساختمان (فورمول)
2. Usage استعمال
3. Diagram (Chart of displaying a tense) دیاګرام(د زمانې د نمایش چارت).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Structure (ساختمان یا جوړښت)**

<u>Structure</u> is the formula of a tense that helps us to form the sentences of a tense and there are four forms in structure.

<u>ساختمان</u> د يوې زمانې فورمول دی چې له موږ سره د يوې زمانې د جملو په تشکليل کې مرسته کوي او د يوې زمانې ساختمان په څلورو شکلو سره وي.

| Structure of a tense د يوې زمانې ساختمان | |
|---|---|
| **Affirmative form** | مثبت شکل |
| **Question form** | سوالي شکل |
| **Negative form** | منفي شکل |
| **Negative interrogative form** | منفي سوالي شکل |

- **Usage (استعمال، کـاره ونه)**

"Usage" is the way which shows where and how to use a tense.

"Usage" هغه طريقه ده ښيي چې يوه زمانه چېرې او څنگه استعمالولای شو.


Some tenses have only one usage but some others have two or more than two usages.

ځيني زمانې يوازې يو استعمال لري مگر ځيني نورې دوه اويا له دوو څخه زيات کاره ونې لري.

- **"Usages" are divided into two parts: "استعمالات" په دوو برخو وېشل شوي دي**

1) Main usages. اصلي استعمال (کاره ونه).
2) Accessory usages. فرعي استعمال(کاره ونه).

**4. Diagram (Chart of displaying a tense).** **دياگرام(د زمانې د نمايش چارت).**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ Complement (تکمیل کوونکی)

Complement is a word or a group of words which completes the meaning of a sentences after verb.

تکمیل کوونکی له هغه کلمې اویا گروپ د کلیمو څخه عبارت دی چې د فعل څخه وروسته د جملې مانا تکمیلوي.

Ex: Najeeb works **in a bank.** مثال: نجیب په یوه بانک کې کار کوي.

Ex: I go **to school every day.** مثال: زه هره ورځ ښوونځی ته ځم.

**Note:** Complement can be a noun, adjective, pronoun or a number.

**نوټ:** تکمیل کوونکی کېدای شي یو اسم، صفت، ضمیر اویا یو عدد وي.

# Simple present tense
# حال ساده زمانه

| Helping verbs of simple present tense | د حال ساده زماني کومکي فعلونه |
|---|---|
| **Do / Does** | **Do / Does** |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Subject + $V_1$ + Complement.**<br>**Ex: Bilal teaches English.** **مثال: بلال انگلیسي تدریسوي.** |
| Question form<br>سوالیه شکل | **Do/Does + Subject + $V_1$ + Complement?**<br>Ex: Does Bilal teach English? مثال: آیا بلال انگلیسي تدریسوي؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Subject + Do/Does + Not + $V_1$ + Complement.**<br>Ex: Bilal Does not teach English. مثال: بلال انگلیسي نه تدریسوي. |
| Negative interrogative form<br>منفي سوالیه شکل | **Do/Does +Subject + Not + $V_1$ + Complement -?**<br>Ex: Does Bilal not teach English ? مثال: آیا بلال انگلیسي نه تدریسوي؟<br>**Don't/Doesn't + Subject + $V_1$ + Complement -?**<br>Ex: Doesn't Bilal teach English ? مثال: آیا بلال انگلیسي نه تدریسوي؟ |

($V_1$) is the shortcut of first form of verb. ($V_1$) د فعل د لومړنی حالت اختصاری شکل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 1. Note : نوټ

## ⇨ Subject: فاعـل

The word which is used at the beginning of the sentences is called subject.

هغه کلمه چې د جملې په سر کې استعمالېږي د فاعل په نوم يادېږي.

Ex: **Mohammad** is a boy.

مثال: **محمد** يو هلک دی.

⇨ It is mentionable that all the verbs exept of auxiliaries take (s) or (es) in the third singular person (He, she, it) of the simple present tense.

د يادونې وړ ده چې ټول فعلونه بغير د کومکي فعلونو په دريم مفرد شخص(He, She, It) کې په حال زمانه کې (s) يا (es) اختياروي. (البته دغه هـدايت يوازي په مثبته بيانيه جمله کې مطرح ده مگر په سوالي او منفي کې نه مطرح کېږي).

Ex: He **speak<u>*s*</u>** loud.

مثال: هغه په لوړ اواز خبري کوي.

Ex: She **watch<u>*es*</u>** TV.

مثال: هغه(مونث) تلويزون گوري.

⇨ Verbs ending in (**<u>s</u>, <u>ss</u>, <u>ch</u>, <u>sh</u>, <u>o</u>, <u>x</u>, <u>z</u>**) take (es) and verbs ending in other letter take only (s).

هغه فعـلونه چې په (**<u>s</u>, <u>ss</u>, <u>ch</u>, <u>sh</u>, <u>o</u>, , <u>z</u>**) ختمېږي (es) اختياروي او هغه فعلونه چې په نورو تورو ختمېږي «په اخېر کې» يوازي (s) اختياروي.

**Ex:**

مثال

| | | |
|---|---|---|
| **Wash – Wash**<u>es</u> | **Go – Go**<u>es</u> | **Mix – Mix**<u>es</u> |
| **Play – Play**<u>s</u> | Agree – Agree<u>**s**</u> | Live – Live<u>**s**</u> |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2. Note : نوټ**

- When (es) is added, it is pronounced like an extra (iz) syllable.

کله چې د (فعلونو په اخېر کې)(es) اضافه شي د (iz) په شان په یوه جلا هجا باندي تلفظ کېږي.

Ex: Fix – Fix**es**.

- Verbs ending in (y) following a consonant change (y) into (I) and add (es).

هغه فعلونه چې د (y) په (توري) ختمېږي او (y) د بې غږه توري په تعقیب راغلی وی
د (y) له توري مخته یو بې غږه توری راغلي وي) د (y) توری په (I) بدلېږي او (es) اضافه کېږي.

Ex: Stud*y* – Stud***ies*** .

- Verbs ending in (y) following a vowel, add only (s).

هغه فعلونه چې یوازي (په اخېر کې اضافه (y) په (توري) ختمېږي او (y) د غږ لرونکي توري په تعقیب راغلی وي ( د (y) له توري مخته یو غږ لرونکی توری راغلی وي) (s)کېږي.

Ex: Stay – Stay<u>s</u> .

# Usages of simple present tense

# د حال ساده زماني د استعمال ځایونه

1) **Usage:** Simple present tense is used to shows habitual actions, habitual action is an action which is done frequently or habi -tually.

**۱) استعمال:** حال ساده زمانه د عادتي کارونو لپاره استعمالېږي، عادتي کار هغه کار دی چې په کثرت او تکرار یا په عادتي ډول ترسره کېږي.

**Diagram:**



(c) ketabton.com: The Digital Library



The adverb of frequency like (always, often, osually, sometimes, seld- om, rarely, ever, never), and also the other adverbs like (every day, every night, every morning, every week, every month) and etc are used in this usage in simple present tense.

د تکرار قیدونه لکه ( همېشه، اکثراً وخت, معمولاً، ځیني وخت، ډېر لیږ، په نادره توګه( ډېر لیږ)، هر کله، هېڅکله او همدارنګه نور قیدونه لکه ( هره ورځ، هره شپه هره هفته، هره میاشت)، او نور د حال ساده زماني په دې استعمال کي پکار وړل کېږي.

Ex: I go to school at 7:00 AM **<u>every day</u>**. — مثال: زه هره ورځ د سهار په ۷ بجو ښوونځي ته ځم.

Ex: She **<u>often</u>** washes the dishes. — مثال: هغه(مونث) اکثره وخت کالي پرېمنځي.

Ex: Ahmad **<u>always</u>** gets up at 6:00 in morning. — مثال: احمد همېشه سهار په ٦ بجو پورته کېږي.

Ex: She **<u>never</u>** tells lie. — مثال: هغه(مونث) هیڅکله دروغ نه وایي.

| | |
|---|---|
| **Always** | **همېشه** |
| **Often** | اکثراً وخت |
| **Usually** | معمولاً |
| **Sometimes** | ځیني وخت |
| **Seldom** | ډېر لیږ |
| **Rarely** | په نادره توګه«ډیرکم» |
| **Ever** | هرکله |
| **Never** | هېڅکله |
| **Every day** | هره ورځ |
| **Every night** | هره شپه |
| **Every morning** | هر سهار |
| **Every week** | هره هفته |
| **Every month** | هره میاشت |

**نوټ:** کله چې په حال ساده زمانه کې په (Usage 1**)** کي د وخت قیدونه د تکراري قیدونو سره د جملې په سر کې راشي په حقیقت کې د عادتي عمل په سر تاکید ترسره کېږي، مګر که چېري فاعل د جملې په سرکی کې راشي تاکید به د جملې په فاعل باندي وي. همدارنګه باید ذکر کړو چې که چیري د (to be) فعلونه په جمله کې موجود وي نو(تکراري قیدونهfrequency adverbs) د (to be) فعلونو څخه وروسته راځي بغیر له هغو معمولاً له فاعل څخه وروسته او له فعل څخه دمخه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




Ex: I **usually** meet my friends. مثال: زه **معمولا** له خپلو ملگرو سره ملاقات کوم.

Ex: He is **always** at home. مثال: هغه **همېشه** په کور کې وي.

**2) Usage:** Simple present tense shows general facts; that is to say, it shows that something was true in the past is true in the pre- sent and will be true in the future.

**۲) استعمال:** حال ساده زمانه کلي او عمومي حقیقتونه بیانوي؛ په بل عبارت هغه شی چې په ماضي کې یې حقیقت درلود اوس هم حقیقت لري او په راتلونکي کې به ممکن حقیقت ولري.

**Diagram:**




**Note**: Genral fact is a fact which is clear for all.

**نوټ:** کلي حقیقت هغه حقیقت دی چې د ټولو(شیانو) لپاره واضح او ښکاره وي.

- **Genral facts are of two kinds: کلي حقیقتونه په دوه ډوله دي**

**a) Changeable genral facs. تغیر خوړونکي کلي حقیقتونه**

Ex: I hve a lot of friends. مثال: زه ډېر ملگري لرم.

Ex: My car is new. مثال: زما موټر نوی دی.

۱) په لومړي مثال کې (زه ډېر ملگري لرم) خو دا ملگري ممکن د وخت په تېرېدو سره کم شي. (تغیر خوري).

۲) په دوهم مثال کې (زما موټر نوی دی) خو دا موټر د وخت په تېرېدو سره ممکن زوړ شي. ( تغیرخوري).

**b) Unchangeable genral facts. تغیر نه خوړونکي کلي حقیقتونه**

Ex: The earth moves around the sun. مثال: ځمکه د لمر په شاوخوا گرځي.

Ex: Allah (ج) is one. مثال: الله(ج) یو دی.

Ex: Ali is a man. مثال: علي یو سړي دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشـي خوړلاي. (تغير ۱) په لومړي مثال کې(ځمکه د لمر په شاوخوا ګـرځي) يعـنې د ځمکې ګرځېدل د لمر په شاوخوا تغـير نه خوري).


۲) په دوهم مثال کې (الله(ج) يو دی) يعنې د الله (ج) يووالی هيڅکله تغير نشي خوړلاي. (تغير نه خوري).

۳) په دريم مثال کې (علي يو سړي دي) نو علي هېڅکله تغير نشي خوړلاي يعنې همېشه به سړي وي خو ښځه کېداي نشي. ( تغير نه خوړونکي دی).

**3) Usage :** Simple present tense is can be used for a planned fut- ure action, and series of actions or a future event that is a part of a fixed timetable or fixed program (scheduled future).

**۳) استعمـال:** حال سـاده زمانه د (نـږدې) راتلونکـي پلان شـوی عمل لپاره (چـې حتماً واقـع کېـږي)، او د پرله پسـې اعمالو يا راتلوونکـې حادثه چې د ثابت تقـسيم اوقات يا پروګرام يـو شکل ده استعمالېداي شي.

**Diagram:**




Ex: The president visit Pakistan next Friday.

مثال: ولسمشر راتلوونکې جمعه له پاکستان څخه لېدنه کوي.

Ex: I go to Kandahar tomorrow.

مثال: زه سبا کندهار ته ځم.

Ex: Azat leave Kabul at 10:00 AM next Sunday.

مثال: عـزت راتلوونکې يکشنبه د سهار په ۱۰ بجو کابل پرېـږدي.

**4) Usage:** Simple present tense is also used in the newspaper head- lines to show past, present and future actions or states.

**۴) استعمال:**همدارنګه حال ساده زمانه د اخبار په عنوانو کې استعمالېـږي ترڅو، تېر، حال، او راتلوونکي عملونه يا حالتونه بيان کړي.

**a)** When simple form of the verb is used in newspaper, shows a past action or state.

کله چې د فعل ساده شکل په اخبار کې استعمال شي، تېر عمل يا حالت ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: NATIONAL ARMY WITHDRAWS.

مثال: د ملي اردو لښکر په شا تګ کوي.(د ملي اردو لښکر عقب نشيني وکړه).

Ex: PEACE TALKS FAIL.

مثال: د سولې خبري ناکامه کېږي.( ناکامه شوې)

**b)** When (Verb + ing) is used, shows a present action.

کله چې فعل د ( ing) سره استعمال شي يو حاضر عمل(کار) ښيي.

Ex: THE PEOPLE ELECT<u>ING</u> THE PRESIDENT.

مثال: خلک ولسمشر انتخابوي. (حاضر وخت).

**c)** When (To + verb) infinitive is used , shows a future action or state.

کله چې د (To +verb ) مصدر په شکل استعمال شي راتلونکي عمل يا حالت ښيي.


Ex: THE MINISTER <u>TO RESIGN</u> FROM HIS POST.

مثال: وزير له خپله پوسته څخه استعفاء کوی. (وزير به له خپله پوسته استعفاء وکړي).

**5) Usage :** Simple present tense is also used to introduce a quota- tion, narration and a historical event in the past time.

**۵) استعمال:** همدارنګه حال ساده زمانه په تېر وخت کې د قول، داستان او يوې تاريخي پېښې د معرفي کولو او بيانولو لپاره استعمالېږي.

**Diagram:**




Ex: Hazrat Ali (رض) says: " One who teaches me a word, is my master".

مثال: حضرت علي (رض) وفرمايل: چا چې ماته يوه کلمه را زده کړه، زما استاد دی.

Ex: At this time Ahmad Shah Ba Ba leads his troops over Kandahar.

مثال: په دې وخت کې احمدشاه بابا خپلې قواوې د کندهار له لوري رهبري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**6) Usage:** Simple present tense is also used in the exclamatory sen- tences beginning with (here) and ( there).

سره شروع **٦) استعمال:** همدارنگه حال ساده زمانه په هغه ندايي جملو کې استعمالېږي چې په (here) او ( there )کېږي.

Ex: **Here** comes Massod! مثال: مسعود **دلته** راځي!

Ex: **There** stops the bus! مثال: **هلته** بس موټر درېږي!

**7) Usage:** Simple present tense is used to show nature of someth- ing.

**٧) استعمال**: حال ساده زمان د شي د طبعيت ښودلو لپاره استعمالېږي.

Ex: The lion eats raw meat. مثال: زمري خامه غوښه خوري.

Ex: The snake bites. مثال: مار چېچل کوي.

**8) Usage:** Simple present tense is used to show natural law.

**٨) استعمال:** حال ساده زمانه د طبعي قانون ښودلو لپاره پکار وړل کېږي.

Ex: The sun rises from the east. مثال: لمر له ختيځ څخه راخېژي.

Ex: Stars shine at night. مثال: ستوري په شپه کې ځلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Present continuous tense

# حال جاری زمانه

| Helping verbs of peresent continuous tense | د حال جاري زماني کومکي فعلونه |
|---|---|
| Is / Am /Are | Is / Am /Are |

**Structure (ساختمان)**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Subject + H.V + $V_1$- ing + Complement.**<br>**Ex: He is playing football.** **مثال: هغه د فوټبال د لوبي په حال کې دی.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **H.V + Subject + $V_1$- ing + Complement?**<br>Ex: Is He playing football? مثال:آیا هغه دفوټبال دلوبي په حال کې دی؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Subject + H.V + Not + $V_1$- ing + Complement.**<br>Ex: He is not playing football. مثال:هغه د فوټبال دلوبي په حال کې ندی. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **H.V +Subject + Not + $V_1$- ing + Complement -?**<br>Ex: Is He not playing football ? مثال:آیا هغه دفوټبال د لوبي په حال کې ندی؟<br>**H.V+'nt + Subject + $V_1$- ing + Complement -?**<br>Ex: Isn't He playing football ? مثال: آیا هغه د فوټبال دلوبي په حال کې ندی؟ |

**Note:** **H.V** is the short form of helping verb. **نوټ:** **H.V** د کومکي فعل لنډ شکل دی.

**Diagram:**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# Spelling Rules

# املايي قاعدې

## ❖ Rules of adding (ing) suffix at the end of verbs.

## د فعلونو په اخېر کې د (ing) وروستاړی اضافه کولو قاعدې.

1. Verbs enging in (ee) take (ing) without any change.

هغه فعلونه چې په (ee) ختم شوي وي (ing) بي له کوم تغير څخه اخلي.

**Ex: Agree – Agree<u>ing</u>.**

**Ex: Flee – Flee<u>ing</u>.**

2. Verbs ending in a single (e), drap last (e) and than add (ing).

هغه فعلونه چې په ساکنه (e) ختم شوي وي ،اخېره (e) حـذفــو او وروسته (ing) اضافه کوو.

**Ex: Take – Tak<u>ing</u>.**

**Ex: Write – Writ<u>ing</u>.**

**☞ Except of these verbs: په استـثـنا د دغه فعلونو**

- ✓ **Age – Ageing .**
- ✓ **Singe – Singeing.**
- ✓ **Dye – Dyeing.**

3. Verbs ending in (ie), change (ie) into (y) than add (ing).

هغه فعلونه چي په (ie) ختمېږي، (ie) په (y) تبدلېږي وروسته (ing) اضافه کېږي.

**Ex: D<u>ie</u> – Dying.**

**Ex: T<u>ie</u> – Tying.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4.** When a verb of one syllable has one vowel and end in single consonant, the last consonant is doubled befor adding (ing).

کله چې یو هجایي فعل یو غږ لرونکي توري ولري او په یو بې غږه توري ختم شي
(غږ لرونکي توري د بې غږه توری مخکي راغلي وي) د (ing) له اضافه کولو اخېري
بې غږه توری دوه چنده کېږي.

Ex: Stop – Stopp**ing.**

Ex: Run – Runn**ing.**

Ex: Hit – Hitt**ing.**

**5.** Verbs of two syllables or more than two if last syllable contains one vowel and end in a consonant , if the stress falls on the last syllable , the last consonant is doubled befor adding (ing).

هغه فعلونه چې دوه هجايي يا زيات وي، که چېري په اخېري هجاء کې یو غږ لرونکی توری شامل وي (د بې غږه توري
مخکي دوه چنده (ing)ور اضافه کوو. د مخه یو غږ لرونکی توري موجود وي) او فشار په اخېري له اضافه کولو څخه
هجاه باندي وي، اخېري بې غږه(توری) ing)کوو او وروسته

**Ex: Admit – Admitting.**

**Ex: Prefer – Preferring.**

**Ex: Begin – Beginning.**

**6.** Verbs ending in (C), an extra (K) is added befor adding (ing).

هغه فعلونه چې په (C) باندي ختمېږي د (ing) له اضافه کولو مخکي یوه (K) اضافه
کېږي. ( دغه هدايت يوازي د (C) د خپل غږ د ساتلو په غرض ده).

**Ex: Picnic – Picnicking.**

**Ex: Traffic – Trafficking.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



7. Verbs ending (Y) following a consonant or vowel take (ing) without any change.

هغه فعلونه چې په (Y) باندي ختمېږي که د بې غږه اویا غږ لرونکي توري په تعقیب
راغلی وی ( که مخکې له (Y) څخه بي غږه اویا غږ لرونکی توری راغلی وي) بې له کوم
تغیر څخه (ing) اختیاروي.

**Ex: Study – Study<u>ing</u>.**

**Ex: Play – Play<u>ing</u>.**

## Note: نوټ

In British System the final (L) is always doubled and than add (ing) .

په بریتانوی سیستم کې اخېري (L) همېشه دوه چنده کېږي او وروسته (ing) اضافه کېږي.

**Ex: Travel – Travelling.**

**Ex: Signal – Signalling.**

**Ex: Feel – Feelling.**

# Usages(د استعمال ځایونه)

1) **Usage:** Present continuous tense is used to express an activity that is happening at the moment of speaking.

۱) **استعمال:** حال جاري زمانه د هغه فعالیت د بیانولو لپاره استعمالېږي چې د خبرو په حالت کې واقع کېږي.


**Or:** Present continuous tense shows the duration of an action which is in progress at the moment of speaking.

**اویا:** حال جاري زمانه د هغه عمل موده ښیي چې د خبرو په حالت کې جریان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Diagram:**




## Note: نوټ

When present continuous tense is used in this way, it is usually followed by adverb of time, such as (now, right now, at the moment, at present) etc...`

همدا اوس، په دې کله چې حال جاري زمانه په دې طريقه استعمالېږي، معمولاً د وخت له قيدونو لکه (اوس، لحظه کې، په دې حاضر وخت کې) او نورو... سره يوځاي کېږي.

| now | **اوس** |
|---|---|
| right now | همدا اوس |
| at the moment | په دې لحظه کې |
| at present | په دې حاضر وخت کې |

Ex: I am working **right now**. — مثال: زه همدا اوس په کار کولو مشغول يم.

Ex: Nazeer is watching T.V **at present**. — مثال: نذير په دې حاضر وخت کې د تلويزون په لېدلو لگيا دی.

Ex: Samiullah is studing **now**. — مثال: سميع الله اوس په مطالعه کولو مشغول دی.

**2) Usage :** The present continuous tense is also used to show the duration of an action which is apparently going on ,but not necessarily at the moment of speaking.

**۲) استعمال:** همدارنگه حال جاري زمانه د هغه عمل ښودلو لپاره استعمالېږي چې ظاهراً د سرته رسېدو په حالت کې وي، مگر نه د خبرو په موقع کې.( د خبرو په موقع کي جريان ونلري).

Ex: Abdul Baqi is working in a company. — مثال: عبدالباقي په يوه کمپنۍ کې کار کوي.

Ex: Masihullah is teaching Pashto at school. — مثال: مسيح الله په ښوونځي کې پښتو تدريسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2) Usage:** The present continuous tense is used for the action that has already been arranged and to take place in the future.

**۳) استعمال:** حال جاري زمانه د هغه عمل لپاره استعمالېږي چې مخکې ترتیب شوي وي او په راتلوونکي واقع شي.

Diagram:




Ex: Abrahim is coming here tomorrow. — مثال: ابراهیم سبا دلته راځي.

Ex: He is leaving Kandahar next week. — مثال:هغه به راتلوونکي کندهار ترک کړي.

### ⇨ Note:نوټ

In this way the adverbs of future tense like: Tomorrow, To night , and etc… are used.

په دغه طریقه کې د راتـلوونکي زمـانې قیدونه لکه: (Tomorrow)، (To night) او نور… استعمالېږی.


Ex: I am going to Mazar **<u>to night</u>**. — مثال: زه **نن شپه** مزار ته ځم.

Ex: My brother is arriving **<u>tomorrow</u>**. — مثال: زما ورور **سبا** رارسېږي.

**3) Usage:** Present continuous tense is used with (always) to show a frequently action, usually when the repetition annoys the speaker or seems unreasonable.

**۴) استعمال:** حال جاري زمانه د (always) له قید سره د تکراري عمل لپاره چې د ویوونکي لپاره ناراحت کوونکي او غیر معقـول وي استعمالېږی.

**Diagram:**



(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: You are **always** coming late. مثال: تاسي همېشه ناوخته راځي.

Ex: He is **always** fighting at this time. مثال: هغه همېشه په دغه وخت کې جنګ کوي.

**4) Usage:** The present continuous tense can be used for an action which appears to be continuous.

**۵) استعمال:** حال جاري زمانه کولای شي د جاري عمل د ښکاره کولو لپاره استعمال شي.

Ex: Shabeer is **always** laughing. مثال: شبیر **همېشه** خاندي.

Ex: They are **always** working. مثال: هغوي **همېشه** کار کوي.

### ⇨ Note: نوټ

The present continuous tense is not used with out of control verbs.

These verbs are used in the simple present tense, followed by adverbs of present continuous tense.

حال جاري زمانه له غیر ارادي فعلونو سره نشي استعمالېدای. دغه فعلونه په ساده حال زمانه کې استعمالیږي، د حال جاري زماني له قیدونو سره یوځای کېږي.

| **Some of the out of control verbs ځیني غیر ارادي فعلونه** | | | |
|---|---|---|---|
| Know | پېژندل، پوهېدل | Cost | ارزش لرل |
| Understand | پوهېدل | Become | کېدل، واقع کېدل |
| Believe | باور لرل | Think | فکر کول |
| Feel | احساس کول | Have | لرل |
| Forget | هېرول | Has | لرل |
| See | لیدل | Love | مینه لرل |
| Hear | اورېدل | Like | خوښېدل |
| Smell | بویول | Wish | ارزو لرل، غوښتل |
| Appear | ښکاره کېدل، ظاهرېدل | Are | |
| Seem | په نظر راتلل، ظاهرېدل | Was | |
| Want | غوښتل | Were | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال

☞ I am smelling a flower now .(incorrect غلط).

☞ I smell a flower now. (correct صحیح).

⇨ **Note: نوټ**

In some cases most of the out of control verbs are commonly used as progressive verbs with difference in meaning.

په ځیني مواردو کې اکثریت غیر ارادي فعلونه عموماً د مانا په تغیر سره د جاري فعلونو په حیث استعمالېږی. ( ارادي جنبه ځانته غوره کوي).

Ex:I am think<u>ing</u> about this question. مثال: زه د دغه سوال په باره کې فکر کوم.

# Distributive pronouns

# توزیعي ضمیرونه

Distributive pronouns are used in the place of noun and indicate each person of a number of group.

توزیعي ضمیرونه هغه دي چې د نوم په ځاي استعمالېږي او د یو ګروپ په هر شخص (په فرد، فرد) باندي دلالت کوي.

- **Distributive pronouns consist in: توزیعي ضمیرونه عبارت دي له**

Every (هریو), either (دواړه)، either (هیڅ یو)، each(هر، هریو), none(هیڅ، هیڅ یو) , both(دواړه) , any(کوم ،هیڅ ، هر).

Ex: **Each** of you is present. مثال: **هریو** له تاسو څخه حاضر دی.

Ex: **Neither** of us is lazy. مثال: **هیڅ یو** له موږ څخه تنبل نه دی.

Ex: **Both** must come on time. مثال: **دواړه** باید په وخت راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Indefinite pronouns

# نامعین ضمیرونه

Indefinite pronouns are used instead of noun and denote some un- known person, place or thing.

نامعین ضمیرونه د اسم په ځای استعمالیږي او په نامعین شخص، مکان یا شي باندي دلالت کوي.

- **The Indefinite pronoun are consist in: نامعین ضمیرونه عبارت دي له**

| Indefinite pronouns | نامعین ضمیرونه |
|---|---|
| 1. **One** | یو، شخص |
| 2. **Few** | څو، لیږ |
| 3. **No** | هیڅ، نه |
| 4. **All** | ټول |
| 5. **None** | هیڅکله، هیڅ، نا |
| 6. **Somebody** | یو شخص، کوم شخص، کوم کس |
| 7. **Some one** | یو شخص، کوم یو، هغه یو |
| 8. **No one** | هیڅ یو، هیڅوک |
| 9. **Anybody** | هرشخص، کوم شخص، هرڅوک |
| 10. **Nobody** | هیڅوک، هیڅ شخص |
| 11. **Something** | څه شی، کوم شی، شی |
| 12. **Any thing** | هرشی، کوم شی |
| 13. **No thing** | هیڅ شی، بې ارزښته |
| 14. **Every one** | هریو |
| 15. **Every body** | هرشخص، هر سړی، هرتن |
| 16. **Every thing** | هرشی |
| 17. **Some** | یو تعداد، یوڅو، لږ، یوه اندازه |
| 18. **Any one** | هریو، هرڅوک، کوم یو |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| 19. **Any where** | هـرځای، کوم ځای، هـرچېرته |
| 20. **No where** | هیچېرته، هیڅ ځای |
| 21. **Every where** | هـرچېرته، هـرځای |
| 22. **Some where** | هـرځای، کـوم ځـای |
| 23. **Others** | نور |
| 24. **Any** | هـر، کوم ، ځیني ، یو تعداد |
| 25. **Many** | ډېـر، زیات |
| 26. **Much** | ډېـر، زیات |

Ex: I bought **<u>some thing</u>**. — مثال: ما **څه شی** واخیستل.

Ex: Did you see **<u>any body</u>**. — مثال: آیا ته **کوم شخص** ولید.

Ex: He told my **<u>every thing</u>**. — مثال: هغه ما ته **هر شی** وویل.

Ex: **<u>Any body</u>** can not speak English. — مثال: **هرڅوک** په انګلیسي خبري نه شي کولاي.

➤ **"Many"ډېـر:** "Many" usually used with plural countable nouns in positive statements, negative statements and in question sent-ences.

"Many" معمولاً له شمېـرونکي اسمـونو سره په مثبته بیانیه، منفي بیانیه او په سوالیه جملو کې استعمالیږي.

Ex: I have **<u>many</u>** friends. — مثال: زه ډېـر ملګري لرم.

Ex: I have not **<u>many</u>** brothers. — مثال: زه ډېـر ورونه نه لرم.

➤ **" Muchډېـر ":** "Much" is usually used with uncountable nouns in negtive statement and in question sentences, but rarely used in positive statement sentences.

"Much" معمولاً له غیر شمېرونکي اسمـونو سره په منفي بیانیه او سـوالیه جملو کې استعمالیږي، مګر په کم ډول په په مثبتو جملو کې استعمالېـږی.

Ex: He doesn't eat **<u>much</u>** rice. — مثال: هغه ډېـري وریڅي نه خوري.

Ex: Do you have **<u>much</u>** money? — مثال: آیا ته ډېـري پیسې لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ (<u>Some</u>): “<u>Some</u>” is used as follow:

**“<u>Some</u>” په لاندي ډول استعمالېږي:**

⇨ “**<u>Some</u>**” is usually used in affirmative sentences.

“**<u>Some</u>**” معمولاً په مثبتو جملو کي استعمالېږي.

Ex: Mustafa bought **some** cars last week.

مثال: مصطفي تېره اونۍ يو څو **<u>موټران</u>** واخيستل.

⇨ “**Some**” is also used for request in interrogative sentences.

“**Some**” همدارنګه په سوالي جملو کې د غوښتني (درخواست) لپاره استعمالېږي.

Ex: Do you have **<u>some</u>** coffee?

مثال: آيا ته لېږ قهوه لرې؟

⇨ “**Some**” is also used with countable and plural nouns.

“**Some**” همدارنګه د شمېرونکي او جمعي اسمونو لپاره استعمالېږی.

Ex: Majeedullah have <u>some</u> books.

مثال: مجيدالله يوڅو کتابونه لري.

⇨ “**Some**” is also used with uncountable and singular nouns.

“**Some**” همدارنګه له غېرشمېرونکو او مفرد اسمونو سره استعمالېږي.

Ex: Shafiq have **<u>some</u>** food.

مثال: شفيق **<u>يوه اندازه غذا</u>** لري.

## ➢ “Any” is used as follow: “Any”په لاندي ډول استعمالېږي:

⇨ “**Any**” is usually used in negative sentences.

“**Any**” معمولاً په منفي جملو کې استعمالېږي.

Ex: Arfan didn’t buy **<u>any</u>** thing.

مثال: عرفان **کوم** شی وانه خېستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇨ **"Any"** is used in interrogative sentences.

**"Any"** په سوالي جملو کې استعمالېږی.

Ex: Did you see **<u>any</u>** one here? مثال: آیا تا دلته **<u>کوم</u>** کس ولید؟

⇨ **"Any"** is used When the idea of the sentence is negative.

کله چې په جمله کې منفي نظر وي**"Any"** استعمالېږي.

Ex: Abdul Bari have not **<u>any</u>** mobile. مثال: عبدالباري هیڅ مبایل نلري.

**Note: "Reciprocal pronouns"** are used instead of nouns and talk about a mutual relationship.

**نوټ:** "**متقابل ضمیرونه"** د اسم په ځاي استعمالېږي او متقابل روابط بیانوي.

**Like:**

| | |
|---|---|
| **Each other** | **یو بل، یوبل سره، یوله بل سره** |
| **One another** | یوله بل، یو بل سره، یوله بل سره |

❖ **"Each other"** : is used to talk about two persons.

**"Each other"**: د دوو اشخاصو په باره کې خبري کولو(بحث کولو) لپاره استعمالېږي.

Ex: The boys hit **<u>each other</u>**. مثال: هلکان **یو بل سره** وهي.

❖ **"One another":** is used to talk about more than two persons or thing.

**"One another"** : د دوو څخه د زیاتو اشخاصو په باره دخبري کولو(بحث کولو) لپاره استعمالېږي.

Ex: All Muslims love with **<u>one another</u>**. مثال: ټول مسلمانان **یو له بل سره** مینه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Interrogative Pronouns

# پوښتـنيز(استفهامي) ضميرونه

Interrogative Pronouns are those which are used instead of noun and ask a question.

استفهامي ضميرونه هغه دي چې د اسم په ځای استعمالېږي او سوال پوښتي.

| Interrogative Pronouns | پوښتـنيز(استفهامي ضميرونه) |
|---|---|
| Who | **خوک، چا** |
| Whose | **د چا، دچا مال** |
| Which | **کوم، کوم يو** |
| What | **څه، څه شي** |
| Whom | **چاته چې، خوک چې، چاته** |

## ➢ "Who" خوک

"**Who**" is used when we ask about person or persons.

"**Who**" هغه وخت استعمالېږي کله چې موږ د شخص يا اشخاصو په باره کې پوښتنه کوو.

**Or:** "**Who**" is used only for people in subject and object case.

**اويا:** "**Who**" فقط د اشخاصو( خلکو) لپاره په فاعلي او مفعـولي حالت کې استعمالېـږي.

Ex: **<u>Who</u>** is this? — مثال: دغه **خوک** دی؟

Ex: **<u>Who</u>** did you see? (Object case) — مثال: تا **خوک** وليد؟ (مفعولي حالت).

Ex: **<u>Who</u>** is knocking the door? (Subject case) — مثال: **خوک** دروازه ټکوي؟ (فاعلي حالت).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ “Whose” د چا

“**Whose**” is used in possessive case of subject and object.

“**Whose**”د فاعـل او مفعـول په ملکي حالت کې استعمالېـږي.

**Or:** “**Whose**” is used to ask about possession.

**اویا:** “**Whose**” د ملکیت په باره کې د پوښتنه کولو لپاره استعمالېـږي.

Ex: **<u>Whose</u>** computer is this? (Subject).

مثال: دغه کمپیوټر **د چا** دی؟(فاعـل).

It's Muhammad.

هغه د محمد دی.

Ex: **<u>Whose</u>** car did you take? (Object).

مثال: تاسو **د چا** موټر اخیستي دی؟ (مفعـول).

Niamat's.

**د نعمت.**

## ➢ “Which”کوم، کوم یو

“**Which**” is used for person or thing, It implies selection.

“**Which**” د شخص او شي لپاره استعمالېـږي "چې" په انتخاب باندې دلالت کوي.
(د یو شی او شخص په انتخاب باندي دلالت کوي).

Ex: **<u>Which</u>** class are you in?

مثال: تاسي په **کوم** ټولګي کې یاست؟

I am in 12th class.

زه په دولسم ټولګي کې یم.

Ex: **Which** is your friend ?

مثال: **کوم یو**ستاسي ملګري دي؟

Esmail is my friend.

اسماعیل زما ملګری دی.

## ➢ “What” څه شی ،څه”

**“What”** is used for things in general sense.

**“What”** په عمومي مفهـوم د شیانو لپاره استعمالېـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: **What** is this? — مثال: دغه **څه شي** دی؟

It is a book. — هغه یو کتاب دی.

Ex: **What** your tribe name? — مثال: ستاسي د قبیلې نوم **څه شی** دی؟

My tribe name is Pashton. — زما د قبیلې نوم پښتون دی.

# Article
# (د تعریف توری)

Article is a word which is used with a noun or adjective to define or determine them.

د تعریف توری هغه کلمه ده چې له اسم او یا صفت سره (له اسم مخته)استعمالېږي او هغوی تعریفوي یا مشخصوي.

- **The articles is actually Demonstrative Adjective.**

**د تعریف توري په حقیقت اشاروي صفتونه دي.**

- **The articles are divided into two parts:**

**د تعـریف توري په دوو ډولونو وېشل شوي دي:**

1. Definite article. معین د تعریف توری
2. Indefinite article . غیر معین د تعریف توری

## 1. Definite article معین د تعـریف توری

An article which is used to refer to a particular person or thing is known as the definit article.

د تعریف هغه توری ده چې د مشخص شخص اویا شي د معین کولو لپاره استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



➢ There is only one definite article in English language which is **(The).**

په انگلیسي ژبه کي یوازي د تعریف یو معین توری ده چي **(The)** څخه عبارت ده.

- **"The"** is called the definite article , because it points out some particular person or thing.

**"The"** د تعریف معین توري دی، څکه چي مشخص شخص یا شي ته اشاره کوي.

❖ **The definite article (The) is used in the following ways:**

**د (The) د تعریف معین توري په لاندي طریقـو استعمالېږي:**

**1)** Is used befor untique things in nature in their kind.

د بې مثاله شیانو مخته چې په طبعیت کې په خپله نوع کې (بې مثاله) وي استعمالـېږي.

Ex: **<u>The</u>** sun. مثال: لمر.

Ex: **<u>The</u>** earth. مثال: ځمکه.

Ex: **<u>The</u>** sky. مثال: اسمان.

Ex: **<u>The</u>** moon. مثال: سپوږمی.

**2)** Is used befor common nouns in order to be determined.

د عامو اسمونو مخکي د هغو د مشخصولو لپاره استعمالـېږي.

Ex: **<u>The</u>** man. مثال: سړی.

Ex: **<u>The</u>** boy. مثال: هلک.

Ex: **<u>The</u>** car. مثال: موټر.

**3)** Is used befor ordinal numbers.

د وصفي(رتبه یي) اعدادو مخکي استعمالـېږي.

Ex: **<u>The</u>** first. مثال: لومړي.

Ex: **<u>The</u>** second. مثال: دوهم.

Ex: **<u>The</u>** $10^{th}$. مثال: لـسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4)** Is used before the superlative form of adjective.

د صفت دعالي شکل(عالي درجې) مخکي استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** cleverest. — مثال: ځیرک ترین.

Ex: **<u>The</u>** tallest. — مثال: دارزترین (لوړترین).

Ex: **<u>The</u>** most beautiful. — مثال: ډېر زیات ښکلی.

**5)** Is used befor double comparative form of an adjective.

د صفت د دوه ګون مقایسوي شکل(دوه ګون مقایسوي درجي) مخکي استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** more iron is beaten, <u>the</u> stronger it becomes.

مثال: اوسپنه چې زیاته ووهل کیږی، قوي تره ګرځي.( ټینګېږي).

**6)** Is used befor singular nouns representing the whole class.

د مفرد اسمونو مخکي چې د ټولي ډلي نمایندګي کوي استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** cow is a useful animal. — مثال: غوا یو ګټور حیوان دی.

**7)** Is used before names of rivers, seas, deserts, and mountains.

د نهرونو(سیندونو)، دریابونو، دښتو، او غرونو د نومونو مخکي استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** Amu River. — مثال: د آمو سیند.

Ex: **<u>The</u>** Ba Ba Mountain. — مثال: د بابا غر.

Ex: **<u>The</u>** Bagh Ater Desert. — مثال: د باغ عطر دښته.

**8)** Is used before directions nouns. — د سمتونو(طرفونو) له اسمونو مخکي استعمالېږی.

Ex: **<u>The</u>** north. — مثال: شمال.

Ex: **<u>The</u>** south. — مثال: جنوب.

Ex: **<u>The</u>** east. — مثال: ختیځ.

Ex: **<u>The</u>** west. — مثال: لوېدیځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**9)** Is used before names of news papers, magazine.

د ورځپاڼو(اخبارونو) او مجلو د نومونو مخکي استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** Kabul Times News paper . مثال: کابل ټایمز ورځپاڼه.

Ex: **<u>The</u>** Mursal. Magazine . مثال: مرسل مجله .

**10)** Is used befor the historical buildings and historical events.

د تاریخي ودانیو او حادثو څخه مخکي استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** Taj Mahal. مثال: تاج محل.

Ex: **<u>The</u>** Bala Hesar. مثال: بالا حصار.

Ex: **<u>The</u>** independence day. مثال: د آزادي ورځ.

**11)** Is used befor names of nationalities, tribes, sects and commun- ities.

د ملتونو، قومونو، مذهبونو او ټولنو د نومونو د مخه استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** Muslims. مثال: مسلمانان.

Ex: **<u>The</u>** Arab. مثال: عرب.

Ex: **<u>The</u>** Afghans. مثال: افغانان.

**12) "The"** is used when we talk about a particular person or thing.

**"The"** هغه وخت استعمالېږي کله چې موږ د مشخص شخص یا شي په باره کې خبري کوو.

Ex: Let's go to **<u>the</u>** park. (The park this town). مثال: څه چې پارک ته ځو.( د دغه ښار پارک).

**13)** Is used befor some proper nouns.

د ځینو خاصو اسمونو مخکي استعمالېږي.

Ex: **<u>The</u>** Afghanistan people. مثال: د افغانستان خلک.

Ex: **<u>The</u>** Suez Canal. مثال: د سویس کانال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نوټ**

**"The"** is the same for singular and plural and for all genders.

**"The"** د مفرد، جمع، او ټولو جنسـونو لپاره یوشان دی.

Ex:

| Singular noun مفرد اسم | | Plural noun جمع اسم | |
|---|---|---|---|
| **The book** | **کتاب** | The books | کتابونه |
| Male gender | مذکر جنسیت | **Female gender** | **مونث جنسیت** |
| **The boy** | **هلک** | The girl | نجلۍ |

❖ **Article (The) can not be used in the following ways:**

**د (The) تعـریف توري په لاندي طریقـو نشي استعمالېداي:**

**1)** "The" is can not be used befor proper noun.

"The" د خاصو اسمونو مخته نشي استعمالېداي.

Ex: The Ahmad. (incorrect غلط ). ✗ Ex: Ahmad. (correctصحیح). ✓

Ex: The Kabul. (incorrect غلط). ✗ Ex: Kabul. (correctصحیح). ✓

**2)** "The" is can not be used befor the months of the year.

"The" د کال د میاشتو مخکي نشي استعمالېداي.

Ex: The Jun. (incorrect غلط). ✗ Ex: Jun. (correctصحیح ). ✓

**3)** "The" is can not be used befor the days of the week.

"The" د د اونۍ د ورځو مخکي نشي استعمالېداي.

Ex: The Sunday. (incorrect غلط). ✗ Ex: Sunday. (correct صحیح ). ✓

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4)** "The" is also can not be used befor the languages.

"The" همدارنگه د ژبو څخه د مخه نشي استعمالېداي.

Ex: **The** Pashto. (incorrect غلط). ✗ Ex: Pashto. (correctصحيح ). ✓

**5)** "The" is also can not be used befor names of diseases.

"The"همدارنگه د نا روغـيو څخه د مخه نشي استعمالېداي.

Ex: **The** Malaria. (incorrect غلط). ✗ Ex: Malaria. (correct صحيح). ✓

## Indefinite Articles

## غير معين د تعريف توري

The indefinite articles is related to the number (One) used in the sense (Any one).

غير معين د تعريف توري په (يو) عـدد پوري مربوط دي "چې" د (هريو) په مفهـوم استعمالېـږي.

❖ **There are two indefinite articles in English language which are (a) and (an).**

**په انگليسي ژبه کې دوه نامعين د تعريف توري دي چې عبارت دي له (a) او (an) څخه.**

### ➢ Usages of (a). د (a) د استعمال ځايونه

- The form (a) is used before the words beginning with a conson- ant letter.

د (a) شكل د هغه كلمو څخه مخكي استعمالېـږي چې په يو بې غـږه توري شروع شوي وي.

Ex: **a** book

مثال: يو كتاب.

Ex: **a** cup.

مثال: يوه پياله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- When (U) give the sound of (U) at the beginning of the words (a) is used instead of (an).

کله چې (U) د کلیمې په سر کې د (یوو) غږ ورکړي د (an) په ځای ( a ) استعمالیږي.

Ex: **a** <u>u</u>niversity. مثال: یو پوهنتون.

Ex: **a** union. مثال: یو اتحاد.

- The form (<u>a</u>) can be sometimes used befor peoples names and it ind-icates some one stronger.

د (<u>a</u>) شکل ځیني وخت کولاي شي د اشخاصو د نومونو مخکي استعمال شي او په نا اشنا شخص باندې دلالت کوي

Ex: **<u>A</u>** Mr. Popal came here yesterday. مثال: د ښاغلي پوپل په نامه پرون دلته یو شخص راغلي و.

➢ The form (a) is used with certain words.(Numbers, half etc...).

د (a) شکل له ټاکلي کلمو سره استعمالیږي. ( عددونه، نیم اونور...).

Ex: **<u>a</u>** hundred.

Ex: **<u>a</u>** third.

Ex: **<u>a</u>** quarter. 1/4.

Ex: **<u>a</u>** half kilo.

- The form (<u>a</u>) is also used with words like (few, little, lot of etc...).

د (<u>a</u>) شکل همدارنگه لکه ( few, little, lot of اونورو... ) کلمو سره استعمالیږي.

Ex: **<u>a few</u>** people. مثال: یو تعداد خلگ.

Ex: **<u>a lot of</u>** things. مثال: ډیر خلگ.

Ex: **<u>a little</u>** milk. مثال: لیږي شیدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ❖ Usages of (an). د(an) د استعمال ځایونه

- The form (an) is used before words beginning with a vowel letter.

د (an) شکل د هغه کلمو څخه مخکي استعمالېږي چې په يو غږ لرونکی توري شروع شوی وی.

Ex: **an** orange. مثال: يو نارنج.

Ex: an egg. مثال: يوه هگی.

- When the words start with a silent (H) and are pronounced like a vowel sound, we use article (an).

کله چې کليمي (H) شروع شوي وي او د غږ لرونکي په څېر تلفظ شي موږ د (an) د تعريف توری استعمالوو.

Ex: an **h**our. (an our). — **h**: Silent بې غږه

Ex: an **h**onest man. ( an onest man). — **h**: Silent بې غږه

**Note: نوټ**

Article (**a**) and (**an**) are not used before plural and uncountable nouns.

د (**a**) او (**an**) د تعريف توري د جمع او غير شمېرونکي اسمونو مخکي نه استعمالېږي.

Ex: **a** books. (incorrect غلط).

Ex: **a** water. ( incorrect غلط).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Simple past tense
# تـېـره ساده زمـانـه(مطلقه ماضي)

| Helping verb of simple past tense | د تېرې ساده زماني کومکي فعـل |
|---|---|
| **Did** | **Did** |

**Structure:** ساختمان


| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Subject + $V_2$ + Complement.<br>**Ex: Asif played Cricket.** **مثال: آصف د کريکيټ لوبه وکړه.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **Did + Subject + $V_1$ + Complement?**<br>Ex: Did Asif play Cricket? مثال:آيا آصف د کريکيټ لوبه وکړه؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Subject + Did + Not / Didn't + $V_1$ + Complement.**<br>Ex: Asif did not /Didn't play Cricket. مثال: آصف د کريکيټ لوبه ونه کړه. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **Did +Subject + Not + $V_1$ + Complement -?**<br>Ex: Did Asif not play cricket ? مثال:آيا آصف د کريکيټ لوبه ونه کړه؟<br>**Didn't + Subject + $V_1$ + Complement -?**<br>Ex: Didn't Asif play Cricket ? مثال: آيا آصف د کريکيټ لوبه ونه کړه؟ |

## Usages د استعمال ځايونه

1. **Usage:** Simple past tense is used to show an action which started and finished at some exact time in the past.

**۱. استعمال:** تېره ساده زمانه د هغه عمل د ښودلو لپاره استعمالېږي چې په تېر معين وخت کې شروع او ختم شوي وي.

**Diagram:**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note**: When simple past tense is used in this way, it usually follo-wed by adverbs of time like: (yesterday, last week, last month, last year, ago, last night ) etc...

**نوټ:** کله چې تېره ساده زمانه په دغه طريقه استعمالېږي، معمولاً د وخت له قيدونو سره لکه: (تېره ورځ، تېره اونۍ، تېره مياشت، تېر کال، مخکې، تېره شپه ) اوله نورو... سره يو ځاي کېږي.

Ex: I wrote a letter **yesterday**.

مثال: ما ت**ېره ورځ** يو ليک وليکه.

Ex: He died **last year**.

مثال: هغه **تېر کال** وفات شو.

Ex: I saw him **last month**.

مثال: ما هغه **تېره مياشت** وليد.

**2. Usage:** Simple past tense is also used with always to show past habit etc...

**۲. استعمال:** همدارنگه تېره ساده زمانه د تېر عادت لپاره له always سره استعماليږي.

**Diagram:**




Ex: Khalid **<u>always</u>** talked about himself.

مثال: خالد **همېشه** له خپل ځان سره خبري کولي.

Ex: Haafiz Shabeer Ahmad **<u>always</u>** recited Quran.

مثال: حافظ شبير احمد **همېشه** قرآن تلاوت کاوه.

Ex: He was **<u>always</u>** busy.

مثال: هغه **همېشه** مشغول وو.

**3. Usage :** Simple past tense is also used in improbable conditional sentences.

**۳. استعمال:** همدارنگه تېره ساده زمانه په ناممکن شرطيه جملو کې استعمالېږي.

Ex: If I studied hard, I could pass the exam.

مثال: که چېري ما پراخه مطالعه کړې وای، په امتحان کې کامیابېدلم.

**4. Usage:** Simple past tense is also used to ask about a past action.

**۴. استعمال:** همدارنگه تېره ساده زمانه د تېر شوي عمل د پوښتلو لپاره استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




Ex: Where were you yesterday? — مثال: تېره ورځ چېري وې؟

Ex: Who did meet you last week? — مثال: له تا سره تېره اوونۍ چا ملاقات وکړ؟

**5.Usage:** Simple Past tense is also used to show an action which starts and stops in the past, in this way it is usually followed by expression of time like: "for two years", "for five minutes", "all day" or "all year" etc...

**۵. استعمال:** همدارنگه تېره ساده زمانه د هغه عمل لپاره استعمالېږي چې په تېر(وخت) کې شروع او پاي ته رسېدلي وي، په دغه طريقه کې معمولاً د وخت له اصطلاح سره لکه: " د دوو کلونو لپاره"، " د پنځو دقيقو لپاره"، "ټوله ورځ"، اويا "ټول کال" او د نورو... په واسطه تعقيبېږي.

**Diagram:**




Ex: I lived in Kabul **for two years**. — مثال: ما د **دوو کلونو راهيسي** په کابل کې ژوند کړي دي.
(ما په کابل کې دوه کاله ژوند کړی دي).

Ex: Baseer sat at the beach all day. — مثال: بصير ټوله ورځ د ساحل په غاړه ناست وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Past continuous tense

# تـېـره جـاري زمـانـه

| | |
|---|---|
| Helping verbs of P.C tense | د تېري جاري زماني کومکي فعـلونه |
| Was / Were | **Was / Were** |

**Structure: ساختمان( جوړښت)**


| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Sub + Was /Were + V- ing + Comp.<br>**Ex: He was eating food.** مثال: هغه د غذاخوړلو په حال کې وو. |
| Question form<br>سواليه شکل | **Was /Were + Sub + V- ing + Comp?**<br>Ex: Was he eating food ? مثال:آيا هغه د غذا خوړلو په حال کې وو؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub +Was /Were + Not / Wasn't/Weren't +V- ing + Com.**<br>Ex: He was not/wasn't eating food. مثال: هغه به د غذا خوړلو په حال کې نه وي. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **Was/Were +Sub + Not + V- ing + Comp -?**<br>Ex: Was he not eating food ? مثال:آيا هغه د غذا خوړلو په حال کې نه وو؟<br>**Wasn't/Weren't + Sub + V- ing + Comp -?**<br>Ex: Wasn't he eating food ? مثال:آيا هغه د غذا خوړلو په حال کې نه وو؟ |

## Usages د استعمال ځايونه

**1) Usage:** Past continuous tense is used to shows an action which was going on at some exact time in the past.

**۱) استعمال:** تېره جاري زمانه د هغه عمل د ښکاره کولو لپاره استعمالېږي چې په تېر معين وخت کې د جريان په حال کې وي.

**Diagram:**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note:** In this usage it is usually used with a (When) and (While) clause.

**نــوټ:** په دغه استعمال کي معمولاً د (When) او (While) له يوې قضيې سره استعمالېږي.

Ex: I was swimming in the pool yesterday morning.

مثال: ما تېره ورځ سهار په حوض کي لامبو وهله.

Ex: They were playing volleyball **when** I called them.

مثال: **کله چې** ما زنګ وواهه دوي د والیبال په لوبه مشغول وو.

Ex: **While** I was studying he knocked the door.

مثال: **هغه وخت چې** زه په مطالعه مشغول وم هغه دروازه وټکوله.

2) **Usage:** Past continuous tense is also used without a time expression to indicate gradual development .

**۲) استـعـمـال:** هـمـدارنگـه تېـره جاري زمانه بې د وخت له اصطلاح څخه د تـدرېـجـي پرمختګ د ښودلو لپاره استعـمالېـږي.

Ex: The weather was getting colder.

مثال: هوا د یخېدو په حال کې وه.

Ex: It was getting darker.

مثال: هغه د تاریکېدو په حال کې و.

3) **Usage:** Past continuous tense is used with (always) to show a persistent habit in the past.

**۳) استـعـمـال:** تېـره جـاري زمـانـه له (always) سـره استعـمالیـږي، چې په تېـره کې يـو مکـرر عادت ښکاره کوي.

Ex: He was **always** making noise in the class.

مثال: هغه **همېشه** په ټولګی کې غالـمغال جوړاوو.

Ex: Abdul Hadi and Ahsan were **always** studying together.

مثال: عبدالهادي او احسان **همېشه** یو ځای مطالعه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4) Usage:** Past continuous tense is also used to show an unfulfilled dec-ision in the past.

**۴) استعمال:** همدارنگه تېره جاري زمانه په ماضي کې د سرته نه رسېدلي تصميم لپاره استعمالېږي.

Ex: I was going to call you, but I didn't have your number.

مثال: ما تا ته زنگ واهه، مگر ستا نمبر مي نه درلود.

## Regular and Irregular verbs

## با قاعده او بې قاعده فعلونه

### 1) Regular verbs با قاعده فعلونه

The regular verbs are those which form their past and past participle by taking (d) or (ed) at the end of the simple form.

با قاعده فعلونه هغه دي چې تېر حالت(دوهم حالت) او دريم حالت يې د ساده شکل (اولي حالت) په پای کې د (d) او يا (ed) په اخېستلو جوړېږي.

**Ex:** **مثال:**

| Simple form ساده شکل(اولي حالت) | Past form تېر حالت (دوهم حالت) | Third form دريم حالت |
|---|---|---|
| **Talk** | Talk<u>**ed**</u> | Talk<u>**ed**</u> |
| **Agree** | Agree<u>**d**</u> | Agree<u>**d**</u> |
| **Like** | Like<u>**d**</u> | Like<u>**d**</u> |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Rules of adding (d) or (ed)

# د (d) اویا (ed)عـلاوه کولو قاعدې

**1)** Verbs ending in (e) or (ee) take only (d) in the end.

هغه فعـلونه چې په (e) اویا (ee) ختم وي په اخیر کې یوازې (d) اختیاروي.

| Simple form(ساده شکل(اولي حالت | Past form (تېر حالت (دوهم حالت | Third formدریم حالت |
|---|---|---|
| **Encourage** | Encourage**d** | Encourage**d** |
| **Agree** | Agree**d** | Agree**d** |
| **Love** | Love**d** | Love**d** |

**2)** Verbs ending in (y) following a consonant , change (y) into (I) and than add (ed).

هغه فعلونه چې په (y) ختم وي او د یو بې غږه توري په تعقیب راغلي وي ( له (y) څخه د مخه یو بې غږه توری راغلي وي) (y) په (I) بدلېږي او وروسته (ed) علاوه کېږي.

**Ex:** **مثال:**

| **Simple form (ساده شکل(اولي حالت** | **Past form (تېـر حالت (دوهم حالت** | **Third formدریم حالت** |
|---|---|---|
| **Try** | Tri**ed** | Tri**ed** |
| **Carry** | Crri**ed** | Crri**ed** |
| **Marry** | Marri**ed** | Marri**ed** |

**3)** Verbs ending in (y) following a vowel add (ed) without any change.

څخه د (ed) هغه فعلونه چې په وراضافه کیږي.(y) ختم شوي وي او د غـږ لرونکي توري په تعقیب راغلي وي ( له(y)مخه غږ لرونکي توري راغلي وي) بې له کوم تغیر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال:

| Simple form(ساده شکل(اولي حالت) | Past form (تېر حالت (دوهم حالت) | Third formدريم حالت |
|---|---|---|
| **Pray** | **Pray<u>ed</u>** | **Pray<u>ed</u>** |
| **Play** | **Play<u>ed</u>** | **Play<u>ed</u>** |
| **Pay** | **Pay<u>ed</u>** | **Pay<u>ed</u>** |

**4)** One syllable regular verbs ending in a consonant and following a vowel, double the last consonant and than add (ed).

راغلی وي ( د بې غږه توري يو سېلابه با قاعده فعلونه چې په بې غږه توري ختم وي او د يو غږ لرونکي توري په تعقيب چنده کوو او وروسته (ed)مخکي يو غږ لرونکي توری راغلي وي) اخېري بې غږه توری دوه ورعلاوه کوو.

| Simple form (ساده شکل(اولي حالت) | Past form (تېر حالت (دوهم حالت) | Third form دريم حالت |
|---|---|---|
| **Stop** | Stopp**<u>ed</u>** | Stopp**<u>ed</u>** |
| **Drop** | Dropp**<u>ed</u>** | Dropp**<u>ed</u>** |
| **Dip** | Dipp**<u>ed</u>** | Dipp**<u>ed</u>** |

**Note: نوټ**

Verbs ending in (C) take an extra (K) befor adding (ed).

هغه فعلونه چې په (C) ختم وي د (ed) له زياتولو مخکي يوه (K غواړي.

Ex:

| Simple form (ساده شکل(اولي حالت) | Past form (تېر حالت (دوهم حالت) | Third form(دريم حالت) |
|---|---|---|
| **Picnic** | Picnick**<u>ed</u>** | Picnick**<u>ed</u>** |
| **Mimic** | Mimick**<u>ed</u>** | Mimick**<u>ed</u>** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Irregular verbs بې قاعده فعلونه

Irregular verbs are those which do not have any special rule for forming their past and third forms.

بې قاعده فعلونه هغه دي چې د تېر حالت (دوهم حالت) او دريم حالت لپاره کومه خاصه قاعده ونلري.

Ex: مثال:

| Simple form ساده شکل(اولي حالت) | Past form تېر حالت (دوهم حالت) | Third form(دريم حالت) |
|---|---|---|
| **Rid** | Rid | Rid |
| **See** | Saw | Seen |
| **Ring** | Rung | Rung |
| **Say** | Said | Said |
| **Write** | Wrote | Written |

# Emphasizing pronouns

# تاکيدي ضميرونه

Emphasizing pronouns are those pronoun which are used instead of noun and emphasize on performing of an action.

تاکېدي ضميرونه هغه دي چې د اسم په ځای استعمالېږي او د عمل په سرته رسولو تاکيد کوي.

**Emphasizing pronouns consist is: تاکيدي ضميرونه عبارت دي له**

| Emphasizing pronouns | تاکېدي ضميرونه |
|---|---|
| **My self** | ما په خپله، زه په خپله |
| **Yourself** | ته په خپله، تاسي پخپله |
| **Himself** | هغه(مذکر) په خپله |
| **Herself** | هغه(مونث) په خپله، هغې پخپله |
| **Itself** | هغه(بېجان) پخپله |
| **Ourselves** | موږ په خپله |
| **Yourselves** | تاسي په خپله |
| **Themselves** | هغوی په خپله ، دوي په خپله |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: I **myself** saw him in Kandahar — مثال: ما په خپله هغه په کندهار کې ولید.

Ex: She **herself** broke the glass. — مثال: هغې په خپله گلاس مات کړ.

## Note نوټ:

1. Emphasizing pronouns can be placed after object in the sentence it there is one object.

   تاکیدي ضمیرونه کولای شي له مفعول څخه وروسته استعمال شي په هغه صورت کې چې په جمله کې یو مفعول موجود وي.

Ex: Aziz opened the door **himself**. — مثال: عزیز **پخپله** دروازه خلاصه کړه.

2. Emphasizing pronouns after an intransitive verb.

   تاکیدی ضمیرونه له لازمي فعل څخه وروسته استعمالېږي.

   Ex: Haseeb told **himself** me the fact. — مثال: حسیب ماته **پخپله** حقیقت ووایه.

   intransitive verb لازمي فعل

3. When the emphasizing pronoun used with preposition (by) it mean by my own self.

   هغه وخت چې تاکېدي ضمیرونه د (by) له اضافی توري سره استعمال شي، په تنهايي

   ( بې دنورو له کومک څخه) مانا ورکوي.

Ex: I did every thing by **myself**. (without any body is help).

مثال: ما هر شی **په تنهايي** سره سرته ورسول. (بې د کوم شخص له مرستې څخه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Reflexive pronoun

# انعکاسـي ضمـیـرونه

Reflexive pronoun are used instead of nouns and show that the subject and object of the sentence is the same, that is to say, the action reflects from subject to object and from object to subject.

انعکاسي ضمیرونه د اسم په ځای استعمالېږي او ښیي چې د جملې فاعل او مفعول یو دی، یعنې دا چې عمل له فاعل څخه مفعول ته او له مفعول څخه فاعل ته انعکاس کوي.

**Reflexive pronouns are as follow: انعکاسي ضمیرونه په لاندي ډول دي**

| Reflexive pronouns | انعکاسي ضمیرونه |
|---|---|
| **My self** | ما پخپله، زه پخپله |
| **Yourself** | ته پخپله، تاسي پخپله |
| **Himself** | هغه(مذکر) پخپله |
| **Herself** | هغه(مونث) پخپله، هغې پخپله |
| **Itself** | هغه(بېجان) پخپله |
| **Ourselves** | موږ پخپله |
| **Yourselves** | تاسي پخپله |
| **Themselves** | هغوی پخپله، دوی پخپله |

Ex: He will depended **<u>himself</u>**. مثال: هغه به په خپله دفاع وکړي.

Ex: She was pass in the exam **<u>herself</u>**. مثال: هغه(مونث) پخپله په ازموینه کې بریالی شوه.

# Relative pronouns

# ربـطـي ضمـیـرونه

The relative pronouns are used instead of nouns and join two sentences.

ربطي ضمیرونه د اسمونو په ځای استعمالېږي او دوه جملې سره نښلوي(ارتباط ورکوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **These pronouns consist in: دغه ضمیرونه عبارت دي له**

| Relative pronouns | ربطي ضمیرونه |
|---|---|
| **Who** | څوک چې |
| **Whom** | چاته چې، کوم ته چې، چا چې |
| **Whose** | له چا څخه چې |
| **Of which** | له څه شی چې |
| **What** | څه شی چې |
| **That** | چې |
| **Which** | هغه شی چې، کوم شی چې، هغه چې، چې |

Ex: That is the car **which** I bought yesterday. مثال: هغه موټر دی چې ما تېره ورځ واخیست.

## Note: نوټ

➢ **"Who" څوک چې:**

"**Who**" is used for people. "**Who**" د اشخاصو(خلګو) لپاره استعمالېږي.

➢ **"Whom" : چاته چې، کوم ته چې**

"**Whom**" is used instead of object for people.

"**Whom**" د اشخاصو(خلګو) لپاره د مفعول په ځاي استعمالېږي.

➢ **"Whose" له چا څخه چې**

"**Whose**" is used only for people and sometimes used for things without life.

"Whose" فقط د خلګو(اشخاصو) لپاره استعمالېږي او ځیني وخت د بېجانه شیانو لپاره استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



➢ **“Which” کوم چې، کوم شي چې، هغه چې**

“Which” is used for things and animals.

“Which” د شیانو اوحیواناتو لپاره استعمالېږي.

➢ **“ What” څه شی چې**

“ What” is only used for things.

“ What” فقط د شیانو لپاره استعمالېږی.

# Present perfect tense

## حال کامله زمانه (نږدې ماضي)

| Helping verbs of P.P tense | د حال کاملې زمانې کومکي فعلونه |
|---|---|
| Have / Has | **Have / Has** |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Sub + Have /Has + $V_3$ + Comp.<br>**Ex: Shabir has gone to Ghazni.** **مثال: شبیر غزني ته تللی دی.** |
| Question form<br>سوالیه شکل | **Have /Has + Sub + $V_3$ + Comp?**<br>Ex: Has Shabir gone to Ghazni? مثال: آیا شبیر غزني ته تللی دی؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Have/Has + Not +$V_3$ + Com .**<br>Ex: Shabir has not gone to Ghazni. مثال: شبیر غزني ته ندی تللی. |
| Negative interrogative form<br>منفي سوالیه شکل | **Have/Has +Sub + Not + $V_3$ + Comp -?**<br>Ex: Has Shabir not gone to Ghazni ? مثال: آیا شبیر غزني ته ندی تللی؟<br>**Haven’t/Hasn’t + Sub + $V_3$ + Comp -?**<br>Ex: Hasn’t Shabir gone to Ghazni ? مثال: آیا شبیر غزني ته ندی تللي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1) Usage:** Present perfect tense is used for those recent past actions which started and finished at some unknown time in the past.

**۱) استعمال:** حال کامله زمانه د هغه نږدې تېر شوي عملونو لپاره استعمالېږی چې په تېر نامعلوم وخت کې شروع او ختم شوي وي .

**Diagram:**




Ex: I have eaten food. ( time is unknown). مثال: ما ډوډۍ خوړلې ده. (وخت نامعلوم دی).

Ex: The students have traveled to India. (time is unknown).
مثال: محصیلینو هندوستان ته سفر کړی دی. ( وخت نامعلوم دي).

## Note: نوټ

When present perfect tense is used in this way usually followed by adverbs of time, like: already, recently, yet, so for, several times, before , lately etc...

کله چې حال کامله زمانه په دې طریقه استعمال شي معمولاً د وخت له قیدونو سره یوځای کېږي لکه: مخکې(پخوا)، اخیراً، تر اوسه، تر دې ځایه، څو ځله، مخکې، په دې ورستیو کې او داسي نور...

| | | | |
|---|---|---|---|
| **already** | **مخکې(پخوا)** | **recently** | **اخیراً، په پای کې، نږدې** |
| **yet** | تر اوسه | so for | تردې ځایه |
| **several times** | څو ځله | before | مخکې |
| **lately** | په دې ورستیو کې | | |

Ex: We have **already** finished the work. مثال: موږ **مخکې** کار ختم کړي دی.

Ex: I have not visited Paris **yet.** مثال: ما **تراوسه** پاریس ندی لیدلی.

Ex: Mohammad has gone to Kandahar **several times.** مثال: محمد **څو ځله** کندهار ته تللی دي.

**نوټ:** ذکر شوي قیدونه ځیني وخت له Have, Has څخه وروسته او ځیني وخت د جملې په اخېر کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2) Usage:** present perfect tense is used with (Just) to show a recently completed action. (to show immediate past action).

**۲) استعمال:** حال کامله زمانه له (Just) سره د يو نږدې تکميل شوي عمل ښودلو لپاره استعمالېږي. (نږدې تېرشوي عمل ښيي).

Ex: We have **<u>just</u>** finished the lesson. — مثال: موږ **ليږشېبه مخکي** درس ختم کړ.

Ex: He has **<u>just</u>** arrived from Kandahar. — مثال: هغه **ليږ شېبه مخکي** له کندهاره راورسېد.

**3) Usage:** Present perfect tense is used with (since) and (For) to show an action which started in the past and continued up to now.

**۳) استعمال:** حال کامله زمانه له (since) او (For) سره دهغه عمل ښودلو لپاره استعمالېږي چې په ماضي کې شروع شوي وي او تراوسه پوري ادامه لري.

Ex: The students have continued the lessons **<u>for</u>** ten months.

مثال: زده کوونکو د لسو مياشتو لپاره درسونو ته دوام ورکړي دی.

Ex: Sadat has lived in Kandahar city **<u>since</u>** 2008 AD.

مثال: سعادت د ۲۰۰۸م کال **را پدې خوا** د کندهار په ښار کې ژوند کړي دي.

**نوټ:** (For) د وخت موده ښيي او (Since) د وخت اوږدوالي ښيي.

**4) Usage:** Present perfect tense shows an action which happened in the past but the results or effects are still seen in the present time.

**۵) استعمال:** حال کامله زمانه هغه عمل ښيی چې په تېر وخت کې واقع شوی وي او نتايج او اثرات يې په حاضر وخت کې لېدل کېږي.

Ex: I have painted my room. — مثال: ما خپل اطاق رنگ کړی دی.(د رنگ اثرات تراوسه ليدل کيږي).

Ex: Ali has cut his finger. — مثال: علي خپله گوته پرې کړې ده.(اوس هم وينه جريان لري).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note:نوټ**

In present perfect tense the action it is self is very important than of the exact time, but in the simple past tense exact time is impo- rtant.

په حال کامله زمانه کې پخپله عمل (د عمل سرته رسیدل) له د قیق وخت څخه ډېر مهم دی مگر په ساده تېره زمانه کې د قیق وخت مهم دی.

Ex: I have seen Mustafa today. (at any time today). مثال: ما نن مصطفي لېدلي دي. ( نن په کوم وخت کې).

Ex: I saw Mustafa at nine o'clock today. (at an exact time).

مثال: ما نن په نهه بجو مصطفي ولید. ( په یو د قیق وخت کې).

**Note:** Present perfect tense and simple past tense are both used with adverbs of time like: ever, never, always, often, several times etc... but both tenses express the same idea in different periods of times.

حال کامله زمانه او تېره ساده زمانه دواړه د وخت له قیدونو سره استعمالېږي لکه:هر(هرکله)، هیڅکله، همېشه، اکثراً، ، څوځله اوداسي نور... مگر دواړه زماني یوشان مفکوره د وخت په مختلفو دورو کې بیانوي.

**Ex:** **مثال:**

⇨ We lived in Kabul for three years. (past but now).

ما دري کاله په کابل کې ژوند وکړ. (پخوا مگر اوس نه).

⇨ We have lived in Kabul for three years. (past and now).

ما درې کاله په کابل کې ژوند کړی دی. ( پخوا او اوس).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Present perfect continuous tense
# حال کامله جاري زمانه

| Helping verbs of P.P.C tense | د حال کاملې جارې زماني کومکي فعلونه |
|---|---|
| **Have been / Has been** | **Have been / Has been** |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Sub + Have /Has + been + $V_1$- ing + Comp.**<br>**Ex: I have been studing Pashto.** **مثال: زه د پښتو په مطالعه مشغول وم.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **Have /Has + Sub + been + $V_1$- ing + Comp?**<br>Ex: Have I been studying Pashto? مثال: آيا زه د پښتو په مطالعه مشغول وم؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Have/Has + Not + been + $V_1$- ing + Comp .**<br>Ex: I have not been studying Pashto. مثال: زه د پښتو په مطالعه مشغول نه وم. |
| Negative interrogative form منفي سواليه شکل | **Have/Has +Sub + Not + been + $V_1$- ing + Comp -?**<br>Ex: Have I not been studying Pashto? مثال: آيا زه د پښتو په مطالعه مشغول نه وم؟<br>**Haven't/Hasn't + Sub + been + $V_1$- ing + Comp -?**<br>Ex: Haven't I been studing Pashto? مثال: آيا زه د پښتو په مطالعه مشغول نه وم؟ |

**1) Usage:** Present perfect continuous tense is used for the actions which begin in the past , continued upto now is still continuing (may or may not go the future.

**۲) استعمال:** حال کامله جاري زمانه د هغو عملونو لپاره استعمالېږي چې په تېر وخت کې شروع شوي وي، تراوسه يې ادامه پيدا کړي (په دې حاضر وخت کې) به هم جريان ولري.( ممکن راتلونکي ته ادامه پيدا کړي يايي پيدا نکړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note** : Present perfect continuous tense is usually used with (since) and (For) to show the duration of an action.

**نـوټ:**حال کامله جاري زمانه معمولاً له (since) او (For) سـره استعمالېـږي چې د يو عمل موده ښکاره کوي.

Ex: Karrim has been swimming in the pool **since** four o'clock.

مثال: کريم له څلوروبجو **راهيسې** په حوض کي په لامبو وهـلو مشغـول وو.

Ex: Jamila has been washing the clothes **for** three hours.

مثال: جميله د دوو ساعتو لپاره د کالو په پرېمنځلو مشغـوله وه.

**2) Usage:** present perfect continuous tense is also shows the dura- tion of an action which has been going on continually a certain period of time.

**۲) استعمال:** همدارنګه حال کامله جارې زمانه د هغه عمل موده ښيي چې د وخت په يوه معينه دوره کې په جريان کي وي.

**Note**: The adverbs like: all day long, all this morning, all week, all night , etc… are used in this usage of present perfect continuous tense.

**نوټ:** قيدونه لکه : ټوله ورځ، نن ټول سهار، ټوله اوونۍ، ټوله شپه اوداسي نور... د حال کاملي جاري زمانې په دغه استعمال کې پکار وړل کېږي.

Ex: Abdul Hadi has been playing cricket **all this morning**.

مثال: عبدالهادي **نن ټول سهار** د کرکيټ لوبه کوله.

Ex: Basheer has been watching T.V **all day long**.

مثال: بشير **ټوله ورځ** تلويزون کوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**3) Usage:** Present perfect continuous tense is used to show empha- size on duration of an action which has been continually going on.

**۳) استعمال:** حال کامله جاري زمانه د هغه عمل د مودي د تاکید لپاره استعمالېږي چې بې ځنډه روان وي.

Ex: Masood has been calling his friend on and on.

مثال: مسعود بې له ځنډه خپل ملګري ته ټیلیفون کاوو.

**4) Usage:** Present perfect continuous tense is used to shows an action which has taken a special period of time in the past.

**۴) استعمال:** حال کامله جاري زمانه د هغه عمل د بیان لپاره استعمالېږي چې د وخت په یوه ټاکلي دوره کې په تېره (زمانه) کې ترسره شوي وي.

Ex: Fatullah has been working in a bank for the last years.

مثال: فتح الله تېر کلونه په بانک کې په کار بوخت وو.

Ex: Asmat has been studing the lesson in Kabul university for last years.

مثال: عصمت تېر کلونه د کابل په پوهنتون کې په درس بوخت وو.

# Verbs فعلونه

Verb is a word which shows an action, state, possession, presence or absence.

فعل هغه کلمه ده چې یو عمل، حالت(وضعیت)، ملکیت، موجودیت او نا موجودیت ښکاره کوي.

Ex: Sibghatullah is writing a letter. (action). — مثال: صبغت الله د لیک لیکلو په حال کې دي.(عمل).

Ex: Arghandab is a beautiful place .(state). — مثال: ارغنداب یو ښکلي ځاي دی.(حالت).

Ex: Sidiqullah has a car.(possession). — مثال: صدیق الله یو موټر لري. (ملکیت).

Ex: There is milk in the glass.(presence). — مثال: په ګیلاس کې شېدې دي.(موجودیت).

Ex: Karrim <u>is not</u> here. (absence). — مثال: کریم دلته نشته.(نا موجودیت).

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Kinds of verb د فعـل ډولـونه**

⇨ **Verbs divided into two parts: فعـلونه په دوه ډوله وېـشل شوي دي**

1. Auxiliary (Helping) verbs. کومکي فعـلونه.
2. Ordinary (main) verbs. معمولي فعـلونه.

## 2. Auxiliary (Helping) verbs. کومکي فعـلونه.

Auxiliary verbs are those which are used with main verbs, to support the meaning of the main verbs and to help main verbs to change their forms.

کومکـي فعـلونه هغه دي چې له اصلي فعـلونو سره استعمالېـږي، د اصلي فعـلونو مانا حمايه(تقويه) کوي اوله اصلي فعلونو سره کومک کوي چې د هغوي بنو ته تغير ورکړي.

Or: Auxiliary verbs are those which doesn't have particular meaning and is used for making changes in a sentence.

اويا: کومکي فعـلونه هغه دي چې مشخصه مانا نه لري او د يوې جملې د تغير راوستلو لپاره استعمالېـږی.

- **The auxiliary verbs consist in: کومکي فعـلونه عبارت دي له**

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **am** | **is** | **was** | **were** | **have** | **has** | **had** | **do** |
| **does** | **did** | **can** | **could** | **will** | **would** | **shall** | **should** |
| **may** | **might** | **ought to** | **must** | **need** | **used to** | | |

- **Auxiliary verbs are divided into three parts:کومکي فعـلونه په دري برخو وېشل شوي**

1) Principal auxiliary verbs. اصـلي کومکي فعـلونه.
2) Modal auxiliary verbs. نمونه يي(وجهي) کومکي فعـلونه.
3) Semi modal auxiliary verbs. نيمه نمونه يي(نيمه وجهي) فعـلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 1) Principal auxiliary verbs: اصــلي کومکي فعـلونه

The Principal auxiliary verbs are those which form the main part of auxiliary verbs.

اصلي کومکي فعلونه هغه دي چې د کومکي فعلونو اساسي برخه تشکیلوي.

| Principal auxiliary verbs اصلي کومکي فعـلونه | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **Is** | am | are | was | were | been | being |
| **have** | has | had | do | does | did | |

Ex: Shabeer **is** a moralist student. — مثال: شبیر یو اخلاقي زده کوونکی دی.

Ex: Khalid **was** a pilot. — مثال: خالد یو پیلوټ و.

Ex: I **am** a teacher. — مثال: زه یو ښوونکی یم.

➢ **Parts Principal auxiliary verbs د اصلي کومکي فعـلونو برخې**

| 1 | 2 | 3 |
|---|---|---|
| **To be verbs** | **To have verbs** | **To do verbs** |

# To Be verbs د وجود لرلو فعـلونه

(**To Be verbs**) are used to describe the condition of people, things, places, and ideas.

د وجود لرلو فعلونه هغه فعلونه دي چې د خلکو، شیانو، ځایونو، او نظریو، حالت بیانوي.

- **To Be verbs consist in:د وجود لرلو فعـلونه عبارت دي له**

| To Be verbs د وجود لرلو فعـلونه | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Is | **Are** | **Am** | **Was** | **Were** | **Be** | **Been** | **Being** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: He **is** a doctor. مثال: هغه یو ډاکټر دی.

Ex: I **am** a student. مثال: زه یو زده کوونکی یم.

Ex: He **was** a carpenter. مثال: هغه یو نجار و.

Ex: They **were** engeeners. مثال: هغوی انجنیران وو.

## To have verbs د لرلو فعلونه

(**To have verbs**) are those which are used to show possession or ownership in the sentences.

د لرلو فعلونه هغه دي چې په جمله کې د ملکیت یا مالکیت ښودلو لپاره استعمالېږي.

- **To have verbs consist in: د لرلو فعلونه عبارت دي له**

| **To have verbs د لرلو فعلونه** | | |
|---|---|---|
| Have | **Has** | **Had** |

Ex: You **have** three sons. مثال: ته درې زامن لرې.

Ex: He **has** a bicycle. مثال: هغه یو بایسکل لري.

Ex: They **had** a lot of books. مثال: هغوی ډېر کتابونه درلودل.

## To do verbs د سرته رسولو فعلونه

(**To do verbs**) are those which are used to show performing of an action in the sentence .

د (سرته رسول و فعلونه) هغه دي چې په جمله کې د یو عمل(کار) د سرته رسولو لپاره استعمالېږي.

- **To do verbs consist in: د سرته رسولو فعلونه عبارت دي له**

| To do verbs د سرته رسولو فعلونه | | |
|---|---|---|
| Do | **Does** | **Did** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: I **do** my homework every day. مثال: زه هـره ورځ خپله کورنۍ دنده سرته رسوم.

Ex: He **does** service every month. مثال: هغه هره میاشت خپله نوکری سرته رسوي.

Ex: I **did** my homework yesterday. مثال: ما تېـره ورځ خپله کورنۍ دنده سرته ورسوله.

# Simple future tense ساده راتلـوونکـې زمـانه

| Helping verbs of simple future tense | د ساده راتلوونکې زمانې کومکي فعـلونه |
|---|---|
| **Will / Shall** | **Will / Shall** |

**Structure 1: ۱: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form مثبت شکل | Sub + Will /Shall +$V_1$ + Comp.<br>Ex: Khalid will learn Arabic. مثال: خالد به عربي زده کړی. |
| Question form سوالیه شکل | **Will /Shall + Sub + $V_1$ + Comp?**<br>Ex: Will Khalid learn Arabic? مثال: آیا خالد به عربي زده کړي؟ |
| Negative form منفي شکل | **Sub + Will /Shall + Not +$V_1$ + Comp .**<br>Ex: Khalid will not learn Arabic. مثال: خالد به عربي زده نکړی. |
| Negative interrogative form منفي سوالیه شکل | **Will /Shall +Sub + Not + $V_1$ + Comp -?**<br>Ex: Will Khalid not learn Arabic? مثال: آیا خالد به عربي زده نکړی؟<br>**Won't/Shan't + Sub +$V_1$ + Comp -?**<br>Ex: Won't Khalid learn Arabic? مثال: آیا خالد به عربي زده نکړی؟ |

**Note:** (**Will not = Won't**) and (**Shall not = Shon't**)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Structure 2: ۲: ساختمان**


| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Sub + To be + going to +$V_1$ + Comp.<br>**Ex: Khalid is going to learn Arabic.** **مثال: خالد به عربي زده کړي.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **To be + Sub + going to + $V_1$ + Comp?**<br>Ex: Is Khalid going to learn Arabic? مثال: آيا خالد به عربي زده کړي؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + To be + Not + going to +$V_1$ + Comp.**<br>Ex: Khalid is not going to learn Arabic. مثال: خالد به عربي زده نکړي. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **To be + Not + Sub + going to + $V_1$ + Comp -?**<br>Ex: Is not Khalid going to learn Arabic? مثال: آيا خالد به عربي زده نکړي؟ |

**نوټ:** د (To be going to) فورمول نسبت لومړي فورمول ته ډېر عام دی.

1) **Usage:** Simple future tense is used to show an action which will take place at some exact time in the future.

۱) **استعمال:** ساده راتلونکې زمانه د هغه کار د بيان لپاره استعمالېږي چې په راتلونکي کې به رامنځ ته شي.

**Diagram:**




**Note:** Some advrbs like**:** tomorrow , next week , next year , next month etc… are used in this usage of simple future tense.

**نوټ:** ځيني قيدونه لکه**:** سبا، راتلونکي اونۍ، راتلونکی کال، راتلونکي مياشت او داسي نور... د ساده راتلونکې زمانې په دغه استعمال کې پکار وړل کېږي.

Ex: Haneef will go to Ghazni **tomorrow**. مثال: حنيف به **سبا** غـزني ته ولاړ شي.

Ex: I is going to meet him **next week**. مثال: زه به **راتلونکي اونۍ** له هغه سره ملاقات وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2) Usage:** Simple future tense is used to talk about things which we can not control; it expresses genral facts in the future.

**۲) استعمال:** راتلوونکې ساده زمانه د هغو شیانو په باره کې خبرې کوي چې زموږ په اختیار کې نه وي (یعنې) هغه حقیقتونه چې په راتلوونکي کې واقع کېږي.

Ex: Ahmad will go to in a week.

مثال: احمد به په یوه اونۍ کې ولاړ شي.

Ex:We will know the exam results in April

مثال: موږ ته به د امتحان نتېجې په اپریل کې معلومې شي.

**3) Usage:** Simple future tense is used in the sentences which contain conditional clauses.

**۳) استعمال:**ساده راتلوونکې زمانه په هغو جملو کې استعمالېږي چې شرطي قضیي په کې موجودي وي.

Ex: He will discuss with his father if he gets time.

مثال: که چېري هغه وخت پیدا کړي له خپل پلار سره به خبرې وکړي.

Ex: I will go to Kandahar if I buy a car.

مثال: که چېري زه موټر واخلم کندهار ته به ولاړ شم.

**4) Usage:** Simple future tense is also used to express condition or hesitation.

**۴) استعمال:**همدارنگه ساده راتلوونکې زمانه د شرط او یا شک او نه منلو د بیان لپاره استعمالېږي.

Ex: What will I do? at this time next year, I really surprised.

مثال: په رښتیا حیرانېږم چې راتلوونکی کال، به زه په دې وخت کې څه کار وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Future continuous tense
# راتلونکي جاري زمانه

| Helping verbs of F. C tense | د راتلونکي جاري زماني کومکي فعلونه |
|---|---|
| Will be / Shall be | **Will be / Shall be** |

**Structure 1: ۱ ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Sub + Will be /Shall be + $V_1$- ing + Comp.<br>**Ex: He will be playing now .** **مثال: هغه به اوس د لوبې په حال کې وی.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **Will /Shall + Sub + be + $V_1$- ing + Comp?**<br>Ex: Will he be playing now? مثال: آيا هغه به اوس د لوبې په حال کې وی؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Will /Shall + Not + be + $V_1$- ing + Comp .**<br>Ex: He will not be playing now. مثال: هغه به اوس د لوبې په حال کې نه وی. |
| Negative interrogative Form<br>منفي سواليه شکل | **Will /Shall +Sub + Not + be + $V_1$- ing + Comp -?**<br>Ex: Will he not be playing now? مثال: آيا هغه به اوس د لوبې په حال کې نه وی؟<br>**Won't/Shon't + Sub + be + $V_1$- ing + Comp -?**<br>Ex: Won't he be playing now? مثال: آيا هغه به اوس د لوبې په حال کې نه وی؟ |

**Structure 2: ۲ ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Sub + To be + going to + be + $V_1$- ing + Comp.<br>**Ex: He is going to be playing now.** **مثال: هغه به اوس د لوبي په حال کي وی.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **To be + Sub + going to + be + $V_1$- ing + Comp?**<br>Ex: Is he going to be playing now? مثال: آيا هغه به اوس د لوبي په حال کي وی؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + To be + Not + going to + be + $V_1$- ing + Comp .**<br>Ex: He is not going to be playing now. مثال: هغه به اوس د لوبي په حال کي نه وی. |
| Negative interrogative form منفي سواليه شکل | **To be + Not + Sub + going to + be + $V_1$- ing + Comp -?**<br>Ex: Is not I going to be playing now? مثال: آيا هغه به اوس د لوبي په حال کي نه وی؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1) Usage :** Future continuous tense is used to expresses the duration of an action which will be in progress at some exact time in the future.

**۱) استعمال:** راتلوونکې جاري زمانه د هغه عمل د بيان لپاره استعمالېږي چې په راتلوونکي کې به په يو ټاکلي وخت کې د جريان په حالت کې وی.

Ex: Shabeer will be cleaning the room tomorrow. مثال: شبير به سبا د کوټې په پاکولو مشغول وي.

Ex: Bilal will be fixing the picture on the wall.

مثال: بلال به په دېوال باندې د تصوير په ټکوهلو مشغول وي.

**2) Usage:** Future continuous tense is also used to show the duration of two actions that will be simultaneously going on.

**۲) استعمال:** همدارنګه راتلوونکې جاري زمانه د دوو عملونو د مودې د ښودلو لپاره استعمالېږي چې همزمان(په يو وخت کې) د جريان په حالت کې وی.

Ex: We will be doing our homework, while they will be working in the garden.

مثال: کله چې به هغوی په باغ کې په کار بوخت وي، زه به د کورنی کار په ترسره کولو بوخت يم.

**3) Usage:** future continuous tense is used to show an action which will be continuing in an exact course of time in the future.

**۲) استعمال:** راتلوونکې جاري زمانه د هغه عمل د بيان لپاره استعمالېږي چې د وخت په يوه ځانګړې موده کې به په راتلوونکي کې د جريان په حالت کې وي.

Ex: He will be getting ready for the exam all next week.

مثال: هغه به ټوله راتلوونکې اونۍ د امتحان لپاره ځان چمتو کوي.

Ex: Our classmates will be exercising for the races all next month.

مثال: زموږ ټولګيوال به ټوله راتلوونکې مياشت د مسابقې لپاره ځان چمتو کوي.

Ex: Amin will be typing the letters all afternoon .

مثال: امين به ټول ماسپښين په خط ليکلو بوخت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



4) **Usage:** The future continuous tense can be also used in the conditional sentences.

۴) **استعمال:** همدارنگه راتلوونکې جارې زمانه کولای شي په شرطیه جملو کې استعمال شي.

Ex: I am going to be meeting him at 5:00 PM if I do not face any problem.

مثال: که له مشکل سره مخامخ نشم د مازدیگر په ۵:۰۰ بجې به له هغه سره په مجلس مشغول یم.

## 2. Modal auxiliary verbs نمونه یي (وجهې) کومکي فعلونه

The modal auxiliary verbs are those which don't have any final (s) or (es) at the third singular person, they don't have any past participle and infinitive form therefore can't be used in the continuous form.

نمونه یي کومکي فعلونه هغه دي چې د درېیم شخص لپاره (s) اویا (es) نه غواړي دغه فعلونه درېیم حالت نه لري او همدارنگه د مصدر شکل هم نه لري له دې کبله یې په جارې شکل نشو استعمالولای.

- **The modal auxiliary verbs are consist in: نمونه یي کومکي فعلونه عبارت دي له**

| The modal auxiliary verbs نمونه یي کومکي فعلونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| Can | **Could** | **Shall** | **Should** | **Will** |
| Would | **May** | **Might** | **Must** | **Ought to** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ Can: کول، توانېدل

**"Can"** is modal auxiliary verb which shows ability.

**"Can"** یو نمونه یي کومکي فعل دي چې توانایي ښکاره کوي.

- Formula of **"Can"**: د **"Can"** فورمول:

| | |
|---|---|
| Subject + Can + $V_1$ + Object / Complement. | ساده حالت (+). |
| **Najeeb** <u>can</u> **speak Pashto.** | **نجیب په پښتو خبري کولای شي.** |
| Can + Subject + $V_1$ + Object / Complement? | سوالیه حالت(؟) |
| <u>Can</u> **Najeeb speak Pashto?** | **آیا نجیب په پښتو خبري کولای شي؟** |
| Subject + Can + not / Can't +$V_1$ + Object / Complement. | منفي حالت(-) |
| **Najeeb** <u>can not</u> / <u>can't</u> **speak Pashto.** | **نجیب په پښتو خبري نشي کولای.** |
| Can + Subject + not + $V_1$ + Object /Complement -? | منفي سوالیه شکل(-/؟) |
| <u>Can</u> **Najeeb not speak Pashto-?** | **آیا نجیب په پښتو خبري نشي کولای -؟** |
| Can't + Subject + $V_1$ + Object/ Complement -? | منفي سوالیه حالت(-/؟) |
| <u>Can't</u> **Najeeb speak Pashto -?** | **آیا نجیب په پښتو خبري نشي کولاي -؟** |

## ● Complement (تکمیل کوونکی)

Complement is a word or a group of words which completes the meaning of a sentences after verb.

تکمیل کوونکی یوه کلمه اویا گروپ د کلمو څخه عبارت دی چې د فعـل څخه وروسته د جملې مانا تکمیلوي.

Ex: I saw **<u>Aziz</u>** . مثال: ما **عزیز** ولید.

Ex: Salim seems **<u>happy</u>**. مثال: سلیم **خوشحاله** معلومېږي.

**Note**: Complement can be a noun, adjective, pronoun or a number.

**نوټ**: تکمیل کوونکی کېداي شي یو اسم، صفت، ضمیر اویا یو عدد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Note :نوټ

- **[ (Be) able to ] كول، توانايي لرل، توانېدل**

  **[ (Be) able to]** is possible to use instead of (Can), but (Can) is more usual.
  "**(Be) able to**" ممکن د (Can) په ځای استعمال شي، مگر (Can) ډېر معمول دي.

Ex: I am **able to** speak Arabic. — مثال: زه د عربي په خبري کولو قادر يم.

- " **Can**" has only two forms, "Can" is in the (present) and "Could" is used in the (Past) So sometimes it is necessary to use **(be) able to.**

  "Can" يوازي دوه حالته لري "Can" په ساده حالت کې استعمالېږي او "Could" يې په ماضي کې استعمالېږي نو په دې خاطر ځينې وخت ضرورت دي چې (Be) able to استعمال شي.

Ex: I will **be able to** win this match easily. — مثال: زه به توانايي ولرم چې دغه مسابقه په اسانۍ سره وگټم.

Ex: I was **able to** swim. — مثال: ما کولای شوای "چې" لامبو و وهم.

## ➢ " Could": كول، توانېدل

" Could" is a modal auxiliary verb which is used in the past form of can but it is used in the present, past and future tenses.

"Could" يو نمونه يي کومکي فعل دی چې د (Can) په ماضي شکل استعمالېږي. (تېره توانايي ښيي)، مگر په حال، ماضي او راتلونکي زمانو کې هم استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Formula of “Could”** **د ”Could“ فـورمول**

| | | |
|---|---|---|
| Subject + Could + $V_1$ + Object / Complement. | (+) | ساده حالت |
| **He <u>could</u> teach English.** | | **هغه کولای شوای انگلیسي تدریس کړي.** |
| Could + Subject + $V_1$ + Object / Complement? | (?) | سواليه حالت |
| **<u>Could</u> he teach English?** | | **آیا هغه کولای شوای انگلیسي تدریس کړي؟** |
| Subject + Could + not +$V_1$ + Object / Complement. | (-) | منفي حالت |
| **He <u>could</u> not teach English.** | | **هغه نشوای کولای انگلیسي تدریس کړي.** |
| Could + Subject + not + $V_1$+ Object/ Complement -? | (?/-) | منفي سواليه حالت |
| **<u>Could</u> he not teach English -?** | | **هغه نشوای کولای انگلیسي تدریس کړي -؟** |
| Couldn’t + Subject +$V_1$+ Object/ Complement -? | (?/-) | منفي سواليه حالت |
| **<u>Couldn’t</u> he teach English -/?** | | **آیا هغه نشواي کولای انگلیسي تدریس کړي-/؟** |

**Note:نوټ**

The verb “could” is may sometimes show a present probability.

د”**could**“ فعـل ځيني وخت کولاي شي يو احتمالي عمل په حال زمانه کې بيان کړي.

Ex: If I participate in the class every day, I could succeed in the exam.

مثال: که چېري په ټولگی کې هره ورځ شرکت وکړم، احتمالاً په امتحان کې کامیابېـږم .

## ➢ “May”: احتمالاً، شاید، امکان لرل

“**May**” shows a present probability. “**May**” يو حاضر احتمال ښکاره کوی.

Ex: If you open windo , you **may** catch cold.

مثال: که چېري تاسي کړکۍ خلاصه کړئ، **امکان لري** يخني مو وشي.

- When “May” is placed at the beginning of the sentence show permission and request.

کله چې ”May“ د جملې په سر کې راشي نو اجازه او غوښتنه بيانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: May I come in? (permission) — مثال: آیا داخل ته درتلای شم؟ (اجازه).

Ex: May Allah he succeed! (request). — مثال: خدای(ج) دې هغه کامیاب کړي! (غوښتنه).

Ex: May Allah save his evil eyes! (request). — مثال: خدای(ج) دې هغه له بدو سترګو وساتي!(غوښتنه).

Ex: May I have a glass of water. (request). — مثال: امکان لري یو ګیلاس اوبه راکړي.(غوښتنه).

## Note: نوټ

In some sentences "God" comes with "May" and in some doesn't come.

په ځینو جملو کې "God" له "May" سره راځي او په ځینو کې نه راځي.

**Formula of "may"** — **د "may" فورمول**

| | | |
|---|---|---|
| Subject + may + $V_1$ + Object / Complement. | (+) | ساده حالت |
| **He may go to home.** | | **هغه امکان لري کور ته تللی وي.** |
| May + Subject + $V_1$ + Object/Complement? | (?) | سوالیه حالت |
| **May he go to home?** | | **آیا امکان لري هغه کورته تللی وي؟** |
| Subject + may + not +$V_1$ + Object/Complement. | (-) | منفي حالت |
| **He may not go to home.** | | **هغه امکان لري کورته نه وي تللی.** |
| May + Subject + not + $V_1$ + Object/Complement -? | (?/-) | منفي سوالیه حالت |
| **May he not go to home -?** | | **آیا هغه امکان لري کور ته نه وي تللی -؟** |
| Mayn't + Subject + $V_1$ + Object/Complement -? | (?/-) | منفي سوالیه حالت |
| **Mayn't he go to home -?** | | **آیا هغه امکان لري کور ته نه وي تللي-؟** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ "Might": احتمالاً، شاید، امکان لرل

"Might" is used in the past form of (may) and in the indirect speech.

"Might" د (may) په تېر(ماضي) شکل کې او په غیر مستقیم کلام کې استعمالېږي.

Ex: It **<u>might</u>** rain in Kabul. مثال: په کابل کې **شاید** باران شوی وي.

Ex: He **<u>might</u>** have gone. مثال: هغه **شاید** تللی وی.

| | | |
|---|---|---|
| Subject + might + $V_1$ + Object / Complement.<br>**Ali <u>might</u> go to Ghazni.** | (+) | ساده حالت<br>**علي شاید غزني ته تللی وی.** |
| Might + Subject + $V_1$ + Object / Complement?<br>**<u>Might</u> Ali go to Ghazni?** | (?) | سوالیه حالت<br>**آیا علي شاید غزني ته تللی وی؟** |
| Subject + might + not +$V_1$ + Object / Complement.<br>**Ali <u>might</u> not go to Ghazni.** | (-) | منفي حالت<br>**علي شاید غزني ته نه وی تللی.** |
| Might + Subject + not + $V_1$ + Object / Complement -? | (?/-) | منفي سوالیه حالت |
| **<u>Might</u> Ali not go to Ghazni -?** | | **آیا علي شاید غزني ته نه وی تللی -؟** |
| Mightn't + Subject + $V_1$ + Object/ Complement -?<br>**<u>Mightn't</u> Ali go to Ghazni -?** | (?/-) | منفي سوالیه حالت<br>**آیا علي شاید غزني ته نه وی تللی -؟** |

- **Formula of "might"** **د "might" فورمول**

## ➢ "Must": ( حتماً) باید

"Must" is a modal auxiliary verb which shows strongest command or obligation.

"Must" یو نمونه یې کومکي فعل دي چې ډېر قوي امر اویا مجبوریت ښکاره کوي.

Ex: We **<u>must</u>** help the poor. مثال: موږ **باید** له فقیرانو سره مرسته وکړو.

Ex: Every Muslim **<u>must</u>** pray five time in a day مثال: هر مسلمان **باید** په ورځ کې پنځه وخته لمونځ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "Must" is also used to express a necessity.

"Must" د ضرورت بیانولو لپاره هم استعمالیږي.

Ex: He **must** work hard for promotion. مثال: هغه **باید** د پرمختګ لپاره زیار وکړي.

- "Must" is also used to express a fixed or strong determination.

"Must" د ټاکل شوي قوي تصمیم یا ارادي د څرګندولو لپاره هم استعمالیږي.

Ex: We **must** finish the work to day. مثال: موږ **باید** نن ورځ کار ختم کړو.

- "Must" is also used to express a probability.

"Must" د قوي احتمال لپاره هم استعمالیږي.

Ex: I think, she **must** be sick. مثال: زه فکر کوم هغه به**(حتماً)** ناروغ وي.

- **Formula of "must"** **د "must" فورمول**

| | |
|---|---|
| Subject + must + $V_1$ + Object / Complement. (+)<br>**He must go to school.** | ساده حالت<br>**هغه باید ښوونځي ته ولاړ شي.** |
| Must + Subject + $V_1$ + Object / Complement? (?)<br>**Must he go to school?** | سوالیه حالت<br>**آیا هغه باید ښوونځي ته ولاړ شي؟** |
| Subject + must + not +$V_1$ + Object/ Complement. (-)<br>**He must not go to school.** | منفي حالت<br>**هغه باید ښوونځي ته ولاړ نه شي.** |
| Must+Subject+not+$V_1$+Object /Complement -? (?/-)<br>**Must he not go to school -?** | منفي سوالیه حالت<br>**آیا هغه باید ښوونځي ته ولاړ نشي -؟** |
| Mustn't + Subject + $V_1$ + Object/ Complement -? (?/-)<br>**Mustn't he go to school -?** | منفي سوالیه حالت<br>**آیا هغه باید ښوونځي ته ولاړ نشي - ؟** |

**Note:** "**Mustn't**" is the contracted from of "Must not" the first "t" is silent, which is pronounced "**Mussant**".

**نوټ:**"Mustn't" د "Must not" اختصاري شکل دی، لومړنی "t" بې غږه ده، چې "Mussant" تلفظ کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نوټ۲:** په ماضي کي د "Must" په ځاي له "Had to" څخه کار اخېستل کېږي.

**نـوټ ۳:** "Must" اکثره هغه وخت استعمالېږي چې اجبار یا هدایت زموږ(متکلم) له خوا وي مګـر"Has to " هغه وخت استعمالېږي چې اجبار یا هدایت د خارجي عـواملـو له طرفه وي.

Ex: He **<u>had to</u>** go to the bazaar. مثال: هغه **باید** بازار ته تللی وای.

## ➢ "<u>Have to</u>", "<u>Has to</u>": بـایـد

You
We } **<u>Have to</u>**
They

Ex: We **<u>have to</u>** study for exam. مثال: موږ **باید** د امتحان لپاره مطالعه وکړو.

He
She } **<u>Has to</u>**
It

Ex: He **<u>has to</u>** work in this company. مثال: هغه **باید** په دغه کمپنۍ کې کار وکړي.

## ➢ <u>"Shall" / "Will": به</u>

"Shall" and "will" are modal auxiliary verbs which are used in the future tenses.

"Shall" او "will" نمونه يي کومکي فعلونه دي چې په راتلونکـو زمانو کې استعمالېږي.

Ex: I **<u>shall</u>** call him tomorrow. مثال: زه **به** سبا هغه ته زنګ ووهم.

Ex: He **<u>will</u>** play cricket. مثال: هغه **به** د کرکیټ لوبه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "Will" and "Shall" are used in the future tenses as helping verbs. "will" is usually used with the pronouns ( he, she, they, it, you, and singular or plural names). "shall" is usually used with "I" and "we".

"Will" او "Shall" د کومکي فعلونو په حیث په راتلونکو زمانو کې استعمالېږي.
"Will" معمولاً د (he, she, they, it, you) فعلونو او مفرد یا جمع اسمونو سره استعمالېږي. "shall" معمولاً له "I" او "we" سره استعمالېږي.

Ex: She **<u>will</u>** help his. — مثال: هغه (مونث) **به** له هغه سره مرسته وکړي.

Ex: They **<u>will</u>** come tomorrow. — مثال: هغوی **به** سبا ورځ راشي.

Ex: I **<u>shall</u>** play tomorrow. — مثال: زه **به** سبا لوبه وکړم.

**Note** : "Will" is more common but in interrogative sentences with "I" and "we" "Shall" is used.

**نــوټ:** "Will" ډېر معمول دی مگر په سوالیه جملو کې له "I" او "we" سره "Shall" استعمالیږي.

Ex: **<u>Will</u>** / **<u>Shall</u>** we help them today? — مثال: آیا موږ **به** نن له دوی سره کومک وکړو؟

Ex: **<u>Shall</u>** we meet them? — مثال: آیا موږ **به** نن له دوب سره ملاقات وکړو؟

## ➢ " Should": به، باید، ښایي

1. " Should" is used in the past form of "Shall".

" Should" د "Shall" په ماضي شکل استعمالېږي.

Ex: I **should** clean my room. — مثال: زه **باید** خپله کوټه پاکه کړم.

Ex: **Should** he swim in this river? — مثال: آیا هغه **باید** په نهر کې لامبو و وهي؟

2. " Should" is also used to express an obligation or duty.

" Should" د مجبوریت یا مسؤلیت څرگندولو لپاره هم استعمالېږي.

Ex: He **<u>should</u>** studied his lesson. — مثال: هغه **باید** خپل درسونه مطالعه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. " Should" is also used to express a probability.

" Should" د يو احتمال بيانولو لپاره هم استعمالېږي.

Ex: He **should** be in the class room now

مثال: هغه **به** اوس په ټولګي کې وي.

- **" Would": به ، باید، بنایي**

1. " Would" is used in the past form of "will" it can be used in the present, past and future.

" Would" د "will" په ماضي شکل استعمالېږي هغه کېدای شي په حال، ماضی، او په راتلونکي کې کې استعمال شي.

**Formula of "Would".** **د "Would" فـورمول**

| | |
|---|---|
| Subject + would + $V_1$ + Object/Complement. (+) | ساده حالت |
| **You <u>would</u> learn English.** | **تاسي به انګليسي زده کوله.** |
| Would + Subject + $V_1$ + Object/ Complement? (?) | سواليه حالت |
| **<u>Would</u> You learn English?** | **آيا تاسي به انګليسي زده کوله ؟** |
| Subject + would + not +$V_1$ + Object /Complement. (-) | منفي حالت |
| **You <u>would</u> not learn English.** | **تاسي به انګليسي نه زده کوله.** |
| Would + Subject + not + $V_1$ + Object/Complement -? | منفی سوالیه حالت (-/?) |
| **<u>Would</u> you not learn English - ?** | **آيا تاسي به انګليسي نه زده کوله - ؟** |
| Wouldn't + Subject + $V_1$ + Object/Complement -? | منفي سواليه حالت (-/?) |
| **<u>Wouldn't</u> you learn English-?** | **آيا تاسي به انګليسي نه زده کوله -؟** |

Ex: I **would** pass the exam, If I studied hard. مثال: زه کامیابېدلم که چېرې ما پراخه مطالعه کړي واي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- "**Would**" is usually combined with words (please) and (mind) to express a polite request.

"**Would**" معمولاً د (please) او (mind) له کلمو سره ترکیب کېږي مؤدبانه غوښتنه بیانوي.

Ex: **__Would__** you p__lease__ close the door ? — مثال: آیا مهرباني به وکړئ دروازه بنده کړئ؟

Ex: **__Would__** you __mind__ telling me the fact? — مثال: آیا مهرباني به وکړئ چې حقیقت راته و وایاست؟

Ex: **__Would__** you __mind__ ringing me? — مثال: آیا مهرباني به وکړئ ماته یو زنګ و وهئ؟

## Note :نوټ

(Please) is used with simple form of the verb but (mind) is used with (ing) form of the verb.

(Please) د فعل له ساده شکل سره استعمالېږي مګر(mind) د فعل له (ing) شکل سره استعمالېږي.

- [**__Would + like__**] is used to express a wish.

[**__Would + like__**] د هیلې (ارزو) د څرګندولو لپاره استعمالېږي.

Ex: I __would like__ to see you after. — مثال: زه غواړم وروسته له تا سره و وینم.

- [**__Wish + like__**] is used to express wish desire.

[**__Wish + like__**] د ارمان (افسوس) د څرګندولو لپاره استعمالېږي.

Ex: I **__wish__**! I __would__ pass the exam. — مثال: کاشکي! زه په امتحان کې کامیاب شوی وای.

Ex: He **__wishes__** ! He __would__ visit Kandahar. — مثال: کاشکي! هغه دوباره کندهار ته تللی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ "Ought to":باید

"Ought to" indicates a command or instruction.

"Ought to" امـــر یا هـــدایـت څـرګـندوي.

Ex: I **Ought to** tell him the fact.

مثال: زه **باید** هغه ته حقیقت ووایم.

Formula of **"Ought to"**

د **"Ought to"** فورمول

| | |
|---|---|
| Subject + Ought to + $V_1$ + Object / Complement. (+) | ساده حالت |
| **You ought to learn English!** | **تاسي باید انګلیسي زده کړئ!** |
| Ought + Subject + to + $V_1$ + Object / Complement? (?) | سوالیه حالت |
| **Ought You to learn English?** | **آیا تاسي باید انګلیسي زده کړئ؟** |
| Subject + Ought + not + to + $V_1$ + Object/ Complement. (-) | منفي حال (-) |
| **ou ought not to learn English!** | **تاسي باید انګلیسي زده نه کړئ!** |
| Ought + Subject + not + to + $V_1$ + Object/Complement -? | منفي سوالیه حالت (-/?) |
| **Ought you not to learn English ?** | **آیا ته باید انګلیسي زده نه کړئ ؟** |
| Oughtn't + Subject + $V_1$ + Object/ Complement -? (-/?) | منفی سوالیه حالت |
| **Oughtn't you learn English?** | **آیا ته باید انګلیسي زده نه کړئ؟** |

- "Ought to" express a weak necessity.

"Ought to" یو ضعیف ضرورت څرګندوي.

Ex: You **ought to** buy a car!

مثال: ته **باید** یو موټر واخلي!

Ex: Students **ought to** have a pen and notebook.

مثال: زده کوونکي **باید** قلم او کتابچه ولري.

Ex: He **ought** not **to** neglect in his duties.

مثال: هغه **باید** په خپلو وظایفو کې غفلت ونکړي.

**Note:** "Should" is more commonly than "Ought to".

"Should" له "Ought to" څخه ډېر معمول دی. ("Should" ډېر استعمالېږی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Semi modal auxiliary verbs

# نیمه نمونه يي کومکي فعلونه

There are three semi modal auxiliary verbs in English language which consist in: Need, Dare and Used to.

په انګلیسي ژبه کې درې نیمه نمونه يي کومکي فعلونه دي چې عبارت دي له: Dare, Need او Used to څخه.

| Semi modal auxiliary verbs نیمه نمونه يي کومکي فعلونه | | |
|---|---|---|
| **Need** | **Dare** | **Used to** |

## ➢ "Need": ضرورت لرل، احتیاج لرل، احتیاج

"Need" is used to show a necessity it sometimes works as a ordi -nary verb, sometimes as a modal auxiliary verb and sometimes a noun.

"Need" د ضرورت او حاجت د څرګندلو لپاره استعمالېږي هغه ځیني وخت د اصلي فعل په حیث، ځیني وخت د نمونه يي کومکي فعل په حیث او ځیني وخت د یو اسم په حیث کار کوي.

Ex: He **<u>need</u>** not go there. (auxiliary). — مثال: ضرورت نشته چې هغه هلته ولاړ شي.(کومکي).

Ex: I **<u>need</u>** a pen. (ordinary). — مثال: زه یوه قلم ته ضرورت لرم.(اصلي).

Ex: He is **<u>need</u>** of money. (noun). — مثال: هغه د پیسو محتاج دی. (اسم).

**نوټ:** کله چې د "Need" فعل په جمله کې یوازې اویا له مصدر سره یوځای استعمال شي اصلي فعل دي او کله چې په سوالیه یا منفي شکل استعمال شي بیا کومکي فعل دی او که ځیني وخت په مثبته جمله کې له بل فعل سره راشي نو د اسم په حیث کار کوي.

Ex: I **<u>need</u>** a pen to write.(ordinary). — مثال: زه د لیکلو لپاره یو قلم ته ضرورت لرم.(اصلي).

Ex: **<u>Need</u>** he come? (auxiliary). — مثال: آیا د هغه راتګ ضروری دی؟ (کومکي).

Ex: She is **<u>need</u>** of dress.(noun). — مثال: هغه د لباس محتاجه ده.(اسم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ "Dare": جرئت لرل

"Dare" is used to show courage and bravery.

"Dare" د جرئت او زړورتیا د څرګندولو لپاره استعمالېږي.

- "Dare" is also used as ordinary and auxiliary verbs.

"Dare" د اصلي او کومکي فعلونو په حیث هم استعمالېږي.

Ex: I **dare** till him the matter. (auxiliary).    مثال: زه په جرئت سره هغه ته موضوع وایم. (کومکي).

Ex: He **dare not** / **daren't** come in front of us. (auxiliary).

مثال: هغه جرئت نه لري (چې) زموږ مخته راشي. (کومکي).

Ex: She did not **dare** to talk me. (ordinary).

مثال: هغې جرئت ونه کړ (چې) له ما سره خبرې وکړي. (اصلي).

## ➢ " Used to": سابق، پخوا

A) When (used to) is followed by the simple form of the verb , means (before) and (ago).

کله چې (used to) د فعل له ساده شکل سره استعمال شي د (مخکې ) او (پخوا ) مانا ورکوي.

Ex: Amran **used to** work in a bank.    مثال: عمران **پخوا** په یوه بانک کې کار کاوو.

B) When (**used to**) used with (to be) verbs followed by the (**ing**) form means **habit.**

کله چې (**used to**) د ( **to be**) فعلونو له (**ing**) شکل سره استعمال شي، د **عادت** معنا ورکوي.

Ex: I am **used to** living in Kabul.    مثال: زه په کابل کې له ژوند کولو سره **عادت** یم.

Ex: He was **used to** playing cricket.    مثال: هغه د کرکیټ له لوبې سره **عادت** وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



C) { **Get + used to**} is also used to show habit.

{ Get + used to} همدارنگه د عادت د ځرګندولو لپاره استعمالېږي.

Ex: You will soon <u>get used to</u> living in the city.

مثال: ته به ژر په ښار کې د ژوند کولو سره <u>عادت</u> شي.

# Noun اســـــم

Noun is a word, which is used to name person, place, animal, and thing

اسم، هغه کلمه ده چې د شخص، مکان، حیوان او د شي نومولو لپاره استعمالېږي.

Ex: Obaid, Logar, Cow, Glass etc…

مثال: عبید، لوګر، غـوا، ګیلاس اونور...

- **Nouns according to physical existence touchable and seen are divided into two parts:**

- **اسمونه د فزیکي و جود د لمس د قابلیت او د لېدو په مطابق په دوو برخو وېشل شوي دي:**

1) **Concrete Nouns. د ذات اســمونه**
2) **Abstract Nouns. د مانا اســمونه**

## 1) Concrete Nouns: د ذات اسمونه

Concrete noun is a noun which has foreign or physical existence and we can usually touch it.

د ذات اسم هغه اسم دي چې خارجي یا فزیکي وجود ولري او موږ هغه معمولاً لمس کولای شو.

Ex: Stone, earth, house, door etc…

مثال: ډبره، ځمکه، کور، دروازه اوداسي نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Concrete nouns are divided into five parts:**

**د ذات اسمونه په پنځو برخو وېشل شوي دي:**

1. Proper noun خاص اسم
2. Common noun عام اسم
3. Collective noun د جمع اسم
4. Material noun د جنس اسم
5. Compound noun مرکب اسم

## 1. Proper Noun خاص اسم

Proper noun is the name of some proper person or place.

خاص اسم د خاص شخص یا ځاي نوم دی.( په خاص شخص یا خاص ځای باندي دلالت کوي).

Ex: Afghanistan, Kandahar, Ghazi M. Jan Khan, Mirwis Nika etc...

مثال: افغانستان، کندهار، غازی محمد جان خان، میرویس نېکه اوداسي نور...

## 2. Common Noun عام اسم

Common noun is a name given in common to every person or thing in the same class or kind.

عام اسم هغه اسم دی چې هر شخص یا شي ته پخپله نوع یا ټولګي کې عام وي. ( چې په همجنس شخص یا شي باندي دلالت کوي).

Ex: Child, school, class, book etc...

مثال: ماشوم، ښوونځی، ټولګی، کتاب اونور...

## 3. Collective Noun د جمع اسم

Collective noun is the name of a collection of persons, things or animals.

د جمع اسم د اشخاصو، شیانو یا حیواناتو د ډلې په نوم(دلالت) کوي.

Ex: Family, tribe, nation etc...

مثال: کورنۍ، قبیله، ملت او داسی نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 4. Material Noun د جنس اســم

Material noun is a noun which shows what substance is a noun made of.

د جنس اسم هغه اسم دی چې دا ښکاره کوي چې یو اسـم له څه شي څخه جوړ شوی دي.

Ex: Wood, Milke, Gold, water etc… مثال: لرگی، شیدې، سره زر، اوبه اونور…

## Note: نوټ

By adding article (the) before material nouns, they are turned to common nouns.

د جنس د اسم څخه د مخه د (the) د تعریف توری په زیاتولو سره هغوی په عام اسمونو بدلیږي.

Ex: We are need of **food**. ( material noun).

مثال: موږ د **غـذا** اړتیا لرو. (د جنس نوم).

Ex: **The food** of our country is delicious. (common noun).

مثال: زموږ د هېواد **غـذا** خوندوره ده. (عام اســم).

## 5. Compound Noun مرکب اســم

Compound noun is a noun which is formed by the combination of two or more than two nouns.

مرکب اسم هغه اسم دی چې له دوو یا له دوو څخه له زیاتو اسـمونو څخه جوړ شوی وي.

Ex: Shopkeeper (دوکاندار), DrugStore (درملتون), etc… …اونور

Shop ↓ Noun, keeper ↓ Noun; Drug ↓ Noun, Store ↓ Noun

(c) ketabton.com: The Digital Library



☞ **Compound Nouns are divided in to three parts:**

**مرکب اسمونه په دريو برخو ويشل شوي دي:**

**a) Simple Compound Noun ساده مرکب اسم**

Simple compound noun is a noun which is written as one word.

ساده مرکب اسم هغه اسم دی چې د يوې کلمې په څېر ليکل کېږي.

Ex: Shortcut.

**b) Open Compound Noun خلاص مرکب اسم**

Open compound noun is a noun which is written as two words.

خلاص مرکب اسم هغه اسم دی چې د دوو کلمو په څېر ليکل کېږي.

Ex: Book keeper, House work etc…

**c) Hyphenated Compound Noun فاصله لرونکی مرکب اسم**

Hyphenated Compound noun is a noun which is separated by hyphen.

فاصله لرونکی مرکب اسم هغه اسم دی چې د فاصلې په واسطه جلا شوی وي.

Ex: Father – in – law, Commander – in – chief.

## 2) Abstract Noun د مانا اسم

Abstract noun is the noun which doesn't have any foreign or physical existence and can not be touchable.

د مانا اسم هغه اسم دی چې خارجي يا فزيکي وجود ونلري او د لمس قابليت هم نلری.

Ex: Bravery, Darkness, Knowledge etc…

مثال: زړه ورتوب، تاريکي، پوهه او داسي نور…

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نـوټ**

- **Abstract nouns are formed as follow:**

**د مانا اسمونه په لاندې ډول تشکیلېـږي:**

❖ **From Adjectives** **له صفتونو څخه**

Ex: Kind – **Kindness**. مثال: مهربان ــ **مهرباني**.

Ex: Brave – **Bravery**. مثال: زړه ور ــ **زړه ورتوب**.

❖ **From verbs** **له فعـلونو څخه**

Ex: Obey – **Obedience**. مثال: قبلول ــ **قبلوه نه**.

Ex: Grow – **Groth**. مثال: لوی کېدل ــ **لوی کېدنه**.

❖ **From common nouns** **له عـام اسـمـونو څخه**

Ex: Child – **Childhood**. مثال: ماشوم ــ **ماشوم توب**.

**Note:** The names arts and sciences are also abstract nouns.

**نوټ:** د هنرونو او علومو نومونه هم د مانا اسمونه دي.

Ex: Math, Chemistry, Grammar etc… مثال: رياضي، کيميا، گرامر اونور...

**نوټ:** د دې ذکر شوو نومونو برسېـره کولای شـو اسمونه د شمېرلو او نه شمېرلو له مخي هم طبقه بندي کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ⇨ Countable nouns شمېرل کېدونکي اسمونه

Countable nouns are those nouns that can be counted.

شمېرل کېدونکي اسمونه هغه اسمونه دي چې شمېرل کېدای شي.(د شمېرولو وړ وي).

Ex: Apple, cup, human etc...

مثال: مڼه، پیاله، انسان او نور...

**Note:نوټ**

**1)** We can use the indefinite article (a/an) with countable nouns.

موږ کولای شو د شمېرل کېدونکي اسمونو سره نامعین د تعریف توری(a/an) استعمال کړو.

En: A cow is an animal.

مثال: غـوا یو حیوان ده.

**2)** When a countable noun is singular, we use a word like (a/an, the, this, my) with it.

کله چې یو شمېرل کېدونکی اسم مفرد وي، موږ د (a/an, the, this, my) کلیمې له هغوی سره استعمالوو.

Ex: I need a pen.

مثال: زه یوه قلم ته ضرورت لرم.

**3)** When a countable noun is plural, we can use it alone.

کله چې یو شمېرل کېدونکي اسم جمع وي، موږ کولای شو هغه یوازې استعمال کړو.

Ex: I like apples.

مثال: زه مڼې خوښوم.

**4)** We can use (Some) and (any) with countable nouns.

کولای شو چې د شمېرل کېدونکو اسمونو سره (Some) او (any) استعمال کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: I have got some dollars. مثال: زه یو اندازه ډالران لرم.

Ex: Have you got any books? مثال: آیا ته یوه اندازه کتابونه لرې؟

5) We can use (a few) and (many) with countable nouns.

کولای شو د شمېرل کېدونکي اسمونو سره د (many) او (a few) کلیمې استعمال کړو.

Ex: I have got a few afghanis. مثال: زه یو څو افغانۍ لرم.

Ex: I haven't many pens. مثال: زه ډېر قلمونه نه لرم.

## ⇨ Uncountable nouns(Mass nouns) نه شمېرل کېدونکی اسم

Uncountable nouns are those nouns that can't be counted.

نه شمېرل کېدونکي اسمونه هغه اسمونه دي چې شمېرل کېدای نشي.

Ex: water, suger, gas etc… مثال: اوبه، بوره، ګاز او نور…

**نوټ:** د نه شمېرل کېدونکي اسمونو لپاره یوه ځانګړې قاعده وجود لري چې د هغه په واسطه موږ د هغه مقدار ښیو چې (Quantity+noun) ورته ویل کیږي؛ په دې مانا چې د اسم مخکې د هغه مقدار ذکر کیږي.

Ex: two litter water. مثال: دوه لیتره اوبه.

**Note:نوټ**

1) The indefinite article **(a/an)** can't be used with uncountable nouns.

غیر معین د تعریف توري**(a/an)** نشي استعمالېداې.

Ex: a water. (incorrect). مثال: یوه اوبه. (غلط).

Ex: Water.(correct). مثال: اوبه. (صحیح).

(c) ketabton.com: The Digital Library



2) (Any) and (some) can be used with uncountable nouns.

(any) او (some) له نه شمېرل کېدونکې اسمونو سره استعمالېدای شي.

Ex: I've got **some** money. مثال: زه یوه اندازه پیسې لرم.

# Noun Gender

# د اسم جنسیت(نوعیت)

A noun is always considered according to being male , Femal or neuter.

اسم همېشه د مذکر والي، مونث والي اویا خنثی والي له مخي سنجول کېږي.

**Or:** The idea of gender is determining a noun according to male, female or being neuter.

**اویا:** له جنس څخه منظور د یو اسم مذکر والي، مونث والي اویا خنثی والي مطابق تعینول دي.

Ex: Man, womane, chair etc... مثال: سړی، ښځه، څوکۍ او نور...

### 1. Masculine Gender مذکر جنسیت

A noun which denotes a male human or animal is called masculine gender.

هغه اسم چې په مذکر انسان یا حیوان باندي دلالت کوي مذکر جنسیت بلل کېږي.

Ex: Father, boy, lion, king etc... مثال: پلار، هلک، زمری، پادشاه اونور...

### 2. Feminine Gender مونث جنسیت

A noun which denotes a female himan or animal is called feminine gender.

هغه اسم چې په مونث(ښځېنه) انسان یا حیوان باندي دلالت کوي مونث جنسیت بلل کېږي.

Ex: Mother, sister, fox etc... مثال: مور، خور، ګېدړه اونور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 3. Common Gender عام جنسیت

A noun which denotes both male and female human and animal is called common gender.

هغه اسم چې په مذکر او مونث انسان او حیوان (دواړو) باندی دلالت وکړی عام اسم بلل کېږي.

Ex: Child, student, teacher, animal etc… مثال: ماشوم، زده کوونکی، ښوونکی، حیوان اونور...

### 4. Neuter Gender خنثی جنسیت

A noun which denotes neither male nor female (a thing without life) is called neuter gender.

هغه اسم چې نه په مذکر او نه په مونث (هغه شی چې بې ساه وي) دلالت وکړي خنثی جنسیت بلل کېږي.

Ex: Stone, glass, book etc… مثال: ډبره، گیلاس، کتاب اونور...

## Pluralization of nouns

## د اسمونو جمع بندي

The general way for pluralization of noun is adding (s) or (es) at the end of the singular nouns.

د اسم د جمع بندي لپاره عمومي طریقه د مفرد اسم په اخېر کې د (s) یا (es) له علاوه کولو څخه عبارت دی.

**Ex:** **مثال:**

- Book – Book**s**. کتاب ـ کتابونه.
- Watch – Watch**es**. ساعت ـ ساعتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Rules of addind (s) or (es)

# د(s) اویا (es) د علاوه کولو قاعـدې

**1)** Nouns ending in ( s, ss, ch, sh, x, z) take (es) in the plural form.

هغه اسمـونه چې په ( s, ss, ch, sh, x, z) ختم شـوي وي په جمع شکل کې (es) اختیاروي.

**Ex:** **مثال:**

→ Box – Box<u>es</u>. بکس ـ بکسونه.

→ Church – Church<u>es</u>. کلیسا ـ کلیسا گانې.

→ Class – Class<u>es</u>. صنف ـ صنفـونه.

→ Fish – Fish<u>es</u>. کب ـ کبان.

**Note: نوټ**

When (ch) give the sound of (k) at the end of the nouns add only (s) in the plural form.

کله چې (ch) د اسمونو په اخیـر کي د (k) غـږ ورکړي په جمع شکل کي یوازي (s) اختیاروي.

Ex: Monarch – Monarch<u>s</u>. مثال: پادشاه ـ پادشاهان.

Ex: Stomach – Stomach<u>s</u>. مثال: معده ـ معدې.

**Note: نوټ**

Nouns ending in a single (z), it is doubled before adding (es).

هغه اسمونه "چې" په مفرد (z) ختمېـږي د (es) له اضافه کولو مخکې هغه (z) دوه چنده کیږي.

Ex: Quiz – Quizz**<u>es</u>**.

**2)** Nouns ending in (y) following a consonant, change (y) into (I) and than add (es).

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اسمونه چې په (y) باندي ختم شوي وي او د يو بې غږه توري په تعقيب راغلي وي(د (y) توري څخه مخکې يو بې غږه توری راغلی وي) "نو" (y) په (I) باندي بدلېږي او وروسته(es) ور علاوه کېږي.

Ex: Army – **Armi<u>es</u>.** مثال: لښکر ــ لښکري.

Ex: City – **Citi<u>es</u>.** مثال: ښار ــ ښارونه.

**3)** Nouns ending in (y) following a vowel take only (s) without any change.

هغه اسمونه چې په (y) ختم شوي وي ( اوله (y) څخه مخکې يو غږ لرونکی توری راغلی وي) بې له کوم تغير څخه د (s) توري اختياروي.

Ex: Play – **Play<u>s</u>.** مثال: لوبه ــ لوبې.

Ex: Day – **Day<u>s</u>.** مثال: ورځ ــ ورځې.

**4)** Nouns ending in (O) following a consonant take (es) in the plural form.

هغه اسمونه چې په (O) ختم شوي وي ( له (O) مخکې يو بې غږه توری راغلی وي) په جمع حالت کې (es) اختياروي.

Ex: Negro – **Negro<u>es</u>.** مثال: تورپوست ــ تورپوستي.

Ex: Hero – **Hero<u>es</u>.** مثال:قهرمان ــ قهرمانان.

☞ **Exceptions استثناوي**

→ Kilo – Kilo**<u>s</u>**.

→ Photo – Photo**<u>s</u>**.

→ Piano – Piano**<u>s</u>**.

**5)** Nouns ending in (O) following a vowel take (s) without any change.

هغه اسمونه چې په (O) ختم شوي وي (اوله (O) څخه مخکې غږ لرونکی توری راغلی وي) بې له کوم تغير څخه (s) اختياروي.

Ex: Radio – **Radio<u>es</u>.** مثال: راديو ــ راديو ګانې.

Ex: Vedio – **Vedio<u>es</u>.** مثال: ويديو ــ ويديو ګانې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**6)** Nouns ending in (f) or (fe) change (f) or (fe) to (v) than add (es).

هغه اسمونه چې په (f) اویا (fe) باندي ختم شوي وی (f) یا (fe) په (v) باندي بدلېږی وروسته (es) ور اضافه کېږي.

Ex: Wife – **Wives**. مثال: مېرمن ـ مېرمنې.

Ex: Leaf – **Leaves**. مثال: ورقه ـ ورقې.

☞ **Exceptions استثناوي**

→ Proof – **Proofs**. ثبوت ـ ثبوتونه.

→ Chief – **Chiefs**. رئیس ـ رئیسان .

→ Roof – **Roofs**. بام ـ بامونه.

**7)** Nouns ending in (man) except of the proper nouns like German, we change (man) in (men) in the plural form.

هغه اسمونه چې په (man) ختم شوي وي د خاصو اسمونو په استثنا لکه German د جمعې په شکل کې (man) په (men) "باندي" بدلېږي.

**Ex:** **مثال:**

→ Man – Men. سړی ـ سړي.

→ Fisherman – Fishermen. کب نیونکی ـ کب نیوونکي.

**8)** The compound nouns are usually pluralized in the last noun.

مرکب اسمونه معمولاً په اخیري اسم کې جمع کېږی.

Ex: Drug store – Drug stores. مثال: درملتون ـ درملتونونه.

Ex: Forming land – forming lands. مثال: کرنېزه ځمکه ـ کرنېزې ځمکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**9)** Compound nouns separated by preposition, are usually pluralized in the main noun.

"هغه" ترکيبي اسمونه چې د اضافي توري په واسطه جلا شوي وي معمولاً د هغه اصلي اسم جمع بندي کېږي.

Ex: Father in law – **Fathers** in law. — مثال: خُسر ـ خُسران.

Ex: Sister in law – **Sisters** in law. — مثال: وربنداره ـ وربنداري.

**10)** Eight nouns form their oplural by a vowel change.

اته اسمونه خپل د جمعي شکل د يو غږ لرونکي توري د تغير په واسطه تشکيلوي.

**Ex:** — **مثال:**

→ Foot – F<u>ee</u>t. — پښه ـ پښې.

→ Tooth – T<u>ee</u>th. — غاښ ـ غاښونه.

→ Mouse – M<u>i</u>ce. — موږک ـ موږکان.

→ Goose – G<u>ee</u>se. — قاز ـ قازان.

→ Man – M<u>e</u>n. — سړی ـ سړي.

→ Woman – Wom<u>e</u>n. — ښځه ـ ښځې.

→ Louse – L<u>i</u>ce. — مږه – مږي.

**11)** Some of the nouns always written in the plural form, because they are paired.

ځينې اسمونه همېشه په جمع شکل ليکل کېږي ځکه هغوی جوړه(جفت) دي.

Ex: Shoes, Gloves etc… — مثال: بوټونه، دستکشونه او داسي نور…

**12)** Some nouns are irregulary pluralized becsuse they are origi- nally Latin.

ځيني اسمونه په بې قاعده ډول جمع بندي کېږي ځکه هغوی په حقيقت کې لايتيني"رېښه" لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Ex:** **مثال:**

| Datum – <u>Data</u> | اطلاع ــ اطلاعات |
|---|---|
| Child – <u>Children</u> | ماشوم ــ ماشومان |
| Ox – <u>Oxen</u> | غویی ــ غوایان |

**13)** The letters, numbers and other symbols are pluralized by adding ('s).

توري، عددونه او نور سمبولونه د ('s) د علاوه کولو په واسطه جمع کېږي.

Ex: 8 – 8'<u>s</u>.

Ex: M – M'<u>s</u>.

**14)** Some nouns are plural in form but singular in meaning.

ځیني اسمونه په شکل کې جمع مگر په مانا کې مفرد دي(په مانا کې په مفرد اسم دلالت کوي).

**Ex:** **مثال:**

| Mathematics | د رياضي علم |
|---|---|
| Politics | د سياست علم |
| Ethics | د اخلاقو علم |

## Sentence جمله

A group of related words which has a subject and predicate and makes a complete sense is called sentence.

د کلمو يو گروپ چې د مبتدا اوخبر درلودونکي وي او يوه پوره مانا ورکړي جمله بلل کېږي.

**Or:** A group of words that gives complete sense is called sentence.

**اويا:** د کلمو يو گروپ چې پوره مانا ورکوي جمله بلل کېږي.

Ex:Shafiq studies English every day. مثال: شفيق هره ورځ انگليسي مطالعه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



➢ **The sentences are divided into three parts in form:**

**جملې د شکل له مخې په دريو برخو وېشل شوي دي:**

1. Simple sentences. ساده جملې
2. Complex sentences. پېچلي جملې
3. Compound sentences. مرکبي جملې

## 1. Simple Sentences ساده جملې

A sentence which has one subject and a predicate or has only a finite verb is called simple sentence.

هغه جمله چې يو مبتدا او يو خبر ولري اويا "هم" يو محدود فعل ولري ساده جمله بلل کېږي.

Ex: I play football every morning. مثال: زه هر سهار د فوټبال لوبه کوم.

Ex: Najeeb went to Kandahar. مثال: نجيب کندهار ته ولاړ.

## 2. Complex Sentences پېچلي جملې

A sentence which has one principle and one or more than one subordinating clauses is called complex sentence .

هغه جمله چې يوه اصلي او يوه يا له يوې څخه زياتي فرعي قضيې ولري پېچلي جمله بلل کېږي.

Ex: This is Ahmad **which** studies every night.

مثال: دغه احمد دی چې هره شپه مطالعه کوي.

Ex: Noor Ahmad is a teacher **who** teaches well.

مثال: نوراحمد يو ښوونکی دی چې ډېر ښه تدريس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3. Compound sentences مرکبې جملې

When two simple sentences are joined by a conjunction, is called compound sentence.

کله چې دوه ساده جملې د يو ربطي توري په واسطه سره وصلي شي مـرکبې جملې بلل کېـږي.

Ex: Samiullah is a teacher **but** Sifatullah is an engineer.

مثال: سميع الله يو ښوونکی دی **مگر** صفت الله يو انجنير دی.

Ex: I can speak English **and** Ahmad is too.

مثال: زه په انگليسي ژبه خبری کولاي شم **او** احمد هم.

➢ **The sentences are divided into four parts in meaning:**

**جملې د مانا (مفهوم) له مخي په څلورو برخو ويـشل شوي دي:**

## 1) Declarative Sentences خبري جملې

A sentences which expresses a statement or assertion, is called declarative sentence.

هغه جمله چې يوه بيانيه يا خبر څرگند کړي خبري جمله بلل کېـږي.

Ex: I saw Karrim yesterday.

مثال: ما تېره ورځ کريم وليد.

Ex: I can not speak Urdu.

مثال: زه په اردو خبري نشم کولاي.

## 2) Imperative Sentences امـريه جملې

A sentence which expresses a command, request or suggestion, is called imperative sentence.

هغه جمله چې امـر، غوښتـنه اويا وړانديز بـيانـوي امريه جمله بلل کېـږی.

Ex: Please close the door!

مثال: لطفاً دروازه بنده کړه!

Ex: May I use your pen?

مثال: "اجازه" ده "چې" ستا قلم استعمال کړم؟

Ex: Don't go away!

مثال: لطفاً لري مه ځئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نوټ**

In the imperative sentences the subject is omitted because it is known.

په امریه جملو کې مبتداء له منځه وړل کېږي ځکه (چې) هغه معلوم دی.

Ex: **<u>You</u>** come here please! له منځه ځي — مثال: مهرباني وکړه دلته راشه!

Ex: Come here please! — مثال: مهرباني وکړه دلته راشه!

- **Polite request مادبانه غوښتنه**

The following combinations are used to express polite requests:

د مادبانه غوښتنې د بیان لپاره لاندې ترکیبونه استعمالېږي:

❖ **Would you please?** — **آیا لطفاً به؟**

Ex: **<u>Would you please</u>** the room? — مثال: **آیا لطفاً به** اطاق پاک کړې؟

❖ **Would you mind?** — **آیا ممکنه ده بې زحمته؟**

Ex: **<u>Would you mind</u>** ringing me? — مثال: **آیا ممکنه ده بې زحمته** راته زنګ ووهې؟

❖ **Will you please?** — **آیا لطفاً به؟**

Ex: **Will you please** be quiet? — مثال: **آیا لطفاً به** خاموشه و اوسې؟

- **Affirmative imperatives sentences مثبتې امریه جملې**

Ex: Come here! — مثال: دلته راشه!

Ex: Please look me! — مثال: لطفاً ماته وګوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ Negative imperative sentences منفي امريه جملې

Ex: Don't sit down! مثال: مه کښېنه!

Ex: Don't speak loud! مثال: تېزي خبري مه کوه!

## ➢ Analysis of a sentence structure د یوې جملې د جوړښت تجزیه

### ✓ Subject (مبتدا)

(مبتدا) مخکي د فاعلي ضمیرونو په بحث کې مکمل تشریح شوي دی.

### ✓ Predicate (خبر)

Predicate is a part of sentence which tells something about subject, including the verb up to end of the sentence forms predicate.

خبر د جملې هغه برخه ده چې د مبتدا په باره کې خبري کوي د فعل په شمول تر اخېره "ټوله" جمله خبر تشکیلوي.

**⇨ The words which are used in predicate are as follow:**

**هغه کلیمې چې په خبر کې استعمالېږي په لاندی ډول دي:**

1. The essential word in the predicate is verb that can be either transitive or intransitive.

په خبر کې مهمه کلمه فعل دی چې کېدای شي لازمي وي یا متعدي وي.

Ex: Ahmad **broke** the chair. مثال: احمد څوکۍ ماته کړه.

Ex: The boby **cries** every night. مثال: ماشوم هره شپه ژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2.** Adverb or Adverb phrase which qualifies the verb.

قید یا قیدي عبارت چې فعـل معینوي.

Ex: Shabeer spoke very **clearly**.

مثال: شبیر ډېر **په وا ضح ډول** خبري کوي.

**3.** Infinitives and Gerund.

مصدر او مصدري اسم.

Ex: I like **swimming**.

مثال: زه لامبو وهـل خوښوم.

Ex: They want **to go**

**مثال**: هغوی غواړي "چې" ولاړ شي.

**4. Object:** which can be either a noun or pronoun.

**مفعـول:** کېداي شي چې اسم یا ضمیر وي.

Ex: I like **him**.

مثال: زه **هغه** خوښوم.

Ex: Baseer wrote **a letter**.

مثال: بصیر **یو خط** ولیکه.

## ✓ Complement تکمیل کوونکی

تکمیل کوونکی مخکي مکمل تشریح شوي دی.

## 3) Interrogative sentences پوښتـنېزي (سوالیه) جملې

A sentence which asks a question is called interrogative sentence.

هغه جمله چې یو سوال پوښتي پوښتنـېزه جمله بلل کېـږي.

**Note: نوټ**

**An interrogative sentence is formed by three ways**

**یوه پوښتـنېزه جمله په دریو طریقـو تشکیلېـږی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1.** By using (Wh) questions at the beginning of the sentences. (Direct question).
د جملو په سرکې د (Wh) په استعمالولو سره. (مستقیم سوال).

Ex: **What** is your job? مثال: ستاسي وظیفه څه شی دی؟

**2.** By using auxiliary verbs at the beginning of the sentences. (indirect question).
د جملو په سر کې د کومکي فعلونو په استعمالولو سره. (غیر مستقیم سوال).

Ex: **Can** you play chess? مثال: آیا ته د سطرنج لوبه کولاي شي؟

### 4) Exclamatory sentences ندائي(غږيزي) جملې

A sentence which expresses a strong feeling or emotion is called exclamatory.
هغه جملې چې یو قوي احساس یا هیجان بیان کړي ندایه جمله بلل کېږي.

Ex: What a beautiful car it is! مثال: څه یو ښکلی موټر دی!

Ex: How awful he acted! مثال: څومره بد چلند یې وکړ!

## Gerund د مصدر اسم

Gerund is the (**ing**) form of a verb which does the work of a noun.
د مصدراسم د فعل د (**ing**) شکل دی چې د یو اسم کار سرته رسوي.

Gerund has both the force of a noun and a verb.
د مصدر اسم هم د اسم او هم د فعل "وظیفه" لري.

Ex: Speak**ing**, Read**ing**, teach**ing** etc… مثال: خبري کول، لوستل، تدریس کول او نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Uses of Gerund د مصدر د اسم استعمال ځايونه

**1.** As the subject of the sentence: د جملې د مبتدا په حيث:

Ex: **Working** is a good exercise. مثال: **کار کول** يو ښه تمرين دی.

Ex: **Swimming** is usefull for health. مثال: **لامبو وهل** د روغتيا لپاره گټوره ده.

**2.** As the object of a transitive verb: د يو متعدي فعل د مفعول په حيث:

Ex: Please stop **playing**! مثال: لطفاً **لوبه کول** پرېږدئ!

Ex: I like **reading** magazines. مثال: زه د مجلو **لوستل** خوښوم.

**3.** As the complement of the sentence: د جملې د تکميل کوونکي په حيث:

Ex: I like **studying**. مثال: زه **مطالعه کول** خوښوم.

Ex: Saleem does not like **swimming**. مثال: سليم **لامبو وهل** نه خوښوي.

**4.** As an adjective befor noun: د صفت په حيث له اسم څخه مخکې:

Ex: He prolongs a **speaking** class. مثال: هغه د **مکالمې** ټولگي ته ادامه ورکوي.

**5.** As the complement of preposition: د اضافي توری د تکميل کوونکی په حيث:

Ex: We come here for **learning**. مثال: موږ دلته د **زده کړې** لپاره راځو.

Ex: He prevents me from **going** alone. مثال: هغه ما له يوازې **تگ** څخه منع کوي.

**6.** Gerund is also used for prevented actions in the plaques and attention:
د مصدر اسم د عملونو د مخنيوي او د توجه لپاره په لوحو کې هم استعمالېږی:

Ex: No **smoking**. مثال: **څکول** "منع" دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Infinitive مصدر

The base form of a verb which is often followed by (to) is called infinitive.

د فعل اساسي شکل چې اکثره له (to) سره يوځاي کېږي مصدر بلل کېږي.

**Or:** Infinitive is the base form of a verb which expresses an action or state feerly.

**اويا:** مصدر د فعل اساسي شکل دی چي عمل يا حالت په ازاد ډول بيانوي.

**Like:** <u>To</u> study, <u>To</u> play, <u>To</u> go etc…

**لکه:** مطالعه کول، لوبه کول، تلل اونور…

Ex: <u>To study</u> English is useful.

مثال: د انگليسي مطالعه کول گټوره ده.

## ➢ Uses of infinitive د مصدر استعمالات

**1.** As the subject of the sentence: (before the main verb ).

د جملې د مبتدا په حيث: (له اصلي فعل څخه مخکي).

Ex: <u>To exercise</u> sport is useful for health.

مثال: د سپورت تمرين کول د روغتيا لپاره گټور دی.

**2.** As the object of a transitive verb:

د يو متعدي فعل په حيث:

Ex: I wish **<u>to become</u>** a doctor.

مثال: زه ارزو لرم (چې) په راتلوونکي کې ډاکتر شم.

**3.** Infinitive can be used with (to be + about) to express an immediate future.

مصدر کېداي شي له (to be + about) سره يو ځاي استعمال شي "ترڅو" نږدې راتلوونکی بيان کړي.

Ex: The class is about **<u>to start</u>**.

مثال: ټولگی شروع کېدلو ته نږدې ده.

Ex: Ali **<u>is about</u>** **<u>to leave</u>** the Kabul.

مثال: علي د کابل ترک کولو ته نږدې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4.** Infinitive can be used alone: (at the end of the sentence).

مصدر کېدای شي یوازي استعمال شي: ( د جملې په اخېر کې).

Ex: I like **to read**. مثال: زه لوستل خوښوم.

**5.** Infinitive can be used after adjectives in the sentences:

مصدر کېدای شي په جمله کې له صفتونو څخه وروسته استعمال شي:

Ex: I am pleased **to meet** you. مثال: ستاسو له ملاقات څخه خوښ شوم.

**6.** Infinitive is also used to express an intention.

مصدر د مقصد لپاره هم استعمالېږي.

Ex: I come **to see** you here. مثال: زه دلته راځم "چې" تاسو ووینم.

Ex:We study **to improve** our knowledge. مثال: موږ مطالعه کوو"ترڅو" خپل علم ته انکشاف ورکړو.

**7.** Infinitive is also used to qualify and modify a noun.

مصدر د اسم د معینولو او بهتر کولو لپاره هم استعمالېږي.

Ex: This is not the time to play. مثال: دا د لوبې کولو وخت ندی .

# Tag questions

# ضمیمه یي سوالونه

Tag questions are short additions at the end of the sentences asking for agreement or confirmation.

ضمېمه یي سوالونه هغه لنډ ضمایم دي (چې) د جملو په اخېر کې د تاید یا تصدیق لپاره پوښتنه کوي.

Ex: Omer is a doctor, isn't he? مثال: عمر یو ډاکتر دی، آیا ندی؟

Ex: You play chess, Do not you? مثال: تاسي د سطرنج لوبه کوئ، آیا همداسي نده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Rules: قاعدې

**1)** Affirmative sentences are followed by negative tags.

مثبتي جملې د منفي ضمايمو په واسطه تعقيبېږي(ترسره کېږي).

Ex: I go to school, **<u>Don't I</u>**?	مثال: زه ښوونځي ته ځم، آيا نه ځم؟

Ex: Ali speaks Arabic, **Doesn't he**?	مثال:علي په عربي خبري کوي، آيا نه يې کوي؟

**2)** Negative sentences are followed by affirmative tags.

منفي جملې بيا د مثبتو ضمايمو په واسطه تعقيبېږي. (ترسره کېږي).

Ex: He does not tell lie, **Does he?**	مثال: هغه درواغ نه وايي، آيا وايي يې؟

Ex: You are not come here, **Are you?**	مثال: ته دلته نه راځې، آيا راځې ؟

## Note: نوټ

If the sentence contains auxiliary verbs the auxiliary verb itself is repeated as subject of the tag otherwise we use (to do) verbs.

که چېري په جمله کې کومکي فعل موجود وي کومکې فعل پخپله د ضميمې په حيث تکرارېږي او بغير له هغه څخه موږ د (to do) فعلونه استعمالوو.

Ex: Ahman can speak Urdu, **<u>Can't he</u>?**	مثال: احمد په اُردو خبري کولاي شي، آيا نه يې شي کولاي؟

Ex: We went to the party, **<u>Didn't we</u>?**	مثال: موږ مېلمستيا ته ولاړو، آيا نه ولاړو؟

**3)** The imperative sentences have the tag (<u>will you</u>) or (would you) .

امريه جمله د (will you) يا (would you) ضمېمه لري.

Ex: Please close the door! **<u>will you</u>**?	مثال: لطفاً دروازه بنده کړه! آيا بنده به يي کړې؟

Ex: Please, be quite! **<u>would you</u>**?	مثال: لطفاً خاموشه اوسئ! آيا خاموش به سئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4)** The sentences which have request or demand form have the tag (will not you) or (won't you).

هغه جملې چې غوښتنه یا درخواست ولري د (will not you) یا (won't you) ضمیمه لري.

Ex: Have a drink! **Won't you**?  
مثال: څه شي وڅښه! آیا وبه یې نه څښې؟

Ex: Have a seat! **Will not you**?  
مثال: لطفاً راشه کښېنه ! آیا نه به کښېنې؟

**نوټ:** په هغو جملو کې چې please استعمال شوي وي باید توجه وشي چې آیا له نږدې امر سره دی او یا له غوښتنې سره. په هغه صورت کې چې له نږدې امر سره وي نو د (will you) له ضمیمې څخه کار اخیستل کېږي او که چیرې له نږدې غوښتنې سره وي په هغه صورت کې د (will not you) له ضمېمې څخه کار اخېستل کېږي.

**5)** The sentences which are started by (Let's) have the tag (shall we).

هغه جملې چې په (Let's) شروع شوي وي د (shall we) ضمېمه لري.

Ex: Let's chess! **Shall we**?  
مثال: راځه چې د سطرنج لوبه وکړو! آیا وبه یې کړو؟

Ex: Let's go to the bazaar! **Shall we**?  
مثال: راځه چې بازارته ولاړ شو!_آیا ولاړ به شو؟

**6)** Sentences which contain words such as (Never, no, none, scarcely, rarely, hardly ever, seldom) etc… are considered as negative and have the positive tags.

هغه جملې چې د (Never, no, none, scarcely, rarely, hardly ever, seldom) او داسې نورو کلمو درلودونکي وي وي منفي جملې شمېرل کېږي او مثبتې ضمېمې لري.

Ex: I never tell lie, **Do I** ?  
مثال: زه هېڅکله دروغ نه وایم ، **آیا همداسي نده؟**

Ex: We studied neither book, **Did we**?  
مثال: موږ هیڅ کتاب ندی مطالعه کړي، **آیا همداسي نده؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**7)** When the subject of the sentence, are words like ( nobady, anybody, somebody etc...) the pronoun (they) is used as the subject of the tag.

کله چې د جملې مبتدا د ( nobady, anybody, somebody او نوري...)کلمې وي د (they) ضمیر د مبتدا د د ضمیمي په حیث استعمالېږي.

Ex: Nobady came to the party, **<u>Did they</u>**?

مثال: هیڅوک مېلمستیا ته ندی راغلي ،**آیا راغلي دی؟**

Ex: Somebody broke the glass, **<u>Didn't they</u>**?

مثال: یو کس ښیښه ماته کړه، **آیا همداسي نده؟**

**8)** The tag of (I am) is (aren't I).

د (I am) ضمېمه (aren't I) ده.

Ex: <u>I am</u> a tailor, **<u>aren't I</u>** ?

مثال: زه یو خیاط یم، **آیا نه یم** ؟

**9)** The tag of ( I am not) is (am I).

د ( I am not ) ضمېمه (am I) ده.

Ex: <u>I am not</u> a doctor, **<u>am I</u>**?

مثال: زه یو ډاکتر نه یم، **آیا یم؟**

**یادونه:** دغه استثنا یوازي په بریتانوي انگلیسي کې ده.( د ۹ نمبر ضمېمه).

**10)** The sentences which have positive form but express a negative meaning that have the positive tags.

هغه جملې چې مثبت شکل لري مگر منفي مفهوم بیانوي هغه مثبت ضمایم لري.

Ex: Khalid is too fat to run fast, **Is he**?

مثال: خالد له هغه څخه چاغ دی چې منډي وهي، **آیا همداسي ندی؟**

Ex: Jamila is too small to get married, **Is she**?

مثال: جمېله له هغه څخه کوچنۍ ده (چې) واده وکړي، **آیا همداسي نده؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Conditional sentences
# شـرطيـه جـمـلـې

Conditional sentences are those which are formed by (If) or (whether) and express a condition.

شرطيه جملې هغه دي چې د (If) يا (whether) په واسطه تشکيلېږي او يو شرط بيانوي.

Ex: **<u>If</u>** I were the presedent, I would help the poor.

مثال: **که چېري** زه ولسمشر وای، (نو) ما به له فـقيرانو سره مرسته کوله.

➢ **Conditional sentences are divided into two parts:**

**شرطيه جملې په دوو برخو وېشل شوي دي:**

1) Probable conditional sentences. ممکنه شرطيه جملې
2) Improbable conditional sentences. نا ممکنه شرطيه جملې

## 1) Probable Conditional Sentences ممکنه شرطيه جملې

The probable conditions are those which indicate a possible action that is to say, in these conditions it is possible to perform the action.

ممکنه شرطيه جملې هغه دي چې په ممکن عمل باندي دلالت کوي يا په بل عبارت په دغو شرطيه «جملو» کې د عمل سرته رسولو امکان موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نوټ**

The probable conditionl sentences are usually formed in the present and future tenses.

شرطیه جملې معمولاً په حال او راتلوونکي زمانو کې تشکیلېږي.

Ex: **<u>If</u>** you drink dirty water, you will get sick!

مثال: **که چېرې** چټلې اوبه وڅښې ، ناروغ به شې!

Ex: **Whether** it is sunny, we will go to the pool for swimming.

مثال: **که چېرې** هوا لمریزه وي، موږ به لامبو وهلو ته ولاړ شو.

Ex: **If** he comes here, we shall go to the bazaar.

مثال: **که چېرې** هغه راشي، موږ به بازار ته ولاړ شو.

## 2) Improbable Conditional sentences. نا ممکنه شرطیه جملې

The improbable conditional sentences are those which indicate an improbable action, that is to say, in these conditions there is no possibility to perform the action.

ناممکنه شرطیه جملې هغه دي چې په ناممکن عمل باندي دلالت کوي، په بل عبارت په دې "نوع" شرطیه "جملو" کې د عمل د سرته رسېدلو امکان موجود نه دی.

**Note: نوټ**

The improbable conditional sentences are usually formed in the past tenses.

ناممکنه شرطیه جملې معمولاً په تېرو زمانو کې استعمالېږي.

Ex: **<u>If</u>** I came on time, the teacher would let me in the class.

مثال: **که چېرې** په وخت راغلی وای، استاد به ټولګی ته اجازه راکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: **Wheter** we went to the party, we would have very happy time.

مثال: **که چیرې** مېلمستیا ته تللی وای، ډېر خوشحاله وخت به مو درلود.

Ex: **If** I studied hard, I would pass the exam.

مثال: **که چیرې** ما پراخه مطالعه کړې وای، "نو" کامیابېدلم.

**Note: نوټ**

It is possible to use (were) instead of (was) for ( I, he, she, it) in the improbable conditions.

ممکنه ده په ناممکنه شرطیه (جملو) کې د (I, he, she, it ) لپاره د (was) په ځای (were) استعمال شي.

Ex: **<u>If</u>** I were, I would accept it.

مثال: **که چیرې** ستا په ځای وای قبولاوو مې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Past perfect tense

## تېره کامله زمانه(لــري مـاضــي)

| Helping verb of P.P tense | د تېري کاملي زمانې کومکي فعل |
|---|---|
| **Had** | **Had** |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Sub + Had + $V_3$ + Comp.**<br>**Ex: He had eaten food.** مثال: هغه غذا خوړلې وه. |
| Question form<br>سواليه شکل | **Had + Sub + $V_3$ + Comp?**<br>Ex: Had he eaten food? مثال: آيا هغه غذا خوړلې وه؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Had + Not + $V_3$ + Comp.**<br>Ex: He had not eaten food. مثال: هغه غذا خوړلې نه وه. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **Had + Sub + Not + $V_3$ + Comp -?**<br>Ex: Had he not eaten food ? مثال: آيا هغه غذا خوړلې نه وه؟<br>**Hadn't + Sub + $V_3$ + Comp** -?<br>Ex: Hadn't he eaten food ? مثال: آيا هغه غذا خوړلې نه وه؟ |

1. **Usege:** The past perfect tense is used to express that an action completed in the past before other action.

**استعمال:** تېره کامله زمانه د هغه عمل د بيانولو لپاره استعمالېږي چې له يو بل عمل څخه په ماضی کې تکميل شوی وي.

**Or:** Past perfect tense is used to show an action which started before the time of speaking in the past and was just finished.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اویا:** تېره کامله زمانه د هغه عمل د بیانولو لپاره استعمالېږي چې د خبري کولو له وخت څخه مخکي شروع شوي او لیږ وروسته ختم شوی وي.

**Diagram:**




**Note: نوټ**

A (before) clause is usually used with past perfect tense to specify the past action.

د (before) قضیه معمولاً له تېرې کاملې زمانې سره د تېر عمل د معینولو "لپاره" استعمالیږي.

Ex: She had cooked the lunch **befor** we arrived home.

مثال: مخکي له دې څخه چې موږ کور ته ورسېږو هغې د غرمې ډوډۍ پخه کړې وه.

Ex: Shabeer had finished school **befor** he got twenty.

مثال: شبیر ترشل "کلنی" رسېدلو څخه مخکي ښوونځی ختمه کړې و.

**Note:** In this usage, past perfect tense is used commonly with the simple past tense.

**نوټ:** په دغه استعمال کې تېره کامله زمانه عموماً له ساده تېري زمانې سره استعمالېږي.

**Note:** The words (when, befor, because, after, as soon as, till, until etc...) can be used in past perfect tense.

**نــوټ:** د ( when, befor, because, after, as soon as, till, until او داسې نوری... کلمې کیدای شي په تېره کامله زمانه کې استعمال شي.

Ex: I had finished my homework, **when** I went home.

مثال: **کله چې** کور ته ولاړم، خپله کورنی دنده مې خلاصه کړې وه.

**2. Usage:** Past perfect tense is usually used in the indirect speech.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱. استعمال:** تېره کامله زمانه معمولاً په غیر مستقیم کلام کې استعمالیږي.

Ex: Bilal said that Ahmad jan had came here. مثال: بلال وویل چې احمد جان دلته راغلی وو.

Ex: Abrahim said that Rahim had gone to Kandahar.
مثال: ابراهیم وویل چې رحیم کندهار ته تللی وو.

# Past perfect continuous tense

# تېره کامله جاري زمانه

| Helping verb of P.P.C tense | د تېري کاملي جاري زمانې کومکي فعل |
|---|---|
| **Had been** | **Had been** |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Sub + Had + been + V- ing + Comp.<br>**Ex: Amran had been studying Pashto.** **مثال: عمران د پښتو په مطالعه مشغول و.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **Had + Sub + been + V- ing + Comp?**<br>Ex: Had Amran been studying Pashto? مثال: آیا عمران د پښتو په مطالعه مشغول و؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Had + Not + been +V- ing + Comp .**<br>Ex: Amran had not been studying Pashto. مثال: عمران د پښتو په مطالعه مشغول نه وو. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **Had + Sub + Not + been +V- ing + Comp -?**<br>Ex: Had Amran not been studying Pashto? مثال:آیا عمران د پښتو په مطالعه مشغول نه و ؟<br>**Hadn't + Sub + been + V- ing + Comp -?**<br>Ex: Hadn't Amran been studying Pashto? مثال: آیا عمران د پښتو په مطالعه مشغول نه و؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1) Usage:** Past perfect continuous is used to show the duration of an action which was in progress before another action in the past.

**۱) استعمال:** تېره كامله جاري زمانه د هغه عمل د مودې د بيانولو لپاره استعمالېږي چې په تېر "وخت" كې له بل عمل څخه مخكې د جريان په "حالت" كې وو.

**Diagram:**




Ex: I had been learning English lessons before starting computer.

مثال: زه د كمپيوټر له زده كړې څخه مخكې د انګليسي په زده كړه بوخت وم.

Ex: The police had been looking for the criminal for two years before caught him.

مثال: مخكې له دې چې هغه ونيسي پوليس دوه كاله په مجرم پسې ګرځېده.

**2) Usage:** Past perfect continuous tense is also used for the actions with emphasis which were in progress before another actions or another time in the past.

**۱) استعمال:** همدارنګه تېره كامله زمانه د هغو عملونو چې له تاكيد سره په تېره زمانه كې له نورو عملونو اويا له بل وخت څخه مخكې په جريان كې وي استعمالېږي.

Ex: He had been teaching us until we become teachers.

مثال: هغه موږ ته تدريس كاوو ترڅو چې موږ ښوونكي شوو.

# Phrase عبارت

Phrase is a group of related words which acts as a word and does not have subject and predicate and it cannot work like a sentence .

خبر لرونكی نه وي عبارت د تړل شوو كليمو يو ګروپ دی چې د يوې كليمې په حيث كار كوي او د مبتدا او او هغه د يوې جملې په څير كار نشي كولاي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Or:** Phrase is a group of words which does not make a complete sense.

**اویا**: عبارت د کلمو یو گروپ دی چې کامل مفهوم نه افاده کوي.

**Exs:** **مثالونه:**

- ✓ As likely as not. — احتمالاً، شاید
- ✓ By no means. — په هیڅ وجه.
- ✓ For all I know. — تر کومه ځایه چې زه پوهېږم.
- ✓ In course of time. — د وخت په تېرېدو سره.
- ✓ That is to say. — په بل عبارت.
- ✓ Well done. — آفـــرین.
- ✓ Shame on you. — شرم وکړه.
- ✓ As along as. — تر هغه وخت چې.
- ✓ Run away. — فرار کول.

## ✓ Phrasal verbs: عبارتي فعـلونه

Phrasal verbs are the combination of prepositions or adverbs after the verbs so as to get several meaning which are common in modern English.

عبارتي فعـلونه د فعل څخه وروسته د اضافي تورو اویا قیدونو ترکیب دی(چې) مختلفـي مانا گاني ور څخه حاصلېږي چې په عصري انگلیسي کې "ډېـر" عام دی.

❖ **Phrasal verbs are divided into two parts:**

**عبارتي فعـلونه په دوو برخـو وېشل شوي دي:**

**1. Separable phrasal verbs. جلا کېدونکي عبارتي فعـلونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



Separable phrasal verbs are those that we can use a noun or pronoun between verb and preposition.

جلا کېدونکي عبارتي فعلونه هغه دي چې مـوږ وکولاي شـو (چې) یو اسم یا ضمـیر د فعـل او اضافـي توري ترمنځ استعمال کړو

**Like:** **مثال:**

- Throw away. لري غورځول.
- Wake up. بیدارول، بیداره کېدل.
- Hand in. لېـږل، تسلیمېدل.
- Fill out. تکمیلول، جواب ورکول.
- Find out. پیدا کول، کشفـول.

Phrasal verb عبارتی فعـل

Ex: Abrahim threw the ball away. مثال: ابراهیم توپ وړاندي وغورځاوو.

Noun اسـم

**2. Inseparable Phrasal verbs. نه جلا کېدونکي عبارتي فعـلونه**

Inseparable phrasal verbs are those that we can not use a noun or pronoun between verb and preposition.

نه جلا کېدونکي عبارتي فعـلونه هغه دي چې مـوږ نشـو کولاي (چې) یو اسم یا ضمیر د فعـل او اضافي توري ترمنځ استعمال کړو.

**Like:** **لکه:**

- Call on. بلـل، دعوت کول، پوښتل.
- Come across. پیدا کېدل، ښکاره کېدل.
- Drop out. ایسته کېدل، درېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- Look after. — توجه لرل په، سرپرستې کول.
- Pass away. — مړکېدل، تسلیمېدل.

Ex: I called on Sadiq. — مثال: ما صادیق دعوت کړ.

(called on ↓ Phrasal verb; Sadiq ↓ Noun)

# Adjective صفت

Adjective is a word which modifies a noun or pronoun and gives extra information about a noun and we usually use it before a noun.

صفت هغه کلمه ده چې یواسم یا ضمیر بهتره کوي(تنظیموي) او د اسم په باره کې اضافي معلومات ورکوي او موږ معمولاً هغه له اسم څخه مخکې استعمالوو.

**Or:** Adjective is a word which completes the meaning of a noun qualifies a noun

**اویا:** صفت هغه کلمه ده چې د اسم مانا تکمیلوي او یا د یو اسم ستاینه کوي.

Ex: **Qarabagh** is a nice place. — مثال: **قره باغ** یو ښکلی ځای دی.

Ex: Ajmal is a **clever** boy. — مثال: اجمل یو **ځیرک** هلک دی.

## Note: نوټ

**1)** An adjective which is used along with a noun as an attribute is called attributive or direct adjective.

هغه صفت چې له اسم سره یو ځای د ستاینې په حیث استعمالېږي توصیفي یا مستقیم صفت بلل کېږي.

Ex: This is a **small** class. — مثال: دغه یوه **کوچنی** ټولگی دی.

Ex: Ahmad is a **talented** student. — مثال: احمد یو **با استعداده** زده کوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2)** An adjective which is used along with a verb and forms part of a predicate is called predicative or indirect adjective.

هغه صفت چې له فعل سره یوځای استعمالېږي او د خبر یوه برخه یې تشکیل کړې وي خبري یا غیر مستقیم صفت بلل کېږي.

Ex: The cat in the garden is **fat**. مثال: هغه پشي"چې" په باغ کې ده **چاغه** ده.

Ex: Sediqullah seems **happy**. مثال: صدیق الله **خوشحاله** معلومېږي.

➢ **Adjectives are divided into eight parts:**

**صفتونه په اتو برخو وېشل شوي دي:**

## 1. Adjctives of Quality. د حالت (ځرنګوالی) صفتونه

Adjective of quality are those which show the kind or quality of persons, places and things.

د حالت(ځرنګوالي) صفتونه هغه دي چې د اشخاصو، مکانونو او شیانو ډول یا ځرنګوالی بیانوي.

**Like:** Tall, Small, Beautiful ect... **لکه:** جګ، کوچنی، ښایسته اوداسي نور...

Ex: This is a **small** class. مثال: دغه ټولګی **کوچنی** دی.

Ex: Ajmal is a **tall** boy. مثال: اجمل یو **جګ** هلک دی.

**Note: نوټ**

When article (The) is used before these adjectives they are changed to nouns.

کله چې د (The) تعریف توری له صفتونو څخه مخکي استعمال شي په اسم بدلېږي.
(د اشخاصو په معرفي کولو دلالت کوي) .

Ex: **The** poor are usually generous to teach other. مثال: فقیران معمولاً له نورو څخه سخي دي.

Ex: After **the** battle they buried the dead. مثال: وروسته له جګړې څخه هغوی مړي ښخ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2. Adjectives of Quantity. د مقدار یا کمیت صفتونه

Adjectives of Quantity are those which show how much of a thing is meant.

د مقدار صفتونه هغه دي ښيي چې څومره یو شی "په نظر" کې دي. (د يو شي اندازه ښيي).

| Some Adjectives of Quantity د مقدار ځيني صفتونه | | | |
|---|---|---|---|
| Some | يوه اندازه | Any | يوه اندازه |
| Little | لېږ | Few | لېږ |
| Many | ډېر | Much | ډېر |
| All | ټول | Whole | ټول، تمام |
| No | هيڅ | Enough | کافي |

Ex: Afghans showed **<u>much</u>** courage in war.

مثال: افغانان په جګړه کې **ډېره** زړورتيا ښکاره کړه.

Ex: Azatullah found **<u>some</u>** money.

مثال: عزت الله **يوه اندازه** پيسې پيدا کړي.

**يادونه:** "Some" او "Any" دواړه له شمېرونکي او غير شمېرونکي اسمونو سره استعمالېږي په منفي بيانيه او
"Some" په مثبته بيانيه او سواليه جملو کې استعمالېږي او "Any" سواليه جملو کې استعماليږي.

Ex: We need **<u>some</u>** books.

مثال: موږ **يوه اندازه** کتابونو ته ضرورت لرو.

Ex: Do you have **<u>some</u>** water?

مثال: آيا تاسي **يوه اندازه** اوبه لرئ؟

Ex: He doesn't have **<u>any</u>** books.

مثال: هغه **يوه اندازه** کتابونه نه لري.

Ex: Do you have **<u>any</u>** pens?

مثال: آيا ته **يوه اندازه** قلمونه لري؟

**يادونه:** "Many" له جمع شمېرونکي اسمونو سره په مثبته بيانيه، منفي بيانيه او سواليه جملو کې استعماليږي او "Much"
له غير شمېرونکي اسمونو سره په منفي بيانيه او سواليه جملو کې استعماليږي.

Ex: I do have **<u>many</u>** brothers.

مثال: زه **ډېر** ورونه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: He dosen't need **much** water. مثال: هغه **ډېرو** اوبو ته ضرورت نلري.

**يادونه:** "Few" له شمېرونکي اسمونو سره او "Little" له غير شمېرونکي اسمونو سره استعماليږي.

Ex: I have **little** water. مثال: زه لېږې اوبه لرم.

Ex: I have **few** friends. مثال: زه لېږ ملګري لرم.

## 3. Numeral Adjectives عددي صفتونه

Numeral Adectives show how many persons or things are meant or in which position or degree a person or thing stands.

عددي صفتونه ښيي "چې" څومره اشخاص يا شيان په "نظر کې" نيول شوي دي اويا "دا چې" يو شخص يا شی په کوم مقام يا درجه کې قرار لري.

| Some Numeral Adjectives ځيني عددي صفتونه | | | |
|---|---|---|---|
| One | يو | Two | دوه |
| First | لومړی | Secound | دوهم |
| Many | ډېر | A lot | زيات |
| Several | څو | | |

Ex: The mouth has **32** teeth. مثال: خوله **۳۲** غاښونه لري.

Ex: I have **two** books. مثال: زه **دوه** کتابونه لرم.

❖ **The Numeral Adjective are devided in to two parts:**

**عددي صفتونه په دوو برخو وېشل شوي دي:**

## 1. Definite Numeral Adjective معين عددي صفتونه

Definit numeral adjectives are those which show an exact number.

معين عددي صفتونه هغه دي چې يو معين تعداد يا شمېر ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Like:** One, Two, First, Secound etc... **لکه:** یو، دوه، لومړی، دوهم او داسي نور...

➪ **Definite Numeral Adjectives are of three parts:**

**معـین عددي صفتونه په درې ډوله دي:**

**A. Cardinal Numbers. اصلي عددونه**

Cardinal numbers show quantity or determine the numbers.

اصلي عددونه مقدار یا د اعدادو تعینول ښيي.

**Like:** One, Two,Three, Four etc... **لکه:** یو، دوه، دري، څلور اوداسي نور...

Ex: Ahmad has **four** brothers. مثال: احمد **څلور** ورونه لري.

**B. Ordinal Numbers. رتبه يي(توصيفي) عددونه**

Ordinal Numbers show quality or the order of the things in a series.

رتبه يي عددونه کیـفیـت اویا په یوه سلسله کې د شیانو رتبه ښکاره کوي.

**Like:** First, Secound, Third, Fourth etc... **لکه:** لومړی، دوهم، دریم، څلورم او نور...

Ex: Najeeb has first position in the class. مثال: نجیب په ټولګي کې لومړی مقام لري.

**Note:** The ordinals are formed by adding (th) at the end of cordinals, except first, second , third.

**نوټ:** رتبه يي "فعلونه" د اصلي عددونو په اخېر کې د (th) په زیاتولو سره تشکیلېږی په استثنا د لومړي، دوهم، دریم.

Ex: Fourth, Fifth, sixth, tenth etc... مثال: څلورم، پنځم، شپږم، لسم اونور...

➢ Sometimes these numbers are written in contractions.

ځیني وخت دغه عددونه په مختصر شکل لیکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: First = $1^{st}$ (لومړی) Ex: Secound = $2^{nd}$ (دوهم) Ex: Third = $3^{rd}$ (دریم) Ex: Twenty first = $21^{st}$ (یویشتم)

### C. Multiplicative Numbers د تکثیر(ډېـروالي) عددونه

Multiplicative Numbers are those which show multiplication.

د تکثیر عددونه هغه دي چې کثرت (ډېروالی) بیانوي.

Ex: Double, Dozen, Two fold, Three fold etc...

مثال: ډبـل، درجن، دوه غبرگ، درې غبرگ او داسي نور...

## 2. Indefinite Nuumeral Adjectives نا معـین عـددي صفتونه

Indefinite Numeral adjectives show inexact numbers.

نامعـین عـددي صفـتونه غـیر دقـیق تعـداد ښــي.

| Some Indefinite Numeral Adjectives ځیني نا معـین عددي صفتونه | | | |
|---|---|---|---|
| Some | ځیني، یوه اندازه | **Any** | **ځیني، یوه اندازه** |
| No | **هیڅ** | **Few** | **کـم** |
| Many | **ډېـر** | **Several** | **څـو** |

Ex: I bought <u>several</u> story books. مثال: ما د کیسو څو کتابونه واخېستل.

Ex: I has **<u>many</u>** friends. مثال: زه ډېـر ملگري لرم.

## 4. Demonstrative Adjectives اشـاري صـفـتـونه

Demonstrative adjectives are those which are used before nouns and point out to a person, place, or thing.

اشاري صفتونه هغه دي چې له اسـم څخه مخکي استعمالېـږي او یو شخص، مکان اویا شـي ته اشاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Demonstrative Adjectives are consist in: اشاري صفتونه عبارت دي له | | | |
|---|---|---|---|
| This | دغه | That | هغه |
| These | دغه «جمع» | Those | هغه «جمع» |
| Such | داسي، دارنګه | The same | عين شي |

Ex: **<u>This</u>** class is small. مثال: **دغه** ټولګی کوچنی دی.

Ex: **<u>Those</u>** books are mine. مثال: **هغه** کتابونه زما دی.

❖ **Demonstrative Adjectives are of two kinds:**

**اشاري صفتونه په دوه ډوله دي:**

1) **Definite Demonstrative Adjectives معين اشاري صفتونه**

**Like**: This, These, The etc…

**لکه:** (دغه)This,(هغه) That,(دغه«جمع») The, These او داسي نور…

2) **Indefinite Demonstrative Adjectives نامعين اشاري صفتونه**

**Like:** A, An, That, Those etc…

**لکه:** (يو) A ,(يو)An ,(هغه ) That ,(هغه«جمع»)Those اوداسي نور…

5. **Possessive Adjectives ملکي صفتونه**

Possessive adjectives are those which are used before noun and show possession and ownership.

ملکي صفتونه هغه دي چې له اسم څخه مخکي استعماليږي او ملکيت او مالکيت ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Possessive Adjectives are consist in: ملکي صفـتونه عبارت دي له | | | |
|---|---|---|---|
| **My** | زما | **Your** | د تاسي، ستاسي |
| **Our** | زموږ | **Their** | د هغـوي (د دوئ) |
| **His** | د هغه (مذکر) | **Her** | د هغې |
| **Its** | د هغه (بېجان) | | |

Ex: This is **his** car. مثال: دغه د هغه موټر دی.

Ex: That is **our** class. مثال: هغه زموږ ټولگی دی.

Ex: Muzamil is **my** brother. مثال: مزمل زما ورور دی.

## 6. Interrogative Adjectives پوښتـونیز(استفـهامي) صفـتونه

Interrogative adjectives are used before nouns and ask a question.

پوښتـنـیـز صفتونه له اسم څخه مخکي استعمالېږي او سوال پوښتي.

| Interrogative Adjectives are consist in: پوښتنیز صفـتونه عبارت دي له | | | |
|---|---|---|---|
| What | څه، څه شي | **Which** | کوم، کوم شي |
| Whose | د چا | **Who** | څوک |

Ex: **Which** class are you in? مثال: تاسي په کوم ټولگی کې یاست؟

Ex: **What** is your favorite meal? مثال: د تاسي د خوښي غذا څه شي ده؟

Ex: **Who** is your close friend? مثال: د تاسي نږدې ملگري څوک دی؟

Ex: **Whose** picture is this? مثال: دغه تصویر د چا دی؟

**نوټ:** د Whose, Who, What او Which تـعریفونه د پوښتنېـزو ضمیرونو په بحث شوي دي.

## 7. Proper Adjectives خـاص صـفـتونه

Proper adjectives are those which are derived or teken from a proper noun .

خاص صفتونه هغه دي چې له خاص اسم څخه مشتق یا اخېستل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: Afghanistan, Pakistan, Kandahar, U. E. A etc…

مثال: افغانستان، پاکستان، کندهار، امارات متحده عربي او داسي نور…

### ❖ The forming of proper adjectives د خاص صفتونو تـشکيل

1) Adding (ish): Englind – English , Turkey – Turkish …..etc.

2) Adding (n): America – American, India – Indian …… etc.

3) Adding (ese): China – Chinese, Japan – Japanese ….. etc.

4) Adding (ic) : Islam – Islamic , Arabia – Arabic ……..etc.

5) Irregular forming : Greece – Greek, Egypt – Egyptian …etc.

## 8. Distributive Adjectives تـوزيعـي صـفـتونه

Distributive adjectives are used before nouns and indicate each person of a number or group.

توزيعي صفـتونه له اسمونو څخه مخکي استعمالېږي او د يو گروپ يا ډلـې په هـر شخص باندي دلالت کوي. (د يو گروپ په فرد فرد باندي دلالت کوي).

| Some Distributive Adjectives ځيني توزيعـي صفتونه | | | |
|---|---|---|---|
| Each | هر، هريو | Every | هـر، هـريو |
| Either | دواړه | Neither | هيڅ، هيڅ يو |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نوټ**

1) **Each :** is used for small groups and when the number is limited and definite.

**Eaich:** د کوچني ګروپونو لپاره استعمالېږي هغه وخت چې تعداد يې محدود او معين وي.

Ex: **__Each__** man had a chance. مثال: هر سړی يو چانس درلود.

2) **Every :** is used for large groups and when the number is not limited.

**Every:** د غټو ګروپونو لپاره استعمالېږي هغه وخت چې تعداد يې نا محدود وي.

Ex: I have studied **__every__** book in this library.

مثال: ها په دغه کتابتون کې **__هر__** کتاب مطالعه کړي دی.

3) **Either:** shows the choice between two persons or things in positive sentence.

**Either:** په مثبته جمله کې د دوو اشخاصو يا شيانو ترمنځ انتخاب ښيي.

Ex: I can read **either** book. مثال: زه کولای شم **دواړه** کتابه ولولم.

4) **Neither :** is used for two persons or things in the negative sentences and agrees with singular verb.

**Neither:** په منفي جملو کې د دوو اشخاصو يا شيانو لپاره استعمالېږي او له مفرد فعل سره مطابقت کوي.

Ex: **__Neither__** book is mine. مثال: **هيڅ يو** کتاب زما ندی.

Ex: **__Neither__** student is lazy. مثال: **هيڅ يو** شاګرد تنبل ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Comparison of Adjectives

# د صفتونو مقایسه

The usual way for comprison of adjectives is using the positive comparative and superlative degree.

د صفتونو د مقایسې لپاره معمولي طریقه د مطلقې درجې، تفضیلي درجې او عالي درجې له استعمال څخه عبارت دی.

## 1) Positive degree مطلقه (ساده) درجه

The positive degree of an adjective is the simple form of an adjec- tive, it is used when no comparison is meant.

د صفت مطلقه درجه د صفت له ساده شکل څخه عبارت ده ،"دغه" درجه هغه وخت استعمالېږي چې هیڅ مقایسه په نظر کې نه وي نیول شوې.

Ex: Nice, Clever, small, tall etc…

مثال: ښکلی، ځیرک، کوچني، اوږد یا جګ او داسي نور…

Ex: Hilmand has very **nice** views. مثال: هلمند ډېرې **ښکلي** منظرې لري.

Ex: Rafi is a **clever** student. مثال: رفیع یو **ځیرک** زده کوونکی دی.

**Note:نوټ**

When the positive degree is used for comparison of two person or things it is usually placed between (as………….. as); this form is called comparison of equality.

کله چې مطلقه درجه د دوو اشخاصو یا شیانو مقایسې لپاره استعمالېږي معمولاً (as ……….as) ځاي نیسي ؛ دغه شکل د تساوي مقایسې په نوم یادېږي.

Ex: Moheeb is **as** tall **as** his brother. مثال: محیب د خپل ورور په څېر جګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note:** But in the negative form the first (as) is changed to (so).

**نوټ:** مگر په منفي شکل کې لومړی(as) په (so) باندي بدلېږي.

Ex: Shafiqa is not **so** pretty **as** her sister. مثال: شفیقه د خپلې خور په څېر ښکلې نده.

## 2) Comparative degree تفضیلي درجه

The comparative degree of an adjective indicates the higher degree of quality than positive, it is used when we compare two persons, places or things .

د صفت تفضیلي درجه نسبت مطلقي درجې ته په عالي تره کیفیت دلالت کوي، "دغه" درجه هغه وخت استعمالېږي چې زموږ دوه اشخاصه، مکانونه اویا شیان سره مقایسه کوو.

Ex: Nicer, Cleverer, Smaller, Taller etc…

مثال: ښایسته تر، لایقتر، کوچنی تر، اوږد تر او داسي نور…

Ex: Jamil is **cleverer** than Naqib. مثال: جمیل له نقیب څخه **لایقتر** دی.

**Note: نوټ**

The preposition (than) is usually used in the comparative degree to introduce the second part of comparison.

د (than) اضافي توری په تفضیلي درجه کې استعمالېږي ترڅو د مقایسې دوهمه برخه معرفي کړي.

Ex: Kabul is nicer **than** Ghazni. مثال: کابل **نسبت** غزنی ته ډېر ښکلی دی.

**Note: نوټ**

Another way for comparison is using (less, more, most, like, alike etc).

د مقایسي یوه بله لاره د (less, more, most, like, alike او داسي نورو) استعمال دی.

Ex: Ahmad is **less** strong than Rahim. مثال: احمد له رحیم څخه کمزوري دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نـوټ**

Sometimes in the comparative degree, we do not actually name the second part of comparison.

ځینې وخت په تفضیلي درجه کې، موږ د مقایسې په دوهمه برخه عملاً نوم نه ذکر کوو.

Ex: Physics is more difficult than any other subject.

مثال: فزیک له بل هـر مضمون څخه ډېـر مـشکل دی.

Ex: Wahid is taller than any other boy.

مثال: وحید له بل هر هلک څخه لوړ تر دی.

**Note:نـوټ**

Sometimes the qualities of two persons are clear, we use article (the) before comparative degree.

ځینـي وخـت د دوو اشخـاصـو مقـایسه واضح وي، مـوږ د تفضیلي درجـې مخکـې د (The) د تعریف توری استعمالوو.

Ex: Najeeb is **<u>the</u>** cleverer of **<u>the</u>** two brothers.

مثال: نجیب له دواړو ورونو څخه لایـقـتر دی.

### 3) Superlative degree عـالـي درجـه

The superlative degree of an adjective denotes the highest degree of quality, It is used when more than two persons or things are compared.

د صفت عالي درجه د کیـفیـت په عالي ترینه درجه دلالت کوي، دغه "مقایسوي درجه" هغه وخت استعمالیږي چې له دوو څخه زیات اشخاص اویا شیان سره مقایسه کېـږي.

Ex: Nicest, Cleverest, Smallest etc…

مثال: ښایسته ترین، لایـقـترین، کوچني ترین اوداسي نور…

Ex: Bilal is the **<u>cleverest</u>** student in the class.

مثال: بلال په ټولګي کې لایـقـتریـن زده کوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نوټ**

Article (the) is usually used before the superlative degree of an adjective.

د (the) تعریف توري معمولاً د صفت له عالي درجي څخه مخکي استعمالیږی.

➢ **Foramtion of comparative and Superlative degrees:**

**د تفضیلي او عالي درجو د تشکیلیدو طریقه:**

The usual way to form the comparative and superlative degree adding ( er, est, more, most) with the positive degree.

د تفضیلي او عالي درجو د تشکیلیدو معمولي طریقه د (er, est, more, most ) زیاتول دي له مطلقي(ساده) درجې سره.

Ex: Small – **Smaller** – **Smallest**.

مثال: کوچنی ـ کوچنی تر ـ کوچنی ترین.

# Rules: قاعدې

**1)** One syllable adjectives take (er) in the comperative and (est) in the superlative forms.

یو هجایي صفت په تفضیلي شکل کي (er) او په عالي شکل کي (est) اختیاروي.

| **Positive degree**<br>**مطلقه(ساده) درجه** | **Comparative degree**<br>**تفضیلي درجه** | **Superlative degree**<br>**عالي درجه** |
|---|---|---|
| Short لنډ | Short<u>er</u> لنډ تر | Short<u>est</u> لنډ ترین |
| Tall لوړ | Tall<u>er</u> لوړ تر | Tall<u>est</u> لوړ ترین |
| Thick پنډ | Thick<u>er</u> پنډ تر | Thick<u>est</u> پنډ ترین |
| Sad پریشان | Sad<u>er</u> پریشان تر | Sad<u>est</u> پریشان ترین |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note: نـوټ**

When adjectives end in (e) only take (r) in the comparative and (st) in the superlative forms .

کله چې صفـتونه په (e) ختم شـي په تـفـضـيلي شکل يوازي (r) او په عالـي شکل کې (st) اختياروي

| Positive degree<br>مطلقه(ساده) درجه | Comparative degree<br>تـفـضيلي درجـه | Superlative degree<br>عـالـي درجـه |
|---|---|---|
| Fine نرم | Fine<u>r</u> نرم تر | Fine<u>**st**</u> نرم ترين |
| Brave زړه ور | Brave<u>r</u> زړه ور تر | Brave<u>**st**</u> زړه ور ترين |
| Wise معـقـول | Wise<u>r</u> معقول تر | Wise<u>**st**</u> معقـول ترين |

**2)** Two syllable adjectives ending in (er, ow, le, y) take (er) in the comparative and (est) in the superlative forms.

دوه هـجـايـي صفتونه چې په (er, ow, le, y) خـتـم شــوي وي په تفضيلـي شکل کې (er) په عالي شکل کې (est) اختياروي.

| Positive degree<br>مطلقه(ساده) درجه | Comparative degree<br>تـفـضيلي درجـه | Superlative degree<br>عـالـي درجـه |
|---|---|---|
| Clever لايق | Clever<u>er</u> لايـقـتر | Clever<u>**est**</u> لايقترين |
| Happy خوشحال | Happi<u>er</u> خوشحال تر | Happi<u>**est**</u> خوشحال ترين |
| Noble شريف | Nobl<u>er</u> شريف تر | Nobl<u>**est**</u> شريف ترين |

**3)** More than two syllable adjectives always form their comparative and superlative by taking (more) and (most) before the positive degree.

له دوو څخه زيات هجايي صفتونه پخپلو تفضيلي او عالي درجو کې د (more) او(most) په زياتولو سره د ساده شکل څخه مخکي تشکيلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| **Positive degree**<br>**مطلقه(ساده) درجه** | **Comparative degree**<br>**تـفـضيلي درجـه** | **Superlative degree**<br>**عـالـي درجـه** |
|---|---|---|
| Intelligent هوښيار | More intelligent هوښيار تر | Most intelligent هوښيار ترين |
| Beutiful ښايسته | More beutiful ښايسته تر | Most beutiful ښايسته ترين |

## Note: نـوټ

(Most + Simple form of adjective) without article (the) means very much.

Most د صفت له ساده شكل سره د (the) تعريف توري څخه پرته د ډېـر مانا وركوي.

Ex: Noor Aamad is **<u>most</u>** intelligent boy. مثال: نوراحمد **ډېـر** هوښيار هلک دی.

### Memory: يادابښت

The other ways for comparison of adjectives in English language is using (Like, a lik) and (less, least).

د صفتونو د مقايسې بله طريقه په انگليسی ژبه كې د (a like, like ) او ( least, less) استعمالوه نه ده.

Ex: Hayat runs **<u>like</u>** deer. مثال: حيات د هوسۍ په څېر منډې وهي.

Ex: Ahmad is **<u>less</u>** talented than Saleem. مثال: احمد له سليم څخه ډېر كم استعداده دی.

**Note:** Some of the adectives are compared irregularly.

**نـوټ:** ځيني صفـتونه په بې قاعـده ډول مقايسه كېـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Positive degree مطلقه(ساده) درجه | | Comparative degree تفضيلي درجه | | Superlative degree عالي درجه | |
|---|---|---|---|---|---|
| **Good** | **ښه** | Better | ښه تر، بهتر | Best | ښه ترين، بهترين |
| **Bad** | **بد** | Worse | بد تر | Worst | بد ترين |
| **Little** | **کم** | Less | کمتر | Leas | کمترين |
| **Much** | **زيات** | More | زيات تر | Most | زيات ترين |
| **Far** | **ليري** | Farther / Furthe | ليري تر | Farthest / Furthest | ليري ترين |
| **Old** | **بوډا** | Older / elder | بوډا تر | Oldest / eldest | بوډا ترين |

**نوټ:** (Farther) يوازی د فاصلې لپاره استعمالېږي مګر (Further) د ډېرو ځايونو لپاره استعماليږي.

**نوټ:** (Older) ډېر استعمال لري مګر (elder) محدود تر استعمال لري او معمولاً د کورنۍ د لوی غړو لپاره استعمالېږی او همدارنګه (elder) د (than) اضافي توري سره نه استعماليږي.

# Adverbs قيدونه

Adverb is a word which is used to add something to the meaning of a verb, an adjective or another adverb.

قيد هغه کلمه ده چې د فعل، صفت اويا بل قيد په مانا يو شی اضافه کوي.

**Or:** Adverb is a word which modifies the meaning of a verb , an adjective or another adverb.

**اويا:** قيد هغه کلمه ده چې د فعل، صفت اويا بل قيد مانا معينوي (بهتره کوي).

Ex: Ahmad runs **fast**. (verb). — مثال: احمد **تېز** ځغلي. (فعل).

Ex:He spoke **quite correctly**. (adverb). — مثال: هغه **کاملاً په صحيح ډول** خبري وکړي.(قيد).

Ex: The Afghans are **very** hospitable.(adjective). — مثال: افغانان **ډېر** مېلمه پال دي. (صفت).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Kinds of Adverbs

# د قید ډولونه

**Adverbs are mainaly divided into three parts:**

**قیدونه اساساً په درې برخو وېشل شوي دي:**

1. **Simple adverbs** ساده قیدونه
2. **Interrogative adverbs** پوښتنیز(استفهامي) قیدونه
3. **Relative adverbs** ربطي قیدونه

## 1. Simple Adverbs ساده قیدونه

Simple adverbs are extensively used in the daily activities.

ساده قیدونه په زیاته توګه په ورځني فعالیتونو کې استعمالېږي.

**The simple adverbs are devided into eight parts:**

**ساده قیدونه په اتو برخو وېشل شوي دي:**

### 1) Adverbs of manner: د حالت یا څرنګوالي قیدونه

These adverbs show how an action is done.

دغه قیدونه ښیي چې یو عمل څنګه سرته رسېږي.

| Some adverbs of manner د څرنګوالي ځیني قیدونه | | | |
|---|---|---|---|
| Fast | تېز | Hard | سخت |
| Slowly | آهسته | Bravely | په زړه وره توګه |
| Clearly | واضحاً، په واضح ډول | Probably | احتمالاً، په احتمالي ډول |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: Asad speaks **slowly**. مثال: آسد **آهسته** خبري کوي.

Ex: Ajmal lived **happily**. مثال: اجمل **په خوشحاله ډول** ژوند تېروي.

**Note: نوټ**

Adverbs of manner only modify verbs and are normally used after the verbs, but they can have end position.

د ځرنګوالي قیدونه یوازي فعلـونه معینوي او عموماً له فعلونو څخه وروسته استعمالېږي، مګـر کېدای شي په اخېر کې "هم" کېدای شي موقعیت اختیار کړي.

Ex: Asif speaks politely. مثال: آصف مادبانه خبري کوي.

Ex: The doctor examined the patient carefully. مثال: ډاکتر په دقت سره ناروغ معاینه کړ.

## 2) Adverbs of time: د وخت قیدونه

These adverbs show when an action happened.

دغه قیدونه ښیي چې یو عمل څه وخت واقع شوي ده.

**Like:** Now, yesterday, tomorrow etc….

**لکه:** اوس، تېـره ورځ، سبا او داسي نور…

Ex: We will come here **tomorrow**. مثال: موږ به **سبا** دلته راشو.

➢ **Adverbs of time are devided into two parts:**

**د وخت قیدونه په دوو برخو وېـشل شوي دي:**

### A. Definite adverbs of time د وخت معین قیدونه

These adverbs show exact time. دغه قیدونه معین وخت ښـیي.

Ex: I wrote a letter **at five o'clock last night**.

مثال: ما **تېره شپه په پنځه بجې** یوه رساله ولیکله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**B. Indefinite adverbs of time د وخت نامعین قیدونه**

These adverbs show inexact time. دغه قیدونه نامعین وخت ښيي.

**Like:** Already, ago, early etc… لکه: مخکي، پخوا، وختي او داسي نور…

Ex: I see him **many times**. مثال: زه هغه **ډېر ځلي** وینم.

## 3) Adverbs of place: د مکان قیدونه

These show where an action happened.

دغه قیدونه ښيي چې یو عمل چېري واقع شوی دی.

**Like:** Here, there, up, down, inside, outside etc…

**لکه:** دلته، هلته، پورته، کښته، په داخل کې، دباندي او داسي نور…

Ex: Jamal came **here** yesterday. مثال: جمال تېره ورځ **دلته** راغي.

## 4) Adverbs of reason: د علت یا نـتېجي قیدونه

These adverbs show why an action happened.

دغه قیدونه ښيي چې ولي یو عمل واقع شوی دی.

**Like:** So, Therefore, Because etc… **لکه:** نو، د دې لپاره، ځکه او داسی نور…

Ex: Sadiq succeeded in the exam **because** he studied hard.

مثال: صادق په امتحان کي کامیاب شو **ځکه** هغه پراخه مطالعه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5) Adverbs of Affirmation and negation: د تاید او انکار قیدونه

These adverbs show agreement or disagreement with speaker.

دغه قیدونه له ویونکي سره موافقیت او یا مخالفت ښیي.

**Like:** No (نه), Of course (البته), May be (ممکن), Sure (یقیناً), Yes (هو) ,Surely (بېشکه), Probably (ګوندی) etc…

Ex: Can you speak French? **Yes** I can.

مثال: آیا ته په فرانسوي خبري کولاي شي؟ **هو** زه يي کولاي شم.

Ex: Do you know him? **<u>No</u>**, I do not.

مثال: آیا ته هغه پېژني؟ **<u>نه</u>**، نه يې پېژنم.

## 6) Emphatic adverbs. تأکیدي قیدونه

These adverbs show emphasis on an action.

دغه قیدونه د یو عمل په "سرته رسولو" تاکید ښیي.

**Like:** Just (فقط), Even (حتی، هم), Too (هم) etc…

Ex: He **even** smokes cigarette now.

مثال: هغه **حتا** اوس هم سګرېټ څکوي.

## 7) Nameral Adverbs عددي قیدونه

Adverbs of number are used to show how often an action happen- ed.

عددي قیدونه د یو عمل "سرته رسول" ښیي چې څو ځله واقع شوی دی.

**Like:** Once, Twice, Three times etc…

**لکه** : یو ځلي، دوه ځلي، درې ځلي او داسي نور…

Ex: I have seen Kandahar **<u>twice</u>**.

مثال: ما دوه ځلي کندهار لېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **Numeral adverbs are divided into two parts:**

**عـددي قيدونه په دوه برخو وېشل شوي دي:**

**a) Definit numeral adverbs: معين عددي قيدونه**

These adverbs show exact number. دغه قيدونه معين تعداد ښيي.

**Like:** Once (يو ځلي), Twice (دوه ځلي), Firistly (اولاً), Secondly (دوهـم وار) etc…

Ex: He tried **twice**. مثال: هغه دوه ځلی کوښښ وکړ.

Ex: I have gone to Mazar **once**. مثال: زه يو ځل مزار ته تللی يم.

**b) Indefinite numeral adverbs: نامعين عددي قيدونه**

These adverbs show inexact number. دغه قيدونه نامعين تعداد ښيي.

**Like :** Sometimes (ځـينې وختـونـه), Often (اکثراً وخت), Usually (معـمولاً) , Always (همېشه), Several times ( څو ځلي), Seldom(کله کله), Rarely(کله کله) etc…

Ex: Ghulam Riza **often** goes to Kandahar. مثال: غلام رضاء **اکثره وخت** کندهار ته ځي.

**8) Adverbs of Degree and Quantity: د درجې او مقدار قيدونه**

These adverbs show in what degree an action is done.

دغه قيدونه ښيي چې يو عمل په کومه درجه سرته رسېږي.

**Like:** Very (ډېر), Quite (کاملاً), Too (زيات), Enough (کافي), Much (ډېر) etc…

Ex: Ghulam Riza runs **very** fast. مثال: غلام رضا **ډېر** تېز ځغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2. Interrogative Adverbs: پوښـتـنيز (استـفـهامـي) قـيدونه

The interrogative adverbs are used to ask question.

پوښتنيز قيدونه د سوال د تپوسني لپاره استعمالېـږي.

| Interrogative Adverbs پوښتـنيـز قيدونه | | | |
|---|---|---|---|
| Why | ولې | Where | چېري، چېرته |
| When | كله، څه وخت | How long | څومره وخت |
| How often | اكثراً څومره | | |

Ex: **Where** are you living? — مثال: تاسي چېري ژوند كوي؟

Ex: **How often** does he play chess? — مثال: هغه اكثراً څومره د سطرنج لوبه كوي؟

Ex: **How long** will you continue this class? — مثال: تاسي به څومره وخت دغه ټولگی ته ادامه وركړئ؟

## 3. Relative Adverbs ربـطـي قـيدونه

The relative adverbs are used to join two sentences.

ربطي قيدونه د دوو جملو د نښلولو لپاره استعمالېـږي.

| Relative Adverbs ربطـي قيدونه | | | |
|---|---|---|---|
| Why | ولې | Where | چېري، چېرته |
| When | كله، څه وخت | How | څومره |
| How often | اكثره څومره | If | كه چېري |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Formation of Adverbs

# د قیدونو جوړونه

Most of the advebs are formed by (ly) at the end of adjectives.

ډیر قیدونه د صفت په اخېر کې د (ly) په واسطه جوړېږي.

**Like:** Perfect – Perfect**ly** (کامل ــ کاملاً), Quick – Quick**ly** (تېز– په تېزي سره)

## Rules: قاعدې

**1)** Adjectives ending in (y) change (y) into (I) and add (ly).

هغه صفتونه چې په (y) ختم شوي وي (y) په (I) بدلېږي او(ly)علاوه کېږي.

Ex: Happy – **Happily.** مثال: خوشحال ــ په خوشحالي سره.

Ex: Heavy – **Heavily.** مثال: سخت ــ په سختی سره.

**2)** Adjectives ending in (ible) and (able) drop (e) and add (y).

هغه صفتونه چې په (ible) او (able) ختـم وي (e) له منځه ځي او (y) علاوه کېږي.

Ex: Capable – **Capably.** مثال: وړ ــ په وړ توب سره.

Ex: Possible – **Possibly.** مثال: ممکـن ــ احتمالاً.

**3)** Adjectives ending in (e) take (ly) without any change.

هغه صفتونه چې په (e) ختم وي بې له کوم تغیر څخه (ly) اختیاروي.

Ex: Polite – **Poliely.** مثال: مادب ــ مادبانه.

Ex: Mere – **Merely.** مثال: صرف ــ صرفاً.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Exceptions: استـثـناوي**

**Like:** Due – Duly. (نتېجه ـ په نتېجه کې), Whole – Wholly. (کامل ـ کاملاً)

True – Truly. (حقيقت ـ حقـيقتاً)

**4)** Adjectives ending in a single (l) take (ly) but adjectives ending in (ll) take only (y).

هغه صفتونه چې په (l) ختم وي (ly) اختياروي مگـر هغه صفـتونه چې په (ll) ختم وی يوازي (y) اختياروي.

Ex: Careful – Carfull<u>y</u>. مثال: دقت ــ په دقت سـره.

Ex: Dull – Dull<u>y</u>. مثال: خسته ـ په خستگی سره.

**Note: نـوټ**

Some adjectives and adverbs have the same form. ځينې صفتونه او قيدونه عين شکل لري.

**Like:** Early (وختي، په وخت سره), Deep (ژور، په ژوروالي سره), Fast (تېز، په تېزي سره)

Low ( کښته، په کښته والي سره), Far (لري، په لري والي سره), High (لوړ، په لوړوالي سره)Hard (سخت، په سختی سره) etc...

Ex: Corolla is a **<u>fast</u>** car.(adjective). مثال: کورولا يو **تېز** موټر دی. (صفت).

Ex: Asad runs **<u>fast</u>**. (adverb). مثال: آسد **په تېزي سره** ځغلي. (قـيد).

**5)** Some adjectives are combined with (a) , (be) and (to) and form adverb.

ځيني صفتونه د (a) ، (be) او (to) په مختاړي سره ترکيـبېږي.

Ex: Broad – <u>A</u>broad مثال: پلن ـ په پلنوالي سره .

Ex: Live – <u>A</u>live. مثال: ژوندي ـ په ژوندي توب سره.

Ex: Head – <u>A</u>head. مثال: ابتداء ـ په ابتداء سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Comparision of Adverbs

# د قیدونو مقایسه

Many of the adverbs are compared as adjectives and have three degrees of comparison.

ډېر قیدونه عیناً د صفتونو په څېر مقایسه کېږي او د مقایسې درې درجې لري.

**1)** One syllable adverbs form their comparative by adding (er) and the superlative by (est).

یو هجایي قیدونه پخپل تفضیلي شکل کې د (er) او په عالي "شکل" کې د (est) په اضافه کولو تشکیلیږي.

| **Positive degree**<br>**(ساده ) درجه** | **Comparative degree**<br>**تفضیلي درجه** | **Superlative degree**<br>**عالي درجه** |
|---|---|---|
| Fast په تېزي سره | Faster په ډېر تېزي سره | Fast<u>est</u> په ډېر زیات تېزي سره |
| Hard په سختۍ سره | Harder په ډېر سختۍ سره | Hard<u>est</u> په ډېر زیات سختۍ سره |
| Soon ژر | Sooner ډېر ژر | Soon<u>est</u> ډېر زیات ژر |

**2)** Two or more than two syllable adverbs take (more) in the comparative and (most) in the superlative forms.

دوه یا له دوو څخه زیات هجاء "لرونکي" قیدونه په تفضیلي شکل کې (more) او په عالي شکل کې (most) اختیاروي.

| **Positive degree**<br>**ساده درجه** | **Comparative degree**<br>**تفضیلي درجه** | **Superlative degree**<br>**عالي درجه** |
|---|---|---|
| Quickly په چابکي سره | <u>More</u> quickly په ډېر چابکي سره | <u>Most</u> quickly په ډېر زیات چابکي سره |
| Bavely په زړه ورتوب سره | <u>More</u> bravely په ډېر زړه ورتوب سره | <u>Most</u> bravel په ډېر زیات زړه ورتو ب سر |

**3)** Some of the adverbs are formed irregularly.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیني قیدونه په بي قاعده ډول تشکیلېږي.

| **Positive degree** **ساده درجه** | **Comparative degree** **تفضیلي درجه** | **Superlative degree** **عالي درجه** |
|---|---|---|
| Well په ښه والي سره | Better په ډېر ښه والي سره | Best په ډېر زیات ښه والي سره |
| Little په لیږوالي سره | Less په ډېر لیږوالي سره | Least په ډېر زیات لیږوال ي سره |

➢ **The correct uses of some adverbs:** **د ځیني قیدونو دقیق استعمالات**

## 1. "Good": ښــه

"Good" is an adjective which shows condition and modifies nouns.

"Good" هغه صفت ده چې د کیفیت یا حالت او د اسمونو ستاینه بیانوي.

Ex: Ahsan is a **good** student.

مثال: احسان یو ښه زده کوونکي دی.

## 2. "Well": ښــه

"Well" is an adverb which expresses good health and modifies verbs.

"Well" هغه قیده دی چې ښه صحت او د فعلونو ستاینه بیانوي.

Ex: Ahmad always feels well.

مثال: احمد هر وخت ښه احساس کوي.

## 3. "Enough": کـافـي، بـس

"Enough" is an adverb which is used after adjective or adverb, and is sometimes as adjective, is used before nouns.

"Enough" هغه قید دی چې له صفت یا قید څخه وروسته استعمالېږي، او ځیني وخت د صفت په حیث له اسمونو څخه مخکي استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: I have **enough** time to stay here. مثال: زه دلته د پاتي کېدو لپاره کافي وخت لرم.

## 4. "Very": ډېر

"Very" is an adverb which is used before adjectives and other adverbs to show degree.

"Very" هغه قيد دی چې له صفتونو او نورو قيدونو څخه مخکي استعمالېږي او درجه ښيي.

Ex: This hous is **very** large. مثال: دغه کور ډېر غټ دی.

## 5. "Much": ډېر، زيات

"Much" is both adverb and adjective which shows amount or quantity , it can be also used before comparative degree.

"Much" هـم قيد دی هـم صفت چې مقدار او اندازه بيانوي، او همدارنگه کېداي شي له تفضيلي څخه مخکي استعمال شي.

Ex: This hous is **much** large than that hous.

مثال: دغه کور له هغه کورڅخه ډېر لوي دی.

## 6. "Still": لا تراوسه، تراوسه

"Still" is used for a period of time that continued from the past to present, and it is used in declarative (affirmative, negative and question) sentences.

"Still" د وخت د دوران لپاره پکار وړل کېږي چې له ماضي څخه تراوسه ادامه لری،او دغه "قيد" په خبري (مثبت، منفي او سوالي) جملو کې استعمالېږي.

Ex: Are you **still** working now? مثال: آيا ته **تراوسه** پوري په کار مصروف يې؟

Ex: It is **still** raining. مثال: **تر اوسه** پوري باران ورېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 7. "Yet": لاتـراوسـه، تـراوسـه

"Yet" is used to show duration from present to future. It is used in question and negative statement sentences.

"Yet"د جریان لپاره له حال څخه تر راتلوونکي پوري استعمالېږي. دغه قید په سوالیه او منفي بیانیه جملو کې استعمالېـږي.

Ex: Abdul Hadi has not **yet** completed the work.

مثال: عبدالهادي **تراوسه** کار نده تکمیل کړي.

Ex: Is the lunch ready **yet** ?

مثال: آیا **تر اوسه** د غرمې ډوډۍ اماده ده ؟

## 8. "Already": مـخـکـې، پـخـوا

"Already" is used to say that something is in the present or past but not the future.

"Already" د یو شي د موجودیت لپاره په حال یا ماضي کي استعمالېـږي مگـر په راتلوونکي کې نه استعمالیږي.

Ex: I have **<u>already</u>** gone to Pakistan.

مثال: زه **پخوا** پاکستان ته تللی یـم.

## 9. "Either": هـدارنگـه، هــم

"Either" means (too or also) it is used in negative sentences the adverbs like (as well ), (also), (too) are change to (either).

"Either" د (هم، همدارنگه) مانا ورکوي په منفي جملو کې قیدونه لکه (as well )،
(too), (also) په (either) باندي بدلېـږي.

Ex: He is not a teacher **either**.

مثال: هغه **هـم** مـعـلـم ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 10. "Too": هم، همدارنگه

"Too" is used at the end of the sentences. "Too" د جملو په اخير کې استعمالېږی.

Ex: He will fail in exam **too**. مثال: هغه به **هم** په امتحان کې ناکام شي.

### 11. "Also": هم، همدارنگه

"Also" is usually used at the middle and at the end of the sentences.

"Also" معمولاً د جملو په منځ او اخير کې استعمالېږي.

Ex: Sabir is a doctor **also**. مثال: صابر **هم** يو ډاکتر دی.

Ex: Sabir is **also** a doctor. مثال: صابر **هم** يو ډاکتر دی.

### 12. "Fairly": نسبتاً، په مناسبه توگه، په متوسط ډول

"Fairly" is used to express a positive meaning.

"Fairly" د مثبت مفهوم د بيانولو لپاره استعمالېږي.

Ex: This water is **fairly** hot. مثال: دغه اوبه **نسبتاً** گرمي دي.

### 13. "Rather": له حده زيات ، نسبتاً ، تر يوه اندازه

"Rather" is used to express a negative idea and discofort.

"Rather" د منفي مفکورې او نا ارامتيا لپاره استعمالېږي.

Ex: This water is **rather** hot. مثال: دغه اوبه له حده زياتي گرمي دي.

### 14. "Only": فقط، يوازې

"Only" is used before the words and it modifies.

"Only" له کلمو څخه مخکې استعمالېږي او هغه معينوي.

Ex: He **only** fixed the car. مثال: هغه **فقط** موټر ترميم کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Future perfect tense

# راتلوونکې کامله زمانه

| Helping verbs of F. P tense | د راتلونکې کاملې زمانې کومکي فعلونه |
|---|---|
| Will have / Shall have | Will have / Shall have |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Sub + Will /Shall + Have + $V_3$ + Comp.**<br>**Ex: I will have finished the work.** **مثال: ما به کار ختم کړی وي.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **Will /Shall + Sub + Have + $V_3$ + Comp?**<br>Ex: Will I have finished the work? مثال: آیا ما به کار ختم کړی وي؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Will /Shall + Not + Have + $V_3$ + Comp .**<br>Ex: I will not have finished the work. مثال: ما به کار ختم کړی نه وي. |
| Negative interrogative Form<br>منفي سواليه شکل | **Will /Shall +Sub + Not + Have + $V_3$ + Comp -?**<br>Ex: Will I not have finished the work? مثال: آیا ما به کار ختم کړي نه وي؟<br>**Won't/Shan't + Sub + Have + $V_3$ + Comp -?**<br>Ex: Won't I have finished the work? مثال: آیا ما به کار ختم کړي نه وي؟ |

1) **Usage:** Future prefect tense is used to show an action which will have been completed before some specified time or before another action in the future.

**۱) استعمال:** راتلوونکې کامله زمانه د هغه عمل د بيانولو لپاره استعمالېږي چې په راتلوونکي کې به له معين وخت څخه مخکي اويا له بل عمل څخه مخکي تکميل شي.

Ex: They will have eaten food before we arrive home.

مثال: زموږ له را رسېدو څخه مخکي به دوی ډوډۍ خوړلي وي.

Ex: I will have prepared every thing when you arrive home.

مثال: تر هغه وخت چې تاسي بيرته کور ته راګرځي ما به ټول شيان چمتو کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2) Usage:** Future perfect tense is used to show an action that will be completed at some unspecified time in the future.

**۱) استعمال:** راتلوونکې کامله زمانه د هغه عمل د بیان لپاره استعمالېږي چې په راتلوونکي کې به په یو نا معین وخت کې تکمیل شوي وي.

Ex: We will have completed the homework 7:00 in the morning.

مثال: موږ به تر ۰۰:۷ بجو پوري کورنۍ کار ختم کړي وي.

Ex: Ahmad will have started the work by next April. مثال: احمد به تر راتلوونکي آپریل پوري کار ختم کړي وي.

# Future perfect continuous tense

# راتلونکې کامله جاري زمانه

| Helping verbs of F. P tense | د حال کاملي زمان کومکي فعلونه |
|---|---|
| Will have been / Shall have been | Will have been / Shall have been |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Sub + Will /Shall + Have + been + V-ing + Comp.**<br>**Ex: Ali will have been playing chess. مثال: علي به د سطرنج په لوبه بوخت وي.** |
| Question form<br>سواليه شکل | **Will /Shall + Sub + Have + been + V-ing + Comp?**<br>Ex: Will Ali have been playing chess? مثال: آیا علي به د سطرنج په لوبه بوخت وي؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Will /Shall + Not + Have + been + V-ing + Comp.**<br>Ex: Ali will not have been playing chess. مثال: علي به د سطرنج په لوبه بوخت نه وي. |
| Negative interrogative Form<br>منفي سواليه شکل | **Will/Shall + Sub + Not + Have + been + V-ing+Comp -?**<br>Ex: Will Ali not have been playing chess? مثال: آیا علي به د سطرنج په لوبه بوخت نه وي؟<br>**Won't/Shan't + Sub + Have + been + V-ing + Comp -?**<br>Ex: Won't Ali have been playing chess? مثال: آیا علي به د سطرنج په لوبه بوخت نه وي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1) Usage:** The future perfect continuous tense is used to show the dura-tion of an action which will be continuing before some specified time or before another action in the future.

**۱) استعمال:** راتلوونکې کامله جاري زمانه د هغه عمل د جريان د ښودلو لپاره استعمالېږي چې په راتلوونکې کې به له معين وخت څخه مخکې اويا له بل عمل څخه مخکې د دوام په حالت کې وی.

**Diagram:**




Ex: They will have been reading since night.

مثال: هغوی به له شپې راپدې خوا په لوستلو مشغول وي.

Ex: I will have been sleeping for two hours by the time he gets home.

مثال: څو چې هغه کور ته راځي ما به د دوو ساعتو لپاره خوب کړی وي.

Ex: You will have been playing volleyball with us for two hours tomorrow.

مثال: تاسي به سبا له موږ سره د دوو ساعتو لپاره د واليبال په لوبه مشغول ياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Clause

# قضیه، شرط، فرض

A group of words which has subject and predicate and forms part of a sentence is called clause.

هغه گروپ د کلمو چې د مبتدا او خبر لرونکي وي او د جملې یوه برخه جوړه کړي د قضیې په نوم یادیږي.

Ex: That he was fine. مثال: چې هغه ښه وو.

Ex: Why I came here. مثال: زه ولي دلته راغلم.

Ex: Which I bought last year. مثال: چې ما تېر کال واخېست.

But if we add another sentence with each of them, then they can make a complete sense.

مگر که چېري یوه بله جمله له هغوی هر یو سره اضافه کړو، په هغه وخت کې به بیا کامل مفهوم افاده کړی.

Ex: **Ahmad said** that he was fine. مثال: **احمد وویل** چې هغه ښه وو.

Ex: **This is the car** which I bought last year. مثال: **دغه موټر دی** چې ما تېر کال واخیست.

The sentences which support them are called principal and the others are subordinating clauses.

هغه جملې چې د قضیي حمایت کوي د اصلي قضیې او نوري د فرعي قضیو په نوم یادیږي.

## 1) Principle (Independent) clause: اصلي (مستقله) قضیه

The part sentence which makes complete meaning is called principal clause.

د جملې هغه برخه چې کامله مانا افاده کړي د اصلي قضیې په نوم یادیږي.

Ex: This is a student. مثال: دغه یو زده کوونکی دی.

Ex: That is a play. مثال: هغه یوه لوبه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) (Dependent) clause: فـرعـي( غيرمسـتقله) قضيه

The part of the sentence which does not express a complete mean- ing and can not stand alone is called subordinating clause.

د جملې هغه برخه چې مانا بيان نکړي او په تنهايي سره "مفهوم" ورنکړي د فرعي قضيې په نوم يادېږي.

Ex: That he likes very much.

مثال: چې هغه ډېـر زيات خوښوي.

**Note: نوټ**

The sprincipal and subordinating clause are connected by conjunct -tion such as ;( who, whom, whose, which, that, what, when, where) etc...

) او داسی اصلي او فـرعي قضيې د ربطي توري په واسطه لکـه( وصليږي.what, that, which, whose, whom, who
when,نورو... سره

- **The clauses are divided into three parts:**

**قضـي په دريو برخو وېشـل شـوي دي:**

1) Noun Clause. اسـمـي قـضـيه
2) Adjective Clause. صفـتي قـضـيه
3) Adverb Clause. قـيـدي قـضـيه

## 1) Noun Clause اسـمـي قـضـيـه

A group of words which has subject and predicate of its own and does the work of a noun is called noun clause.

هغه گروپ د کلمو چې د مبتدا او خبر لرونکي وي او د اسـم کار ترسره کړي د اسمي قضيي په نوم يادېږي.

Ex: Naim said **that he would buy a new car.**

مثال: نعيـم وويـل **چـې هـغـه يو نـوی مـوټـر اخـيـست.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: What he says is not logical.

مثال: **څه شي چې هغه وايي** منطقي نده.

Ex: Ali mentioned that **he passed the exam successfully**.

مثال: علي ذکر کړه **چې امتحان یې په بریالی توګه ترسره کړ.**

## 2) Adjective Clause: وصفي قضیه

A group of words which has subject and predicate of its and does the work of an adjective is called adjective clause.

هغه ګروپ د کلیمو چې د مبتدا او خبر لرونکي وي او د صفت کار ترسره کړي د وصفي قضیې په نوم یادېږي.

Ex: Karrim is a boy **who can speak Pashto well**.

مثال: کریم هغه هلک دی **چې په کولای شي په پښتو ښه خبري وکړي.**

Ex: He is the student who **won the race**.

مثال: هغه زده کوونکي ده **چې د مسابقي ورونکی شو.**

Ex: This is the book **which I want to present it to you**.

مثال: دغه کتاب دی **چې غواړم هغه تاته ډالی کړم.**

## Note: نوټ

Some times especially conversion the relative pronoun are omitted when the sentence has object case.

ځیني وختونه معمولاً کله چې په خبرو اترو یا مکالمه کې جمله مفعولي حالت ولري موصولي (ربطي) ضمیر له منځه وړل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال:

- This is the chair **which** he sits on. دغه څوکۍ ده چې هغه پرې کښېني.
- This is the chair he sits on. دغه چوکۍ ده "چې" هغه پرې کښېني.

**Note:نوټ**

Some times the principal clause is divided into two parts by subor- dinating adjective clause.

ځيني وختونه اصلي قضيه د فرعي وصفي قضي په واسطه په دوو برخو وېشل کېږي.

Ex: The man whom I met yesterday is one of my old friends.

↓ د اصلي قضي لومړۍ برخه — ↓ فـرعـي قـضـيـه — ↓ د اصلي قضيي دوهمه برخه

مثال: چا سره چې ما تېره ورځ ملاقات وکړ يو زما له ملګرو څخه و.

Ex: The house which he lives in is very beutiful.

↓ د اصلي قضي لومړۍ برخه — ↓ فرعي قـضـيـه — ↓ د اصلي قضيي دوهمه برخه

مثال: کور چې هغه پکي ډېر ښکلی ژوند تېروي.

### 3) Adverb Clause: قـيـدي قـضـيـه

A group of words which has subject and predicate of the own and does the work of an adverb is called adverb clause.

هغه ګـروپ د کلمو چـې د مبتـدا او خبـر لرونکـی وي او د "قـيـد" کار ترسره کړی د قيد ي قضيې په نوم يادېـږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: He did not study **<u>so he failed in the exam</u>**.

مثال: هغه درس و نه وایه **نو په امتحان کې ناکام شو.**

Ex: The thief escapted **when he saw the police**.

مثال: **کله چې یې پولیس ولید** غل وتښتېد.

Ex: If you study your lessons, you will succeed in the exam.

مثال: که چېرې ته خپل درسونه ووایې، په امتحان کې به کامیاب شې.

# Additions to remarks
# ضمایـم په نظریاتو(ملتیاوو)

Additions to remarks show coordination or discoordination between two persons or things.

ضمایم په نظریاتو د دوو اشخاصو یا دوو شیانو ترمنځ کې برابري او نا برابري ښکاره کوي.

Ex: He is an engineer and I am too. — مثال: هغه یو انجنیر دی او زه هـم.

Ex: He is a student but Ajmal is not. — مثال: هغه یو زده کوونکی دی مگر اجمل ندی.

**Note: نـوټ**

Remark is the first longer sentence which expresses the first idea.

نظریه(بیانیه) لومړنۍ درازتره جمله ده چې لومړۍ مفکوره بیانوي.

Ex: **<u>Najeeb is a clever student</u>**. — مثال: نجیب یو لایق زده کوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note:نوټ**

Addition is the second shorter sentence which is added at the end of the remark and expresses the second idea.

د دوهمې لنډ ترې جملې ضميمه ده چې د نظريې په اخير کې اضافه کېږي او دوهمي مفکوره بيانوي.

Ex: Hikmat is too. مثال: حکمت هـم.

**Note: نـوټ**

**1)** Affirmative additions to affirmative remarks are formed by:
(Subject + auxiliary + too) or (So + auxiliary + Subject).

مثبت ضمايم په مثبتو نظرياتو د په واسطه تشکيلـېږي. (Subject + auxiliary + too) او (So + auxiliary + Subject)

Ex: He comes to school and **<u>I do too</u>**. مثال: هغه ښووځي ته راځي او زه هـم.

Ex: He could play football well **<u>so could his friends</u>**.

مثال: هغه وکولاي شواى د فوټبال ښه لوبه وکړي او ملګري يې هـم.

**2)** Negative additions to affirmative remarks are formed by:
(But + Subject + negative auxiliary).

منفـي ضمايم پر نظرياتو د (But + Subject + negative auxiliary) په واسطه تشکيلېږي.

Ex: He is a teacher **<u>but I am not</u>**. مثال: هغه يو ښوونکی دی مګر زه نه يم.

Ex: I saw him yesterday **<u>but he didn't.</u>** مثال: ما هغه تېره ورځ وليد مګر هغه زه ونه لېدم.

**3)** Affirmative additions to negative remarks are formed by:
(But + Subject + auxiliary).

مثبت ضمايم په منفي نظرياتو د (But + Subject + auxiliary) په واسطه تشکيلـېږي.

Ex: He can't speak Pashto **<u>but I can</u>**. مثال: هغه په پښتو خبري نشي کولای مګر زه يې کولاي شم.

Ex: Muhammad has failed **<u>but I haven't</u>**. مثال: محمد ناکام شوی دی مګر زه نه يم شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4)** Negative additions to negative remarks are formed by:

(Sub + auxiliary + neither) and (Sub + negative auxiliary + either).

منفي ضمایم په منفي نظریاتو د (Sub + auxiliary + neither) او (Sub + negative auxiliary + either) په واسطه تشکیلېږي.

Ex: I can not speak Urdu and **<u>he can neither</u>**. مثال: زه په اُردو خبري نشم کولای او هغه يې هم نشي کولای.

Ex: I will not fail in the exam and he **<u>will not either</u>**. مثال: زه به په امتحان کې ناکام نشم او هغه به هم نشي.

# Simple Future in the past tense
# په تېره کې راتلوونکې ساده زمانه

| **Helping verbs** | **کومکي فعلونه** |
|---|---|
| **Would / Should** | **Would / Should** |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | Sub + Would / Should + $V_1$ + Comp.<br>Ex: I would visit him in the park. مثال: زه به له هغه سره په پارک کې گورم. |
| Question form<br>سواليه شکل | **Would / Should + Sub + $V_1$ + Comp?**<br>Ex: Would I visit him in the park? مثال: آيا زه به له هغه سره په پارک کې وگورم؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Would / Should + Not + $V_1$ + Comp .**<br>Ex: I would not visit him in the park. مثال: زه به له هغه سره په پارک کې ونه گورم. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **Would / Should +Sub + Not + $V_1$ + Comp -?**<br>Ex: Would I not visit him in the park? مثال: آيا زه به له هغه سره په پارک کې ونه گورم؟<br>**Wouldn't / Shouldn't + Sub + $V_1$ + Comp -?**<br>Ex: Wouldn't I visit him in the park? مثال: آيا زه به له هغه سره په پارک کې ونه گورم؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



1) **Usage:** Simple future in the past is used to show an action which would take place at some specified time in the future of the past (a future that was considered future in the past time) but the action did not take place.

**۱) استعمال:** په تېره کې راتلوونکې ساده زمانه د هغه عمل د بیان لپاره استعمالېږي چې په تېر مشخص راتلوونکي وخت (هغه راتلوونکی چې په ماضي کې راتلوونکی وي) کې به سرته رسېده مگر عمل واقع شوی ندی.

**Note:** Future in the past tenses are usually followed by the impro- bable conditional sentences.

**نوټ:** په ماضي کې راتلوونکي زمانې معمولاً د ناممکنه شرطیه جملو په واسطه تعقیبېږي.

Ex: I would do as you said if I had time.

مثال: که چېري ما وخت درلودای څنگه چې مې درته ویلي سرته مې رساوو.

Ex: I should happy, if I had money as you have.

مثال: که مې د ستا په څیر پیسې درلودای ، خوشحاله به وم.

Ex: You would not live such a small house, if you were a millinair.

مثال: که چېري ته میلونر وای، تا به په دومره کوچني کور کې ژوند نه کاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Future in the past continuous tense

# په تېره جاري کې راتلوونکې زمانه

| Helping verbs | کومکي فعلونه |
|---|---|
| Would be / Should be | Would be / Should be |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Sub + Would / Should + Be + $V_1$- ing + Comp.**<br>Ex: He would be playing chess. مثال: هغه به د سطرنج په لوبه مصروف وي. |
| Question form سواليه شکل | **Would / Should + Sub + Be + $V_1$- ing + Comp?**<br>Ex: Would he be playing chess? مثال: آيا هغه به د سطرنج په لوبه مصروف وي؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Would / Should + Not + Be + $V_1$- ing + Comp .**<br>Ex: He would not be playing chess. مثال: هغه به د سطرنج په لوبه مصروف نه وي. |
| Negative interrogative Form<br>منفي سواليه شکل | **Would / Should + Sub + Not + Be + $V_1$- ing + Comp -?**<br>Ex: Would he not be playing chess? مثال: آيا هغه به د سطرنج په لوبه مصروف نه وي؟<br>**Wouldn't / Shouldn't + Sub + Be + $V_1$- ing + Comp -?**<br>Ex: Wouldn't he be playing chess? مثال: آيا هغه به د سطرنج په لوبه مصروف نه وي؟ |

1) **Usage:** Future in the past continuous tense is used to show the duration of an action that would be in progress at some specifi ed time in the future of the past but the action did not happen.

۱) **استعمال:** په تېره جاري کې راتلوونکې زمانه د هغه کار د جريان لپاره استعمالېږي چې په معين وخت کې به په راتلوونکې تېره زمانه کې د جريان په حالت کې وي مگر عمل ندی واقع شوی.

Ex: The kids would be going to the pool if the parents admitted them.

مثال: که چېرې مور او پلار ماشومانو ته اجازه ورکړې وه هغوی به حوض ته تلل.

Ex: I would not be calling him if I didn't have a necessity.

مثال: که مې ضرورت نه درلودای تیلیفون مې ورته نه کاوو.

**نوټ:**دغه زمانه د راتلوونکي جاری زماني په ځاي په غيرمستقيم خبرو کښې استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Conjunction
# د وصل (ربط) توری

Conjunction is a word which is used to join two words, two sentences, two phrasws and two clauses.

د ربـط توری هغـه کلمه ده چې د دوو کلمو، دوو جملو، دوو شـیانو او دوو قـضیو د وصلولـو لپاره استعمالېـږي.

Ex: Arfan **and** Muzamil are brothers. مثال: عـرفان **او** مزمل ورونه دي.

Ex: I was present **but** he was absent. مثال: زه حاضر وم **مگر** هغه غیر حاضر وو.

- **Conjunction are divided into four parts:**

**د ربط توري په څلورو برخـو وېشل شوي دي:**

1) Coordinating Conjunctions — د وصل برابر، همقوه، همپایه توري
2) Correlative Conjunctions — د وصل جوړه يي توري
3) Compound Conjunctions — د وصل مرکب توري
4) Suberdinating Conjunctions — د وصل فرعي توري

## 1) Coordinating Conjunctions: د وصل برابر، همقـوه، همپایه توري

The coordinating conjunctions are used to join coordinating senten- ces.

د وصل برابر یا همپایه توري د دوو جملو د وصلولو لپاره استعمالېـږي .

Ex: I am a doctor and he is a student. مثال: زه یو ډاکتر یم او هغه یو زده کوونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



✓ **The coordinating conjunction are divided into five parts:**

**د وصل برابر یا همقوه توري په پنځو برخو وېشل شوي دي:**

### A. Cumulative Conjunctions: د وصل زیاتونکی (متراکم) توري

The cumulative conjunctions are used to one idea to another idea or one action to another action.

د وصل زیاتونکي توري یوه مفکوره له بلې مفکورې سره یا یو عمل له بل عمل سره د وصلولو لپاره استعمالېږي.

| **Some cumulative conjunctions ځیني د وصل متراکم توری** | | | |
|---|---|---|---|
| And | او | Both .......... and | هم ..........هم |
| Too | هم، همدارنګه | Neither ......... nor | نه ......... نه |
| Also | همدارنګه | Not only ..... but also | نه یوازې ...... بلکه |
| So | نو، همداسي | As well as | همدارنګه ، اګرچه ، برعلاوه |

Ex: **<u>Not only</u>** he comes late **<u>but also</u>** complains. مثال: هغه **نه یوازی** ناوخته راغي **بلکې** شکایت هم کوي.

### B. Alternative Conjunctions: د وصل اختیاري توري

These conjunction express a choice between two actions or ideas.

د وصل دغه توري د دوو عملونو یا مفکورو ترمنځ انتخاب ښیي.

| **Some alternative conjunctions ځیني اختیاري د وصل توري** | | | |
|---|---|---|---|
| Or else | که نه | Or | یا، اویا |
| Othewise | که نه، او که نه | Either ........ or | یا ........ یا |

Ex: Do not be naughty **<u>or else</u>** he will punish you. مثال: شوخی مکوه **که نه** جزایي به شي.

Ex: Come on time **<u>otherwise</u>** I don't let you. مثال: په وخت راځه **اوکه نه** پرې به دې نږدم.

### C. Explanatory Conjunction: د وصل توضیحي (څرګندونکي) توري

(c) ketabton.com: The Digital Library



These conjunctions usually add details to the words or sentences.

د وصل دغه توري معمولاً په جمله کې جزيات زياتوي.

| Some explanatory conjunctions ځينې توضيحي د وصل توري | | | |
|---|---|---|---|
| For | لپاره، د دې لپاره چې | That is to say | په بل عبارت |
| Such as | لکه | For instance | د نمونې په ډول |
| As | په توګه، څنګه چې | For example | د مثال په ډول |
| That is | يعنې | | |

Ex: The teacher punished him **for** he was lazy.

مثال: ښوونکی هغه د دې لپاره جزايي کړ "چې" تنبل و.

## D. Adversative Conjunctions: متضاد د وصل توري

The adversative conjunctions are used to joins the contradictory sentences.

متضاد د وصل توري د متضادو جملو د وصلولو لپاره استعمالېږي.

| Some adversative conjunctions ځيني متضاد د وصل توري | | | |
|---|---|---|---|
| But | مګر | But on the contrar | مګر په خلاف، مګر برخلاف |
| Neverthless | سره له دې | On the other hand | له بلې خوا |
| However | په هر حال ، خو بيا هم | But yet | مګر تر اوسه |
| While | ترڅو چې، هغه وخت چې، سره له دې چې | Where as | له دې کبله چې، په داسې حال کې چې، په حقيقت کې |

Ex: My friend is lazy where-as I am clever. مثال: زما ملګری تنبل دی په داسې حال کې چې زه ځيرک يم.

Ex: Ahmad is generous but poor. مثال: احمد سخي دی مګر غريب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## E. Illative Conjunctions: د علت او نتېجې د وصل توري

The illatttive conjunctions are placed between two sentences and show the conclusion of the first one the second one.

د علت او نتېجې د وصل توري د دوو جملو ترمنځ راوړل کېږي او د یوه نتېجه بل یوه ته ښیي.

| Some Illative conjunctions څینې د علت او نتیجې د وصل توري | | | |
|---|---|---|---|
| Therefore | له هغه سببه، له هغه کبله | On that account | له هغه خاطره |
| So | همداسي، نو | | |

Ex: I was sick **so** I went to sleep earlier. مثال: زه ناروغ وم نو ډېر وختي ببده شوم.

Ex: She is lazy **therefore** I dislike her. مثال: هغه تنبله ده له هغه سببه زه هغه نه خوښوم.

## 2) Correlative Conjunctions: د وصل جوړه يي توري

These conjunctions are used in pairs and join words and sentences.

د وصل دغه توري په جوړه يي (دوه گونی) شکل استعمالېږي او کلمو او جملو ته ربط ورکوي.

| Some correlative conjunctions څینې جوړه يي د وصل توري | | | |
|---|---|---|---|
| Either …….. or | يا …….. يا | Neither ……. nor | نه …….. نه |
| So …….. that | د دې لپاره چې، په دې ډول چې | Both …….. and | هم …….. هم |
| Not only ….. but also | نه یوازې ….. بلکه | | |

Ex: He can speak **neither** Arabic **nor** Urdu.

مثال: هغه **نه** په عربي خبري کولاي شي **نه** په اُردو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3) Compound Conjunctions: مـرکب د وصـل توري

A group of words which are used as conjunctions to join words and sentences are called compound conjunctions.

هغه گروپ د کلمو چې د وصل د تورو په څېر کلمو او جملو ته ربط ورکوي د مرکبو ربطي تورو په نوم يادېـږي.

| Some compound conjunctions ځيني مرکب د وصل توري | | | |
|---|---|---|---|
| In orther that | په هغه منظور چې | So that | نو دا چې، د دې لپاره چې |
| Even if | ولوکه، که چېرې هـم | As soon as | اوس چې |
| As long as | تر هغه وخته چې، له هغه وخته چې | As well | بر علاوه، همدارنگه ، او هـم |
| As if | لکه داچې، که چېرې هـم | So as to | لپاره |

## 4) Subordinating Conjunctions: فـرعـي د وصـل تـوري

Subordinating conjunctions are those which jion the subordinating sentences with main sentences.

فرعي د وصل توري هغه دي چې فرعي جملې له اصلي جملو سره وصلوي.

| Some subordinating conjunctions ځيني فرعـي د وصل توري | | | |
|---|---|---|---|
| Who | څوک | Because | څنگه چې، ځکه چې، د دې لپاره چې |
| Whom | چاته چې، له چا څخه چې، څوک(مفعول) | As long as | تر هغه وخته چې، له هغه وخته چې |
| Which | هغه چې | When | کله چې، هغه وخت چې |
| What | چې | Where | چېرې چې |
| If | که چېرې | Than | په هغه صورت کې چې، سربېره پرې، نو |
| As if | لکه دا چې، گويا چې | As soon as | اوس چې |
| Whether | برسېره پر دې چې، سره له دې چې | While | هغه وخت چې، په هغه صورت کې چې |
| Unless | پرته له دې چې، مگر دا چې | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Preposition

# اضافي توري

Preposition is a word which is used to show the relationship between two persons or things.

اضافی توری هغه کلمه ده چې د دوو اشخاصو یا شیانو ترمنځ رابطه ښیي.

Ex: I am **in** the garden. مثال: زه **په** باغ کې یم.

Ex: The book is **near** the table. مثال: کتاب مېز ته **نږدې** دی.

⇨ A preposition can show the relationship of a noun or pronoun with the following words:

یو اضافي توری کولای شي د اسم اویا ضمیر سره د لاندي کلمو سره رابطه وښیي:

**1)** Between two nouns: د دوو اسمونو ترمنځ:

Ex: A cup of tea is **on** the table. مثال: یوه پیاله چای د مېز **په** سر دی.

**2)** Between two pronoun: د دوو ضمیرونو ترمنځ:

Ex: He is **near** me. مثال: هغه ماته **نږدې** دی.

**3)** Between noun and preposition: د اسم او اضافي توري ترمنځ:

Ex: Ahmad with his brother will come **to** our party. مثال: احمد به له خپل ورور سره زموږ مېلمستیا **ته** راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4)** Between a noun and a verb: د یو اسم او یو فعل ترمنځ:

Ex: Ahmad prevented Shafiqa **from** going. مثال: احمد شفیقه له تګ څخه منع کوي.

**5)** Between a noun and an adverb: د یو اسم او یو قید ترمنځ:

Ex: He behaves badly **with** his wife. مثال: هغه له خپلې ښځې سره په بد ډول چلند کوي.

**6)** Between a noun and an adjective: د یو اسم او یو صفت ترمنځ:

Ex: She is good **at** Math. مثال: دا په ریاضي کې ښه ده.

**7)** Between a pronoun and a verb: د یو ضمیر او یو فعل ترمنځ:

Ex: Come **to** me and tell the fact. مثال: ماته راشه او حقیقت ووایه.

⇨ **The prepositions are divided into two parts:**

**اضافي توري په دوو برخو وېشل شوي دي:**

**1.** Simple prepositions: ساده اضافي توري

**2.** Compound prepositions: ترکیبي اضافي توري

## 1. Simple prepositions: ساده اضافي توري

The simple prepositions are those which are used in the ordinary or standard form and show the relationship between two persons or things.

ساده اضافي توري هغه دي چې په معمولي اویا ثابت شکل استعمالېږي او ددو اشخاصو یا شیانو ترمنځ رابطه ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| Simple prepositions ساده اضافي توري | | | |
|---|---|---|---|
| In | په ( په منځ کې) | **With** | **له، سره** |
| On | په سر، په | **From** | **له، د، له ... څخه** |
| At | په (داخل کې) | **Up** | **په سر، پورته** |
| By | په واسطه | **Out** | **خارج، خارج له** |
| To | ته | **After** | **وروسته له هغه، وروسته** |
| For | لپاره | **Since** | **راپدې خوا، راهیسې، له هغه وخته چې** |
| Of | له، د | **Via** | **له لارې** |
| Off | جلا، قطع، خاموش | **Than** | **له، په نسبت** |
| Till | تردې چې، تر هغه وخته چې، تر | **Down** | **کښته، په لاندې طرف** |
| Over | برسېره، سربېره پر | **Under** | **لاندې، له لاندې** |
| Near | نږدې | **Among** | **ترمنځ** |
| Between | ترمنځ | **Along** | **په اوږدو کې** |
| With in | په داخل کې | **With out** | **بې له** |
| Below | لاندې | **Despite** | **باوجود، برسېره** |

## A) By = Near = Next to = Beside نږدې، څنګ ته

Ex: Sediq sat **by** me. — مثال: صدیق له ما سره **نږدې** ناست دی.

## B) By = Via = Rout په لار، له لارې، له... څخه

Ex: We went to Mazar **by** road. — مثال: موږ د سړک **له لارې** مزار ته ځو.

Ex: She went to Saudi **by** Airplain. — مثال: هغه د هوايي جهاز **له لارې** سعودی ته ولاړه.

## C) By = Before مخکې

Ex: I will complete this work **by** june. — مثال: زه به له جون څخه **مخکې** دغه کار ختم کړم.

Ex: I will go to Kandahar **by** April. — مثال: زه به له آپریل څخه **مخکې** کندهار ته ولاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### D) By = Trough په، په واسطه

To show the method which somthing is done.

هغه طریقه بیانوي چې یو شی پکښې سرته رسېږي.

Ex: You can help us **by** the police.

مثال: ته کولای شي د پولیس **په واسطه** له موږ سره مرسته وکړې.

Ex: We sent the money **by** check.

مثال: موږ د چیک **په واسطه** پیسې واستولې.

### E) Multiplied by: ضربېدل له

Ex: 5 x 3 = 15 ⟶ 5 <u>multiplied by</u> 3 equal 15.

مثال: ۵×۳ = ۱۵⟵ ۵ <u>ضربېږي له ۳</u> سره مساوي کېږي له ۱۵ سره.

### F) By **myself** / **By herself** / **By himself** = **Alone** یوازې

Ex: She went to Ghazni **by herself** = She went to Ghazni <u>alone</u>.

مثال: هغه (مېرمن) **یوازې** غزني ته ولاړه.

Ex: I did this work **by myself** = I did this work <u>alone</u>.

مثال: ما دغه کار **یوازې** سرته ورساوو.

### G) By = During په جریان کې، په وخت کې، په ترخ کې

Ex: He drives carefully **by** night.

مثال: هغه د شپې **په ترخ کې** په احتیاط سره ډرېوري کوي.

### H) By God = To swear of God. قسم په خداي (ج)

Ex: **<u>By God</u>**, I didn't do it.

مثال: **قسم په خدای** (ج)، که ما هغه سرته رسولي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**I) By mistake. په اشتباه سره، اشتباهاً**

Ex: He ate fast **by mistake**. مثال: هغه په **اشتباه سره**، روژه وخوړه.

**Note:** "By" is used with all means of traveling like: airplain, car, train, bicycle, ship etc…

**نوټ:** کښتۍ او داسي نور… "By" د سفر له ټولو وسايلو سره استعمالېږي لکه : طياره، موټر، اورګاډی، بايسيکل،

## ➢ In: په، (په داخل کې)

In د لويو ځايونو لپاره او همدارنګه د ځايونو داخلي برخي لکه د کوټې منځ ، د کور منځ او داسی نورو کي استعمالېږي.

Ex: I am **in** the bazar. مثال: زه **په** بازار کې يم.

## ➢ At: په، (په داخل کې)

At د کوچني ځايونو لپاره، د اشخاصو او وخت لپاره استعمالېږي.

Ex: I come here **at** nine o'clock. مثال: زه **په** نهو بجو دلته راځم.

Ex: The teacher is **at** the office. مثال: ښوونکی **په** دفتر کې دی.

## ➢ On: په سر

On هغه وخت استعمالېږي چې يو شی د بل شي سره په تماس کې وي او د شخص او زمان لپاره هم استعمالېږي.

Ex: The book is **on** the table. مثال: کتاب د مېز **په سر** دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ➢ Above: پورته، لوړ، په سر

Above هغه وخت استعمالېږي چې یو شی بې له تماس څخه معمولاً په عمودي شکل واقع وي.

Ex: The sky is **above** our. مثال: اسمان زموږ **په سر** دی.

### ➢ Of : له، د

Of ډېر وخت د شیانو لپاره استعمالېږي او په کم ډول د اشخاصو لپاره هم استعمالېږي.

Ex: Kabul is the capital **of** Afghanistan. مثال: کابل د افغانستان پایتخت دی.

### ➢ To: تـه

To یوازې د اشخاصو لپاره استعمالېږي او په ډېره محدوده توګه استعمالېږي.

Ex: Ahmad went to Herat. مثال: احمد هـرات ته ولاړ.

### ➢ For: لپاره

For د شیانو، اشخاصو او وخت لپاره استعالېږي او په پراخه توګه ترېنه ګټه اخېستل کېږي.

Ex: The play football is useful **for** health. مثال: د فوټبال لوبه د روغتیا **لپاره** ګټوره ده.

Ex: I study **for** three hours every day. مثال: زه هـره ورځ د دریو ساعتو **لپاره** مطالعه کوم.

### ➢ By: په، په واسطه

By د شیانو او اشخاصو لپاره استعمالېږي.

Ex: I go to bazar **by** bicycle. مثال: زه بازار ته د بایسیکل **په واسطه** ځـم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ➢ Up: پورته، لوړ

Up معمولاً د ځایونو او اشخاصو لپاره استعمالېږي.

Ex: It is not **up** to you.

مثال: هغه له تا څخه **لوړ** ندی.

## ➢ Off: لري له، جلا، خاموش

Off په زیاته توګه د ځایونو لپاره او هـم د شیانو استعمالېږي.

Ex: The switch is **off**.

مثال: سوېچ **خاموش** دی.

Ex: The dog jump **off** the stream.

مثال: سپی له لښتې څخه **لري** ټوپ وهي.

## ➢ Between: په مابین کې، ترمنځ

Between د دوو اشخاصو یا دوو شیانو په منځ کې استعمالېږي.

Ex: Maidan Wardak is located **between** Kabul and Ghazni.

مثال: میدان وردګ د کابل او غزني **ترمنځ** موقعیت لري.

## ➢ Among : په مابین کې، ترمنځ

Among د دوو څخه زیاتو د اشخاصو یا شیانو په منځ کې استعمالېږي.

Ex: Afghanistan is located **among** six contries.

مثال: افغانستان د شپږو هېوادونو **په مابین کې** موقعیت لري.

## ➢ From: له، د

From د ځای، خلکو او شیانو لپاره استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: I borrowed a little money from him. مثال: ما له هغه څخه یوه اندازه پیسې قرض کړې.

Ex: Janan Agha is from Oruzgan. مثال: جانان آغا د ارزگان دی.

## 2. Compound prepositions: مرکب اضافي توري

The compound prepositions usually contain more than one syllable and show the relationship between two persons or things.

مرکب اضافي توري معمولاً له یوه څخه د زیاتو هجاء لروونکي وي او د دوو اشخاصو یا شیانو ترمنځ رابطه ښکاره کوي.

| **Some compound prepositions څینې مرکب د وصل توري** | | | |
|---|---|---|---|
| In order to | په دې منظور چې | Because of | په دې خاطر چې |
| In front of | مخته | In spite of | با وجود، برسېره |
| For the sake of | په خاطر | Due to | په نتېجه کې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Future in the past perfect tense

# په تېـره کامله کې راتلوونکې زمانه

| Helping verbs | کومکي فعلونه |
|---|---|
| Would have / Should have | Would have / Should have |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Sub + Would / Should + Have + $V_3$ + Comp.**<br>**Ex: I would have carried out every thing.** **مثال: ما به ټول شیان ترسره کړي وي.** |
| Question form سواليه شکل | **Would / Should + Sub + Have + $V_3$ + Comp?**<br>Ex: Would I have carried out every thing? مثال: آیا ما به ټول شیان ترسره کړي وي؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Would / Should + Not + Have + $V_3$ + Comp.**<br>Ex: I would not have carried out every thing. مثال: ما به ټول شیان نه وي ترسره کړي. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | **Would / Should +Sub + Not + Have + $V_3$ + Comp -?**<br>Ex: Would I not have carried out every thing? مثال: آیا ما به ټول شیان نه وي ترسره کړي؟<br>**Wouldn't / Shouldn't + Sub + Have + $V_3$ + Comp -?**<br>Ex: Wouldn't I have carried out every thing? مثال: آیا ما به ټول شیان نه وي ترسره کړي؟ |

1) **Usage:** Future in the past perfect tense is used to show an action which would have been complete as some unspecified time in the future of the past, but the action did not take place.

۱) **استعمال:** په تېره کامله کې راتلوونکې زمانه د هغه عمل د بیان لپاره استعمالېږي چې په تېر راتلوونکي کې به تکمیل شوي و، مګر عمل ندی واقع شوي.

Ex: The people would not have faced any problems if the incharges had more attention.

مثال: که چېري مسولینو ډېره توجه کړې وه ، خلک به له مشکلاتو سره نه وه مخامخ شوي.

Ex: Ahmad and Najeeb would have completed the work whether they had started earlier.

مثال: که چېرې احمد او نجیب وخت تر شروع کړي وه، کار به ختم شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Future in the past perfect continuous tense
# په تېره کامله جاري کې راتلوونکې زمانه

| Helping verbs | کومکي فعلونه |
|---|---|
| Would have been / Should have been | Would have been / Should have been |

**Structure: ساختمان**

| | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | **Sub + Would / Should + Have + been + V - ing + Comp.**<br>**Ex: I would have been playing cricket.** **مثال: زه به د کرکیټ په لوبه مصروف وم.** |
| Question form سواليه شکل | **Would / Should + Sub + Have + been + V- ing + Comp?**<br>Ex: Would I have been playing cricket? مثال: آيا زه به د کرکيټ په لوب ه مصروف وم؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | **Sub + Would / Should + Not + Have + been + V- ing + Comp .**<br>Ex: I would not have been playing cricket. مثال: زه به د کرکيټ په لوبه مصروف نه وم. |
| Negative interrogative Form<br>منفي سواليه شکل | **Would / Should + Sub + Not + Have + been + V- ing + Comp -?**<br>Ex: Would I not have been playing cricket? مثال: آيا زه به د کرکيټ په لوبه مصروف نه وم؟<br>**Wouldn't / Shouldn't + Sub + Have + been + V- ing + Comp -?**<br>Ex: Wouldn't I have been playing cricket? مثال: آيا زه به د کرکيټ په لوبه مصروف نه وم؟ |

1) **Usage:** Future in the past perfect continuous tense is used to show the duration of an action which would have been cont-inuing at some unspecified time in the future of the past, but the action did not take place.

**۱)استعمال:**په تېره کامله جاري کې راتلوونکې زمانه د هغه عمل د بيان لپاره استعمالېږي چې په تېره راتلوونکي کې به د دوام په حالت کې وه، مگر عمل ندی واقع شوي.

Ex: She would have been working at the bank if she had not gotten married.

مثال: که چېري هغې واده نه وای کړی په بانک کې به په کار مصروفه وه.

Ex: They would have meeting their counterparts if they did not cancel the meeting.

مثال: که چېري ملاقات نه لغوه کېده هغوی به له خپلو همکارانو سره په ملاقات مشغول وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Mood

# د فعـل وجه یا حالت

Mood is the mode or manner in which the action denoted by the verb is presented.

وجه عبارت له هغه حالت څخه دی، چې عمل یا "د فعل حالت" پکښې بیانیږي.

**Or: اویا**

Mood is the manner of the verb which shows how the action occurred.

وجه د فعـل حالت دی، ښیي چې عمل څنګه واقع شو.

- **Every verb has five moods in the English language:**

**په انګلیسي ژبه کې هـر فعل پنځه وجهـي یا حالتونه لري:**

1) Indicative mood. اخباري وجه
2) Infinitive mood. مصدري وجه
3) Descriptive mood. توصیفي وجه
4) Imperative mood. امري وجه
5) Subjunctive mood. التزامي وجه

## 1) Indicative mood: اخباري وجه

The state of the verb which expresses an action in statement or question in positive or negative form is called indicative mood.

د فعـل حالت چې بیانیه یا سوالیه په مثبت یا منفي صورت بیان کړي د اخباري وجهي په نامه یادیږي.

Ex: I **saw** him twice. مثال: ما هغه دوه ځلي ولید.

Ex: Did you really **leave** it? مثال: آیا واقعیاً ترک دي کړ؟

Ex: I could not **find** any thing there. مثال: هلته مې هیڅ شی پیدا نکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Infinitive mood : مـصـدري وجـه

Infinitive mood is the form of the verb which expresses an action freely without any subject.

مصدري وجه د فعل هغه شکل دی چې عمل په ازاد ډول بې له فاعل ښخه بیانوي.

Ex: **<u>To come</u>** on time is very necessary. — مثال: په وخت **راتلل** ډېر ضروري دی.

Ex: **<u>To play</u>** football is interesting for him. — مثال: د فوټبال **لوبه کول** د هغه لپاره جالبه ده.

## 3) Descriptive mood: توصیفي وجه

The state of the verb which has verbal and attributive form is called descriptive mood.

د فعل "هغه" حالت چې د فعلي او وصفي شکل درلودونکي وي د توصیفي وجهي په نوم یادېږي.

Ex: He is **speaking**. (verbal). — مثال: هغه خبري کوي. (فعلي).

Ex: I have **speaking** class. (attributive). — مثال: زه د مکالمې ټولګی لرم. ( وصفي).

Ex: He has **completed** the work.(verbal). — مثال: هغه کار ختم کړی دی. ( فعلي).

Ex: It is **complete** work.(attributive). — مثال: دغه کار ختم دی .( وصفي).

## 4) Imperative mood: امـري وجـه

The state of the verb which expresses an action in request, demand , advice, entreaty, prayer or direct command is called imperative mood.

د فعل "هغه" شکل چې عمل د غوښتنې، تقاضا، پند، عذر، دعا اویا مستقیم امر په ډول بیان کړي د امري وجهي په نامه یادېږي.

Ex: **<u>Get out</u>** from here. — مثال: له دغه ځاي ووځه.

Ex: **<u>Come on</u>** time please. — مثال: لطفاً په وخت راځه.

Ex: **<u>Try</u>** to be honest. — مثال: کوښښ کوئ صادق و اوسئ.

Ex: **<u>Come</u>** here. — مثال: دلته راشه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 5) Subjunctive mood: التزامي وجه

The subjunctive mood is used to express ambition, intention, hesita -tion or condition.

التزامي وجه د ارزو، قصد، شک، اویا شرط د بیان لپاره استعمالېږي.

Ex: **Suppose** he fails , what will he do? مثال: فرض کړئ هغه ناکام دی، څه به وکړي؟

Ex: May Allah (ج) **bless** all. مثال: الله (ج) دي ټولو ته برکت ورکړی.

Ex: If we do honestly we will not face any problem.

مثال: که موږ صادیق و اوسو له مشکلاتو سره به مخامخ نه شو.

# Ordinary(main) verbs

# معمولي(اصلي) فعلونه

Ordinary verbs are those which express a complete meaning and can stand alone.

معمولي(اصلي) فعلونه هغه دي چې کامله مانا بیانوي او په تنهایي سره د مفهوم لرونکي وي.

- **Ordinary verbs are divided into three parts:**

**معمولي فعلونه په درې برخو وېشل شوي دی:**

| **Ordinary verbs معمولي فعلونه** | | |
|---|---|---|
| **Transitive verbs**<br>**متعدي فعلونه** | **Intransitive verbs**<br>**لازمي فعلونه** | **Linking verbs**<br>**ارتباطي فعلونه** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 1) Transitive verbs: متعدي(غیرلازمي) فعلونه

Transitive verb is poor of object, without object it doesn't give clear an complete meaning.

متعدي فعلونه مفعول ته محتاج وي دغه (فعل) بې له مفعول څخه واضح او پوره مانا نه ورکوي.

**Like:** **مثلاً :**

| | | | |
|---|---|---|---|
| See(لیدل ) | Break (ماتول) | Make (جوړول) | Eat(خوړل) |

Ex: He is <u>eating</u> (................) (in complete).

↓ Transitive verb ↓ Object

مثال: هغه (...................) خوري. (نا تکمیل).

↓ مفعول ↓ متعدي فعل

Ex: He is **eating** an **apple**. (complete).

↓ Transitive verb ↓ **Object**

مثال: هغه **منه خوري**. (تکمیل).

↓ **مفعول** ↓ **متعدي فعل**

## 2) Intransitive verbs: لازمي فعلونه

Intransitive verb is not poor of object ,it gives clear and complete meaning without object.

لازمي فعل مفعول ته محتاج نه ده، دغه (فعل) بې له مفعول څخه هم واضح او کامله مانا ورکوي.

**Like:** **مثلاً:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| Shine(ځلیدل) | Cry (ژړل) | Smile(موسکا کول) | Laugh(خندیدل) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: The sun is **shining**. ↓ Intransitive verb

مثال: لمر **ځلېږي**. ↓ لازمي فعـل

Ex: The child is **crying**. ↓ Intransitive verb

مثال: ماشوم **ژاړي**. ↓ لازمي فعـل

**Note: نوټ**

**Transitive and intransitive verbs متعدي او لازمي فعـلونه**

Transitive and intransitive verbs is sometimes poor of object and sometimes not poor of object, it means sometimes it gives clear and complete meaning without object and sometimes it does not give clear and complete meaning without object.

متعدي او لازمـي فعلونه ځيني وخت مفعـول ته محتاج وي او ځيني وخت مفعول ته محتاج نه وي، هغه په دې مانا چې کله بې له مفعـول څخه هم واضح او روښانه مانا ورکوي او ځيني وخت بې له مفعـول څخه واضح او کامله مانا نه ورکوي.

Ex: The birds are flying.(complement).

مثال: مرغۍ الوزي. (تکميل).

Ex: It is flying (........). (in complete).
↓ Object

مثال: هغه (...........) الوزي.(نا تکميل).
↓ مفعـول

## 3) Linking verbs ارتباطي فعـلونه

Linkin verbs are those which link the complement to the subject .

ارتباطي فعلونه هغه دي چې تکميل کوونکی له فاعـل سره نښلوي.

| **Some of Linkin verbs ځينې ارتباطـي فعـلونه** | | | | |
|---|---|---|---|---|
| Is | are | am | was | were |
| Become | have | has | had | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: He **is** a teacher. — مثال: هغه يو ښوونکی **دی.**

Subject → He; فاعل → هغه

Linking verb → is; ارتباطي فعل → دی

## ➾ Out of control (stative) verbs : غير ارادي (حالتي) فعلونه

Out of control verbs are those which don't show action and if they show action, that is non progressive or out of control.

غيرارادي فعلونه هغه (فعلونه) دي چې عمل نه بيانوي که چېري عمل بيان کړي، هغه غيرجاري ( غير ارادي) ده.

| Some of (Out of control verbs) ځينې غير ارادي فعلونه | | | |
|---|---|---|---|
| Know | (پوهېدل، پېژندل) | Understand | (پوهېدل) |
| Believe | (باور لرل، ايمان راوړل) | Feel | (احساس کول) |
| Forger | (هېرول) | Hear | (اورېدل ، غوږ نېول) |
| See | (لېدل) | Apear | (حاضرېدل ،ښکاره کېدل) |
| Smell | (بويول) | Want | (غوښتل) |
| Seem | (معلومېدل) | Wish | (هيله کول، هيله لرل) |
| Like | (خوښول) | Love | (مينه لرل) |
| Cost | (بيه لرل) | Become | (کېدل ، گرځېدل) |
| Have | (لرل«جمع») | Has | (لرل) |
| Had | (درلودل) | Are | (دي، يو) |
| Was | (وه، وم) | Were | (وه«جمع») |

Ex: I **understand** the lesson now — مثال: زه اوس په درس وپوهېدم.

Ex: These flowers **smell** good. — مثال: دغه گلان ښه بوی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Causative verbs علتي یا سببـي فعـلونه

"Causative verbs" are those verbs which we don't perform an action directly, we get it done indirectly by some one else.

علتي فعلونه هغه فعلونه دي چې موږ عمل مستقیماً پخپله سرته نه رسوو، عمل د بل شخص په واسطه په غیر مستقیم ډول صورت نیسي.

| Causative verbs consist in: علتي فعـلونه عبارت دي له | | | |
|---|---|---|---|
| Get | Have | Has | Make |
| Help | Cause | Let | |

**The Causative form can be formed by the following formulas:**

**سببي شکل په لاندي فـورمـولـونو تشکیـلېـداي شـي:**

## 1) Subject + Verb + Object + Verb + Complement.

This formula is used when we want to compel the other do some-thing or in this formula we compel some one else do something for us.

دغه فورمول هغه وخت استعمالېـږي چې موږ غواړو نور د کار ترسره کولو ته چمتو کړو یا دا چې په دې فورمول کې بل شخص دي ته چمتو کوو چې د موږ لپاره کوم کار ترسره کړي.

- **The verbs which can be used in this formula consist in:**

**هغه فـعـلونه چې په دي فـورمول کي استعمالېـږي عـبارت دي له:**

| | | |
|---|---|---|
| Make (مجبورول) | Compel (مجبورول) | Have (باعث کېدل) |
| Constrain (مجبورول) | **etc.... ....اونور** | |

Ex: I **made** him fix the picture on the wall. مثال: ما هغه مجبور کړ "چې" په د ېوال تصویر ولګوي.

Ex: We **compel** him fix our car. مثال: موږ هغه مجبور کړ چې زموږ موټر ترمیـم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Sub + Get + obj + to + V + comp.

This formula we try to convince or persuade the others do some- thing that is to say in this formula someone is encouraged do something.

په دغه فورمول کې موږ هڅه کوو چې د کار ترسره کولو لپاره نور څوک چمتو کړو په دې مانا چې یو څوک د کار ترسره کولو لپاره تشویقوو:

- **The verbs wich can be used in this formula consist in:**

**هغه فعلونه چې په دې فورمول کې استعمالېږي عبارت دي له:**

| | | |
|---|---|---|
| Persuade (تشویقول) | Get (سبب کېدل) | Encourage (تشویقول) |
| Convince (رضا کول) | etc… ….اوداسي نور | |

Ex: Karrim **persuaded** me to learn Arabic. مثال: کریم، زه د عربي زده کړې ته تشویق کړم.

Ex: Shfiq will **get** his brother to study his lesson. مثال: شفیق به د دې سبب شي چې ورور یې درس ووایي.

The other formula which is usually used in the causative form is: **(Sub + Have / Get + Obj + $V_3$).**

بل فورمول چې معمولاً په سببي شکل کې استعمالېږي عبارت ده له: څخه. **(Sub + Have/Get + Obj +V)**

In this formula the subject of the sentence either accepts the result of the action or causes the action.

په دې فورمول کې د جملې فاعل اویا دا چې د عمل نتېجه قبولوي اویا هم خپله د کارسبب کېږي.

Ex: Abdullah <u>got</u> his car stolen. مثال: د عبدالله موټر غلا شو.

Abdullah → Sub; got → c. verb; his car → Obj; stolen → $V_3$

Ex: Asmatullah <u>gets</u> his room cleaned by him every day.

مثال: عصمت الله هره ورځ د هغه په واسطه خپل اطاق پاکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Active and Passive voice

# معلوم او مجهول د فعل "شکل"

## 1) Active Voice: د فعل معلوم شکل

Active voice is a form of the verb which shows the doer of an action is the subject of the sentence.

د فعل معلوم شکل د فعل هغه شکل دی، دا ښيي چې د عمل کوونکي(سرته رسونکی) د جملې مبتداء ده.

**Or:** Active voice is a form of the verb in which the doer of an action (subject) is the subject of the sentence.

**یا:** د فعل معلوم شکل د فعل هغه شکل دی چې د عمل کوونکی(فاعل) پکې د جملې مبتداء وي.

Ex: **<u>He</u>** fixed the car.

مثال: **هغه** موټر ترمیم کړ.

## 2) Passive Voice: د فعل مجهول شکل

Passive voice is a form of the verb which shows the recever of an action (object) is the subject of the sentence.

د فعل مجهول شکل د فعل هغه شکل دی ښيي چې د عمل اخیستونکی(مفعول)د جملې مبتداء ده.

Ex: **<u>The car</u>** was fixed.

مثال: **موټر** ترمیم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Basic rules of changing active into passive

# د معلوم تبديلول په مجهول باندي اساسي قاعدې

⇨ **The following points must be observed in the passive sentences.**

**لاندي نقطې بايد په مجهولو جملو کې مراعات شي:**

| | |
|---|---|
| **1.** | Study the active sentence and determine its tense.<br>معلومه جمله مطالعه کړئ او د هغې زمانه تعين کړئ. |
| **2.** | Subject is changed into object. فاعل په مفعول باندي تبديلېږي. |
| **3.** | Object is changed onto subject. مفعول په فاعل باندي تبديلېږي. |
| **4.** | The first and second form of the verb is changed into third form of the verb.<br>د فعل لومړی او دوهم شکل په دريم شکل باندي بدلېږي. |
| **5.** | Use (to be) verb according to the tense of the active sentence.<br>د معلومي جملې د زمانې په مطابق د (to be) فعلونه استعمال کړئ. |
| **6.** | Use the third form of the verb after (to be).<br>له (to be) څخه وروسته د فعل دريم شکل استعمال کړئ. |
| **7.** | The subject pronouns are changed to object pronouns and the object pronouns changed to subject pronouns.<br>فاعلي ضميرونه په مفعولي تبديلېږي او مفعولي ضميرونه په فاعلي ضميرونو تبدلېږي. |
| **8.** | In the continuous tenses, an extra (being) is added after the (to be) verb.<br>په جاري زمانوو کې له (to be) څخه وروسته يو اضافي (being) علاوه کېږي. |
| **9.** | It is possible to mention the doer of the action at the end of the sentence after preposition (by).<br>ممکنه ده چې د عمل سرته رسوونکی(فاعل) د جملې په اخبر کې د (by) له اضافي توري<br>توري وروسته ذکر شي. |
| **10.** | After the third form of the verb, we use (by).<br>موږ د فعل له دريم شکل څخه وروسته (by) استعمالوو. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Ueses of passive د مجهـول د استعمال ځايونه

The passive form is mostly used in the following ways:

مجهـول شکل عمدتاً په لاندي ځايونو استعمالېږي:

**1)** When the doer of the action is not known or clear.

هغه وخت چې د عمل "سرته رسوونکی" (فاعـل) معـلوم وي.

Ex: The money was stolen. مثال: پيسې غلا شوي.

Ex: He was murdered. مثال: هغه و وژل شو.

**2)** When it is not important to mention the doar of an action, as it is clear who he or she is.

هغه وخت چې د عمل د سرته رسوونکی(فاعـل) ذکر مهم نه وي، لکه چې واضح وي چې څوک د " عمل سرته رسوونکی" دی.

Ex: The president was elected. مثال: ولسمشر انتخاب شو.

Ex: The streets are swept. مثال: کوڅې پېچـلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The Simple present tense
# ساده حال زمانه

| Difference between Active & Passive د معلوم او مجهول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
| **Verb = $V_1$** | **Verb = $V_3$** |
| **Helping verbs = Do, Does** | **Helping verbs = Is, am, are** |

| Active معلوم | Passive مجهول |
|---|---|
| **She helps me.**<br>Sub $v_1$ obj.<br>**دا له ما سره کومک کوي.** | I am helped by her.<br>**Sub h.v $v_3$ prep obj.**<br>زه د هغې په واسطه کومک کېږم. |
| **They invite us.**<br>Sub $v_1$ obj.<br>**هغوی موږ دعوت کوي.** | We are invited by them.<br>**Sub h.v $v_3$ prep obj.**<br>موږ د هغوی په واسطه دعوت کېږو. |

| **Ex:** **مثال:** | |
|---|---|
| Active معلوم | **Passive مجهول** |
| **He asks her.**<br>**هغه له هغې څخه پوښتي.** | She is asked by him.<br>دا (مونث) د هغه په واسطه پوښتل کيږي. |
| **Does he ask her?**<br>**آيا هغه دا (مونث) پوښتي؟** | Is she asked by him?<br>آيا دا (مونث) د هغه په واسطه پوښتل کيږي؟ |
| **He doesn't ask her.**<br>**هغه دا (مونث) نه پوښتي.** | She is not asked by him.<br>دا (مونث) د هغه په واسطه نه پوښتل کيږي. |
| **Does he not ask her ?**<br>**آيا هغه دا(مونث) نه پوښتي؟** | Is she not asked by him?<br>آيا دا (مونث) د هغه په واسطه نه پوښتل کيږي؟ |
| **Doesn't he ask her?**<br>**آيا هغه دا (مونث) نه پوښتي؟** | Isn't she asked by him?<br>آيا دا (مونث) د هغه په واسطه نه پوښتل کيږي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The persent continuous tense

# حال جاري زمانه

| Difference between Active & Passive د معلوم او مجهول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
| **Verb = V- ing** | **Verb = $V_3$** |
| **Helping verbs = Is, am, are** | **Helping verbs = Is being, am being, are being** |

| Active معلوم | Passive مجهول |
|---|---|
| **She is cooking the food.**<br>Sub h.v v- ing obj.<br>**هغه (مونث) ډوډۍ پخوي.** | The food is being cooked by her.<br>**Sub h.v $v_3$ prep obj.**<br>ډوډۍ د هغې په واسطه پخېږي. |
| **They are washing dishes.**<br>Sub h.v v- ing obj.<br>**هغوی لوښي پرېمنځي.** | Dishes are being washed by them.<br>**Sub h.v $v_3$ prep obj.**<br>لوښي د هغوی په واسطه پرېمنځل کېږي. |

**Ex:** **مثال:**

| Active معلوم | Passive مجهول |
|---|---|
| They are electing him.<br>دوی هغه انتخابوي. | He is being elected by them.<br>هغه د دوی په واسطه انتخابېږي. |
| Are they electing him?<br>آیا دوی هغه انتخابوي؟ | Is he being elected by them?<br>آیا هغه د دوی په واسطه انتخابېږي؟ |
| They are not electing him.<br>دوی هغه نه انتخابوي. | He is not being elected by them.<br>هغه د دوی په واسطه نه انتخابېږي. |
| Are they not electing him?<br>آیا دوی هغه نه انتخابوي؟ | Is he not being elected by them?<br>آیا هغه د دوی په واسطه نه انتخابېږي؟ |
| Aren't they electing him?<br>آیا دوی هغه نه انتخابوي؟ | Isn't he being elected by them?<br>آیا هغه د دوی په واسطه نه انتخابېږي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The present perfect tense

# حال کامله زمانه(نږدې ماضي)

| Difference between Active & Passive د معلوم او مجهول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
| **Verb = $V_3$** | **Verb = $V_3$** |
| **Helping verb = Have, Has** | **Helping verb = Have been, Has been** |

| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
|---|---|
| **He has written a book.**<br>Sub h.v $v_3$ obj.<br>**هغه یو کتاب لیکلی دی.** | A book has been written by him.<br>**Sub h.v $v_3$ prep obj.**<br>یو کتاب د هغه په واسطه لیکل شوی دی. |
| **They have invited us.**<br>Sub h.v $v_3$ obj.<br>**هغوی موږ دعوت کړي یو.** | We have been invited by them.<br>**Sub h.v $v_3$ prep obj.**<br>موږ د هغوی په واسطه د عوت شوي یو. |

Ex: مثال:

| Active معلوم | Passive مجهول |
|---|---|
| He has recited the holy Quran.<br>هغه قرآن پاک قرائت کړی دی. | The holy Quran has been recited by him.<br>قرآن پاک د هغه په واسطه قرائت شوی دی. |
| Has he recited the holy Quran?<br>آیا هغه قرآن پاک قرائت کړی دی؟ | Has the holy Quran been recited by him?<br>آیا قرآن پاک د هغه په واسطه قرائت شوی دی؟ |
| He has not recited the holy Quran .<br>هغه قرآن پاک ندی قرائت کړی. | The holy Quran has not been recited by him.<br>قرآن پاک د هغه په واسطه ندی قرائت شوی. |
| Has he not recited the holy Quran?<br>آیا هغه قرآن پاک ندی قرائت کړی؟ | Has the holy Quran not been recited by him?<br>آیا قرآن پاک د هغه په واسطه ندی قرائت شوی؟ |
| Hasn't he recited the holy Quran?<br>آیا هغه قرآن پاک ندی قرائت کړی؟ | Hasn't the holy Quran been recited by him?<br>آیا قرآن پاک د هغه په واسطه ندی قرائت شوی؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The present perfect continuous tense

# حال کامله جاري زمانه

The present perfect continuous tense doesn't change from active into passive.

حال کامله جاري زمانه له معلوم څخه مجهول ته نه تبدیلیږي.

# The simple past tense

# ساده تېره زمانه

| Difference between Active & Passive د معلوم او مجهول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
| **$V = V_2$** | **$V = V_3$** |
| **H.V = did** | **H.V = was, were** |

| Active معلوم | Passive مجهول |
|---|---|
| She wrote <u>a story</u>.<br>Sub $v_2$ obj.<br>هغې یوه کیسه ولیکله. | <u>A story</u> was written by her.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>یوه کیسه د هغې په واسطه ولیکل شوه. |
| I defeated them.<br>Sub $v_2$ obj.<br>ما هغوی ته ماتي ورکړه. | They were defeated by me.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>هغوی زما په واسطه ماتي وخوړه. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال:

| Active معلوم | Passive مجهول |
|---|---|
| We defeated them.<br>مونږ هغوی ته ماتي ورکړه. | They were defeated by us.<br>هغوی زمونږ په واسطه ماتي وخوړه. |
| Did we defeat them ?<br>آیا مونږ هغوی ته ماتي ورکړه؟ | Were they defeated by us?<br>آیا هغوی زمونږ په واسطه ماتي وخوړه؟ |
| We didn't defeat them .<br>مونږ هغوی ته ماتي ورنکړه. | They were not defeated by us.<br>هغوی زمونږ په واسطه ماتي ونه خوړه. |
| Did we not defeat them?<br>آیا مونږ هغوی ته ماتي ورنکړه؟ | Were they not defeated by us?<br>آیا هغوی زمونږ په واسطه ماتي ونه خوړه ؟ |
| Didn't we defeat them?<br>آیا مونږ هغوی ته مات ورنکړه؟ | Weren't they defeated by us ?<br>آیا هغوی زمونږ په واسطه ماتي ونه خوړه؟ |

# The past continuous tense

# تیره جاري زمانه

| Difference between Active & Passive د معلوم او مجهول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
| **V = V - ing** | **$V = V_3$** |
| **H.V = was, were** | **H.V = was being , were being** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| **Active** معلوم | **Passive** مجهـول |
|---|---|
| They were playing football.<br>Sub h.v $v_1$- ing obj.<br>هغـوی د فوټبال لوبه کوله. | Football was being played by them.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>د فوټبال لوبه د هغـوی په واسطه کېدله. |
| He was advising me.<br>Sub h.v $v_1$- ing obj.<br>هغه ماته نصیحت کاوو. | I was being advised by him.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>زه د هغه په واسطه نصیحت کېدم. |

Ex: مثال:

| Active معـلوم | Passive مجهـول |
|---|---|
| I was doing the homework.<br>ما کورنی کار سرته رساوو. | The homework was being done by me.<br>کورنی کار زما په واسطه سرته رسېده. |
| Was I doing the homework ?<br>آیا ما کورنی کار سرته رساوو؟ | Was the homework being done by me?<br>آیا کورنی کار زما په واسطه سرته رسېده؟ |
| I was not doing the homework .<br>ما کورنی کار سرته نه رساوو. | The homework was not being done by me.<br>کورنی کار زما په واسطه سرته نه رسېده. |
| Was I not doing the homework?<br>آیا ما کورنی کار سرته نه رساوو؟ | Was the homework not being done by me?<br>آیا کورنی کار زما په واسطه سرته نه رسېده ؟ |
| Wasn't I doing the homework?<br>آیا ما کورنی کار سرته نه رساوو؟ | Wasn't the homework being done by me ?<br>آیا کورنی کار زما په واسطه سرته نه رسېده؟ |

# The past perfect tense

## تېـره کامله زمانه (لیري ماضي زمانه)

| **Difference between Active & Passive** د معـلوم او مجهـول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| Active معلوم | **Passive مجهـول** |
| **V =** $V_3$ | V = $\mathbf{V_3}$ |
| **H.V =** Had | H.V = **Had been** |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| **Active معلوم** | **Passive مجهـول** |
|---|---|
| We had helped him.<br>Sub h.v $v_3$ obj.<br>موږ له هغه سره مرسته کړې وه. | He <u>had been</u> helped by us.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>هغه زموږ په واسطه کومک شوي وو. |
| He had invited us.<br>Sub h.v $v_3$ obj.<br>هغوی موږ دعـوت کړي وو. | We <u>had been</u> invited by him.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>موږ د هغه په واسطه دعوت شوي وو. |

Ex: مثالونه:

| Active معـلوم | Passive مجهـول |
|---|---|
| They had elected him.<br>دوی هغه انتخاب کړي وو. | Ha had been elected by them.<br>هغه د دوی په واسطه انتخاب شوي وو. |
| Had they elected him ?<br>آيا دوی هغه انتخاب کړي وو؟ | Had he been elected by them?<br>آيا هغه د دوی په واسطه انتخاب شوي وو؟ |
| They hadn't elected him .<br>دوی هغه انتخاب کړي نه وو. | He hadn't been elected by them.<br>هغه د دوی په واسطه انتخاب شوي نه وو. |
| Had they not elected him?<br>آيا دوی هغه انتخاب کړي نه وو؟ | Had he not been elected by them ?<br>آيا هغه د دوی په واسطه انتخاب شوي نه وو؟ |
| Hadn't they elected him?<br>آيا دوی هغه انتخاب کړي نه وو؟ | Hadn't he been elected by him ?<br>آيا هغه د دوی په واسطه انتخاب شوي نه وو؟ |

# The past perfect continuous tense

# تیـره کامله جاري زمانه(ليـري جاري زمانه)

The past perfect continuous tense doesn't change from active into passive.

تېره جاري زمانه له معـلوم څخه مجهـول ته نه تبديلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The simple future tense

# راتلونکې ساده زمانه

| Difference between Active & Passive د معلوم او مجهول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
| $V = V_1$ | $V = V_3$ |
| **H.V = will, shall** | **H.V = will be, shall be** |

| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
|---|---|
| He will write <u>a letter</u>.<br>Sub h.v $v_1$ obj.<br>هغه به یو لیک ولیکي . | <u>A letter</u> <u>will be</u> written by him<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>یو لیک به د هغه په واسطه ولیکل شي. |
| They shall call me.<br>Sub h.v $v_1$ obj.<br>هغوی به ماته زنګ و وهي. | I <u>shall be</u> called by them.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>ماته به د هغوی په واسطه زنګ و وهل شي. |

Ex: مثال:

| **Active معلوم** | **Passive مجهول** |
|---|---|
| I will encourage them.<br>زه به هغوی تشویق کړم. | They will be encouraged by me.<br>هغوی به زما په واسطه تشویق شي. |
| Will I encourage them ?<br>آیا زه به هغوی تشویق کړم؟ | Will they be encouraged by me?<br>آیا هغوی به زما په واسطه تشویق شي؟ |
| I will not encourage them.<br>زه به هغوی تشویق نکړم. | They will not be encouraged by me.<br>هغوي به زما په واسطه تشویق نشي. |
| Will I not encourage them?<br>آیا زه به هغوی تشویق نکړم؟ | Will they not be encouraged by me ?<br>آیا هغوی به زما په واسطه تشویق نشي؟ |
| Won't I encourage them?<br>آیا زه به هغوی تشویق نکړم؟ | Won't they be encouraged by me ?<br>آیا هغوی به زما په واسطه تشویق نشي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The future continuous tense

# راتـلـونـکــې جـاري زمـانـه

The future continuous tense is not changed into passive voice but some Pakistani and Indian grammarians it into passive voice.

راتلونکې جاري زمانه د "فعـل" په مجهـول شکل باندې نه تبديلېږي مگـر ځيني پاکستاني او هندي ژب پوهان يې د "فعل" په مجهـول شکل تبدېـلوي.

| Difference between Active & Passive د معـلوم او مجهـول ترمنځ فرق | |
|---|---|
| **Active معـلوم** | **Passive مجهـول** |
| **V = V- ing** | **V = $V_3$** |
| **H.V = will be, shall be** | **H.V = will be being, shall be being** |

| Active معـلوم | Passive مجهـول |
|---|---|
| They <u>will be</u> playing football.<br>Sub h.v v- ing obj.<br>هغـوی به د فوټبال لوبه کوي. | Football <u>will be being</u> played by them.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>د فوټبال لوبه به د هغـوی په واسطه کېدله. |
| She <u>will be</u> typing <u>a letter</u>.<br>Sub h.v v- ing obj.<br>هغه به يو ليک ټايـپوي . | <u>A letter</u> <u>will be being</u> typed by her.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>يو ليک به د هغې په واسطه ټايـپېدله. |

**Ex:** **مثال:**

| Active معـلوم | Passive مجهـول |
|---|---|
| I will be watching T.V . زه به تلويزون گورم. | T.V will be being watched by me..تلويزون به زما په واسطه کتل کېـږي. |
| Will I be watching T.V ? آيا زه به تلويزون گورم؟ | Will T.V be being wached by me? آيا تلويزون به زما په واسطه کتل کېـږي؟ |
| I will not be watching T.V ..زه به تلويزون نه گورم. | T.V will not be being watched by me. تلويزون به زما په واسطه نه کتل کېـږي. |
| Will I not be watching T.V ?<br>آيا زه به تلويزون نه گورم؟ | Will T.V not be being watched by me ?<br>آيا تلويزون به زما په واسطه نه کتل کېـږي؟ |
| Won't I be watching T.V ?<br>آيا زه به تلويزون نه گورم؟ | Won't T.V be being watched by me ?<br>آيا تلويزون به زما په واسطه نه کتل کېـږي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# The future perfect tense

# راتلـونکي کامله زمانه

| Difference between Active & Passive د معلوم او مجهـول ترمنځ فـرق | |
|---|---|
| **Active معلوم** | **Passive مجهـول** |
| **$V = V_3$** | **$V = V_3$** |
| **H.V = will have** | **H.V = will have been** |

| **Active معلوم** | **Passive مجهـول** |
|---|---|
| They will have typed the letter.<br>Sub h.v $v_3$ obj.<br>هغـوی به لیک ټایپ کړي وي. | The letters will have been typed by them.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>لیک به د هغـوی په واسطه ټایپ شوی وي. |
| She will have cooked the food.<br>Sub h.v $v_3$ obj.<br>هغې به ډوډۍ پخه کړې وي. | The food will have been cooked by her.<br>Sub h.v $v_3$ prep obj.<br>ډوډۍ به د هغې په واسطه پخه شوې وي. |

Ex: مثال:

| Active معـلوم | Passive مجهـول |
|---|---|
| We will have defeated him.<br>موږ به هغه ته ماتې ورکړې وي. | He will have been defeated by us.<br>هغه به زموږ په واسطه ماتې خوړلې وي. |
| Will we have defeated him ?<br>آیا موږ به هغه ته ماتې ورکړې وي؟ | Will he have been defeated by us?<br>آیا هغه به زموږ په واسطه ماتې خوړلې وي؟ |
| We will not have defeated him.<br>موږ به هغه ته ماتې ورکړی نه وي. | He will not have been defeated by us.<br>هغه به زموږ په واسطه ماتې خوړلې نه وي. |
| Will we not have defeated him?<br>آیا موږ به هغه ته ماتې ورکړې نه وي؟ | Will he not have been defeated by us ?<br>آیا هغه به زموږ په واسطه ماتې خوړلې نه وي؟ |
| Won't we have defeated him?<br>آیا موږ به هغه ته ماتې ورکړې نه وي؟ | Won't he have been defeated by us ?<br>آیا هغه به زموږ په واسطه ماتې خوړلې نه وي؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## The future perfect continuous tense

## راتلوونکې کامله جاري زمانه

The future perfect continuous tense doesn't change from active into passive.

راتلوونکې کامله جاري زمانه له معلوم څخه مجهول ته نه تبديلېږي.

# Direct and indirect speech

**(Quoted and reported) speech**

# مستقيم او غير مستقيم كلام

Speech means talk or dialogue between two persons.

د كلام مانا د دوو اشخاصو ترمنځ خبري يا خبري اتري كول دي.

We can express our or somebody else's ideas into two ways in English language .

په انګليسې ژبه کې موږ کولای شو خپل اويا د نورو خبري په دوو شکلو بيان کړو.

**1.** Directly. په مستقيم ډول

**2.** Indirectly. په غير مستقيم ډول

### 1) Direct speech. مستقيم كلام

The direct speech indicates the speaker's exact words.

مستقيم كلام د ويونكي دقيقي ويناوي بيانوي.

Ex: He said, " I play chess with my freind." مثال: هغه وويل، " زه له خپل ملګري سره سطرنج بازي کوم .

Ex: Najeeb said, " I am very happy. مثال: نجيب و ويل، " زه ډېر خوشحاله يم ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Indirect speech: غـیـر مسـتـقـیـم کـلام

The indirect speech denotes the speaker's ideas but not all of his exact words.

غير مستقيم كلام د ويونكي په ويناوو دلالت كوي مگر نه ټولي دقيقي كليمې.

Ex: He said that he played chess with his freind. مثال: هغه وويل چې هغه له خپل ملگري سره سطرنج بازي كوله.

⇨ **The following points should be observed in the direct speech:**

**په مستقيم كلام كې بايد لاندې نقطې مراعات شي:**

1) A comma ( , ) is used after the main verb.

له اصلي فعـل څخه وروسته يوه كامه (،) استعمالېږي.

2) The narration should be expressed between the quotation marks (" ").

وينه بايد د نقـل قول له علامو ترمنځ ( " " ) بيان شي.

3) The first word in the narration should begin with capital letter.

په وينه كې بايد لومړى توری په غټ توري شروع شي.

Ex: Ahmad said, "My classmates will take a trip to Mazar next week."

مثال: احمد وويل، " راتلوونكي اوونۍ به له همصنفيانو سره مزار ته سفر وكړم. "

# Changing direct to indirect speech

# د مستقيم كلام تبديلـول په غير مستقيم كلام

The way to change the direct speech to indirect is different in the different kinds of sentences.

د مستقـيم كلام تبديلول په غير مستقـيم كلام باندي په مختلفـو جملو كې مختلف ډولونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# 1) Declarative sentences: خبـري جمـلې

**The following points must be observed in the declative sentences:**

**لاندي نقطې بايد په خبري جملـو کې مراعات شي:**

| | |
|---|---|
| **1.** | The comma and quotation marks ( “ ” ) are omitted.<br>کامـه او د نـقـل قـول عـلامـي ( " " ) له منځـه وړل کـېږي. |
| **2.** | The conjunction (that) is used to connect the main verb with the rest of the sentence.<br>د (that) ربطي توري د اصلي فـعـل له پاتې جملې سره د نښلولو لپاره استعمالـېږي. |
| **3.** | The pronouns are changed according to speaker and reporter.<br>ضميرونه د ويونکي او نقـل کوونکي سره سـم تغـير خوري. |
| **4.** | If the main verb is in simple past tense , the tenses are changed.<br>که چېـري په تېـره ساده زمانه کې اصلي فعـل وي، زمانې تغير کـوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Chart of tenses change

## د زمانو د تغیر جدول

| No | Direct مستقیم | Indirect غیر مستقیم |
|---|---|---|
| 1 | Simle present tense حال ساده زمانه | Simple past tense تېره ساده زمانه |
| 2 | Present continuous tense حال جاري زمانه | Past continuous tense تېره جاري زمانه |
| 3 | Present perfect tense حال کامله زمانه | Past perfect tense تېره کامله زمانه |
| 4 | Present perfect continuous tense حال کامله جاري زمانه | Past perfect continuous tense تېره کامله جاري زمانه |
| 5 | Simple past tense تېره ساده زمانه | Past perfect tense تېره کامله زمانه |
| 6 | Past contiouous tense تېره جاري زمانه | Past perfect continuous tense تېره کامله جاري زمانه. |
| 7 | Past perfect tense تېره کامله زمانه | Past perfect tense تېره کامله زمانه |
| 8 | Past perfect continuous tense تېره کامله جاري زمانه | Past perfect continuous tense تېره کامله جاري زمانه |
| 9 | Simple future tense راتلوونکي ساده زمانه | Simple future in the past tense په تېره کې راتلوونکې ساده زمانه |
| 10 | Future continuous tense راتلوونکې جاري زمانه | Future in the past continuous tense په تېره جاري کې راتلوونکې زمانه |
| 11 | Future perfect tense راتلوونکې کامله زمانه | Future in the past perfect tense په تېره کامله کې راتلوونکې زمانه |
| 12 | Future perfect continuous tense راتلوونکې کامله جاري زمانه | Future in the past perfect continuous tense په تېره کامله جاري کې راتلوونکې زمانه |
| 13 | Simple future in the past tense په تېره کې راتلوونکې ساده زمانه | Simple future in the past tense په تېره کې راتلوونکې ساده زمانه |
| 14 | Future in the past continuous tense په تېره جاري کې راتلوونکې زمانه | Future in the past continuous tense په تېره جاري کې راتلوونکي زمانه |
| 15 | Future in the past perfect tense په تېره کامله کې راتلوونکې زمانه | Future in the past perfect tense په تېره کامله کې راتلوونکې زمانه |
| 16 | Future in the past perfect continuous tense. په تېره کامله جاری کي راتلوونکی زمانه | Future in the past perfect continuous tense. په تېره کامله جاري کې راتلوونکې زمانه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**5.** All the words and adverbs which show the near situation are change to far.

ټولي کليمې او قيدونه چې نږدې وضحيت (حالت) ښيي په ليري باندي تبديلېږي.

# Chart of adverbs change

# د قيدونو د تغير جدول

| No | **Direct** مستقيم | **Indirect** غير مستقيم |
|---|---|---|
| 1 | Now | Then |
| 2 | Here | There |
| 3 | These | Those |
| 4 | This | That |
| 5 | Ago | Before |
| 6 | Just | Then |
| 7 | Yesterday | The previous day |
| 8 | Next week | The following week |
| 9 | Last week | The previous week |
| 10 | Tomorrow | The next day |
| 11 | To day | That day |
| 12 | Thus | So |

**6.** The verbs (Must, Should, Ought to, Could) are not changed in the indirect form.

د (Must, Should, Ought to, Could) فعلونه په غيرمستقيم شکل باندي نه تبدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1)** Ex: ۱) مثال:

- He said, "I come here every day". - هغه وویل، "زه هره ورځ دلته راځم".
- He said that he came there every day. - هغه وویل چې هغه هره ورځ هلته راتلو.

**2)** Ex: ۲) مثال:

- Bilal said to me, "I am speaking with him now".

- بلال ماته وویل، " زه اوس له هغه سره د خبرو په حال کې یم ".

- Bilal told me that he was speaking with him then.

- بلال ماته وویل چې هغه وروسته له هغه سره د خبرو په حال کې و.

**3)** Ex: ۳) مثال:

- Karrim said, "Jamal has repaired the fridge". کریم و ویل، "جمال یخچال ترمیم کړی دی ".
- Karrim said that Jamal had repaired the fridge. کریم وویل چې جمال یخچال ترمیم کړی و.

**4)** Ex: ۴) مثال:

- She said, "We visited Paris two months ago".

هغې وویل، "موږ دوه میاشتې مخکې پاریس ولید ".

- She said that they had visited Paris two months before.

هغې وویل چې هغوی دوه میاشتې مخکې پاریس لیدلی و.

## Note: نوټ

When the main verb is not in the simple past tense, no change is possible in the tenses.

کله چې په ساده تېره زمانه کې اصلي فعل نه وي، په زمانو کې تغیر نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال:

- Ahmad says, " I know him". احمد وايي، " زه هغه پېژنم ".
- Ahmad says that he knows him. احمد وايي چې هغه پېژني.

Ex: مثال:

- He has said, " Amran is a clever student".

هغه ويلي دي، " عمران يو لايق زده کوونکی دی ".

- He has said that Amran is a clever student.

هغه ويلي دي چې عمران يو لايقه زده کوونکی دی.

**Note:نوټ**

When the narration is unchangeable general fact, no change is made in the indirect speech; even if the main verb is in the simple past tense.

کله چې نقل قول (وينا) کلي حقيقت وي، په غير مستقيم کلام کې تغير نه راځي؛ حتی که چېري په ساده تېره زمانه کې اصلي فعل هم موجود وي.

Ex: مثال:

- Shabeer said, " The sky is blue". شبير وويل، " آسمان آبي دی ".
- Shabeer said that the sky is blue. شبير وويل چې آسمان آبی دی.

## 2) Intrrogative sentences: پوښتنيزي (استفهامي) جملې

**The following points are to be observed:**

**لاندي نقطي بايد مراعات شي:**

1. The main verb is changed to a verb which can express a question.

اصلي فعل له هغه فعل سره تبديلېږي چې کولاي شي سوال بيان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Like**: Ask (پوښتل، سوال کول), Inquire (بیا پوښتنه کول), Want to know (پوهېدل، پېژندل) etc…

**2.** The comma and quotation marks are omitted.

د کامې او نقل قول علامې له منځه وړل کېږي.

**3.** To connect the two parts of the sentence.

د جملې دوه برخې سره نښلوي.

**4.** The pronouns based on speaker and reporter, are changed.

ضمیرونه د ویونکي او نقل قول کوونکي په اساس تغیر کوي.

**5.** The subject is placed before verb. فاعل له فعل څخه مخکې ځای نیسي.

**6.** A full stop is used at the end of the sentence instead of a question mark.

د جملې په اخېر کې د سوالي علامې په ځای نقطه اېښودل کېږي.

## Note: نوټ

The words (do, does, did) are omitted in the indirect speech.

د(did, does, do) کلیمې په غیر مستقیم کلام کې له منځه ځي.

Ex: مثال:

- He said: " Can I help you?" هغه وویل:" آیا کولای شم له تاسي سره مرسته وکړم؟ "
- He asked if he could help me. هغه پوښتنه وکړه چې آیا هغه کولای شوای له ما سره مرسته وکړي.

Ex: مثال:

- He said: " Do you know me?" هغه و ویل: " آیا ما پېژنئ؟ "
- He wanted to know if I knew him. هغه غوښتل وپوهېږي چې آیا هغه مې پېژانده.

Ex: مثال:

- Ali said: "Have you visited Kabul?" علي و ویل: " آیا تاسي کابل لیدلی دی؟ "
- Ali asked me if I had visited Kabul. احمد وپوښتل چې آیا ما کابل لیدلي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال:

- Khalid said: "Where are you going now?" خالد و ویل: " تاسي چېرې ځئ؟ "
- Khalid wanted to know where I was going then. خالد غوښتل وپوهېږي چې زه چېرې تلم.

Ex: مثال:

- The students said: "When is our examination?" شاګردانو و ویل: " زموږ امتحان څه وخت دی؟"
- The students asked when their examination was. شاګردانو وپوښتل چې امتحان يې څه وخت و.

## 3) Imperative sentences: امــري جـمـلــې

The following poinnts are necessary to be observed in the imper- ative sentences.
په امري جملو کې لاندې نقطې بايد ضروري مراعات شي.

**1.** The main verb is changed to a verb which can express a command or request.
اصلي فعـل په هغه فعـل باندې تبديلېږي چې وکولای شي يو امـر يا غـوښتنه بيان کړي.

**Like:** Order (هدايت ورکول), Request (غـوښتنه کول), command (امر کول) etc…

**2.** To connect the two parts of the sentence. د جملې دوه برخې سره نښلوي.

**A)** Use (to) in the positive case. په مثبت حالت کې (to) استعمالېږي.

**B)** Use (not to) in the negative case. په منفي حالت کې (not to) استعمالېږي.

Ex: مثال:

- He said: "Come on time." هغه وويل: " په وخت راځي. "
- He ordered to me tocome on time. هغه ماته هدايت وکړ چې په وخت راشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال:

- He said: "Don't go away please." هغه وویل : " لطفاً لرې مه ځه ."
- He asked me not to go away. هغه له ما څخه غوښتنه وکړه ترڅو لرې لاړ نشم.

Ex: مثال:

- Jalal said: "Please study your lessons well." جلال و ویل: "لطفاً خپل درسونه دې ښه و وایه. "
- Jalal requested me to study my lessons well. جلال له ما څخه غوښتنه وکړه چې خپل درسونه ښه ووایم.

## 3) Exclamatory sentences: ندايي جملې

The folloowing points should be observed in the exclamatory sentences:

په ندايي جملو کې باید لاندي ټکي مراعات شي:

**1.** The main verb is changed to one of the verbs which can express emotion or strong feeling.

اصلي فعل په یو هغه فعلونو تبدیلېږي چې هیجان یا احساس بیان کړي.

**Like**: **Cry (ژړل، فریاد کول), Appreciate ( درناوي کول، درک کول، ستایل), Shout (فریاد کول), Admire ( ستایل، تشویقول) etc...**

**2.** The comma and quotation marks are omitted.

د کامې او د نقل قول علامې له منځه ځي.

**3.** The other changes (tenses and adverbs) are the same as decla-rative form.

د نورو (زمانو او قیدونو) تغیرات د خبري حالت په څېر دي.

Ex: مثال:

- He said, " Welcome to Ghazni !" هغه و ویل، " غـزني ته ښه راغلاست ! "
- He greeted with me saying that welcome to Ghazni.

هغه د ښه راغلاست ویلـو غزني ته له ما سره روغبړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: مثال:

- Ahmad said, "Well-done you won the challenge !"

احمد وویل، " آفرین د مسابقي وړونکی شوې !"

- Ahmad appreciated me saying that I had won the challenge.

احمد ددې په ویلو سره چې زه د مسابقي وړونکي شوي وم له ما څخه ستاینه وکړه.

Ex: مثال:

- He said, "What a noisy he is !" هغه وویل، " څه یو غالمغالی (سړی) دی !"
- He should what a noisy man he was. هغه فریاد وکړ چې څه یو غالمغالی (سړی) وو.

# Interjection

## د غبږ(ندا) توری

Interiection is a word which is used to express some sudden feelling or emotion.

د نداء توری هغه کلمه ده چې د احساس اویا هیجان لپاره استعمالیږی.

Ex: Alas! He passed a way. مثال: افسوس! هغه مړ شو.

Ex: Oh! It is really funny. مثال: آه! واقیعاً مسخره دی.

Ex: Pooh! I hurt my finger. مثال: اخ! ما خپله گوته غوڅه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇨ **Interjections are divided into the following parts:**

**د ندا توري په لاندې برخو وېشل شوي دي:**

## A: Natural interjections حقیـقي د نداء توري

These interjections usually contain one syllable and express strong feeling or emotion.

د نداء دغه توري معمولاً يو هجايي دي او قـوي احساس يا هيجان بيانوي.

**The natural interjections are as follow: حقيقي د نداء توري په لاندي ډول دي**

**1. To express surprise.** **د تعجب يا حرانتيا د بيان لپاره.**

**Like:** Oh! (آه !), Ah! (آه!), Ha! (ها!).

Ex: <u>Oh</u>! What a tall building. مثال: <u>آه</u>! څه لوړه ودانۍ ده.

**2. To express joy and laughter.** **خوشحالي، او خندا د بيان لپاره.**

**Like**: Ha Ha! (ها ها!).

Ex: <u>Ha Ha</u>! We won the game. مثال: <u>ها ها</u>! موږ لوبه وګټله.

**3. To express grief and pity.** **د غـم او افسوس د بیا ن لپاره.**

Ex: Alas! He is dead. مثال: افسوس! هغه مړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4. To express approval and confirmation.** **د تاید او تصدیق د بیان لپاره.**

Ex: <u>Bravo</u>! you have done well the homework.

مثال: شاباس! تا کورنۍ وظیفه ښه ترسره کړې ده.

**5. To express disgust, pity and blaming.**

**د نفرت سرښندنې او ملامتیا د بیان لپاره.**

Ex: Fie! Disoppointed in the exam. مثال: په امتحان کې په ناکامۍ باندې خجالت وکاره!.

Ex: Fie, fie! You are blame. مثال: بس، بس! ته ملامت یې.

**6. To express pain.** **د درد د بیان لپاره استعمالیږي.**

Ex: <u>Pooh</u>! I hurt my finger. مثال: پوه (اخ)! ما خپله گوته غوڅه کړه.

**7. To express greeting and farewell.**

**د روغبړ او خدای(ج) په امانې د بیان لپاره.**

Ex: <u>Adieu</u>! See you tommorow. مثال: خدای په امان! سبا وینو.

## B: Compound interjections: مرکب د نداء توري

These interjections are formed by combination of two or more than two words and express a strong feeling.

د نداء دغه توري له دوو یا له دوو څخه له زیاتو کلمو ترکیب شوي او قوي احساس بیانوي.

**Like : Well-done! (آفرین!), Wellcome! (ښه راغلاست!), Good heavense (ای خدایه عجیبه!), Shame on you! (خجالت وکاره!), Ah me! (افسوس په ما!), Good bye! (خدای په امان)، Just my luck! (زما بد بخت!), It is all very well! (سترگې روښانه !) and etc... او داسې نور...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Interjections formed by parts of speech

## هغه ندایي توري چې د کلام د اجـزاوو په وسیله تشکیلېـږي

**1.** With nouns. له اسمونو سره.

Ex: Stupid guy! مثال: احمق سړي!

**2.** With adverbs. له قیدونو سره.

Ex: How care less! مثال: څومره بې احتیاطه!

**3.** With verbs. له فعـلونو سره.

Ex: Listen! Lesten! مثال: غـوږ ونیسئ! غـوږ ونیسئ!

## Note:نوټ

Sometimes we can express emotion or feeling by sentences, which are called exclamatory sentences.

ځیني وخـتونه مـوږ هیجان یا احساس په جمله کې ښکاره کـولاي شـو، چـې (په دې صورت کې) د ندایـي جملـو په نوم یادېـږي.

Ex: مثال:

- What a noisy guy he is! څه یو غالمغالي (سړی) دی!
- How terrible it is! څومره ډارن!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Suffixes and prefixes
# وروستاړي او مختاړي

Suffixes and prefixes are syllables which are added before and after the words and change their meaning.

وروستاړي او مختاړي هغه الفاظ دي چې مخکي او وروسته له کليمو څخه علاوه کېږي او د هغوی مانا ته تغير ورکوي.

## Prefixes: مختاړي

Prefixes are syllables which are added before words and change their meaning.

مختاړي هغه الفاظ دي چې له کلمو څخه مخکي علاوه کېږي او د هغوی مانا ته تغير ورکوي.

**Like:**

**– <u>Dis</u>like (نه خوښېدل ـ نه خوښول), Read – <u>R</u>eread (ويل ـ دوباره ويل) .... etc.**

**The most importan prefixes are as follow:** **مهمترين مختاړي په لاندي ډول دي:**

### 1) Un:

It is placed before verbs and adjectives to convert their meaning.

د فعلونو څخه مخکي ځای نيسي او د هغوی مانا ته تغير ورکوي.

**Ex: Able – <u>Un</u>able (توانېدل ـ نه توانېدل), Kind – <u>Un</u>kind (مهربان ـ نامهربان).**

### 2) In:

It is added before adjectives and converts their meaning.

د صفتونو څخه مخکي علاوه کېږي او د هغوی مانا ته تغير ورکوي.

**Ex: Direct–<u>In</u>direct (مستقيم ـ غيرمستقيم), Formal–<u>In</u>formal (رسمي ـ غير رسمي).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



### 3) Dis:

It is placed before adjectives and verbs and converts their meaning.

د صفتونو څخه مخکي ځاي نيسي او د هغوی مانا ته تغير ورکوي.

**Ex: Agree - Disagree(موافقيت کول ـ مخالفت کول), Appear - Disapear(ښکاره کېدل ـ ورکېدل).**

### 4) Re:

It is placed before verbs and shows repetition.

له فعل څخه مخکي ځای نيسي او د (فعلونو) تکرار ښيي.

**Ex:Write - Rewrite (ليکل ـ دوباره ليکل), Correct – Recorrect(تصحيح کول ـ دوباره تصحيح کول).**

## Suffixes: وروستاړي

Suffixes are syllables which are placed after words and change their meaning.

وروستاړي هغه الفاظ دي چې له کلمو څخه وروسته ځای نيسي او د هغوی مانا ته تغير ورکوي.

**Ex: Implement – Implementation (اجراء کول ـ اجراء)**

**The most important suffixes are as follow:**

**مهمترين وروستاړي په لاندي ډول دي:**

### 1) Or – er :

These are placed after words and turn them into nouns.

دغه له کلمو څخه وروسته ځای نيسي او هغوی په اسمونو تبديلوي.

**Ex: Hold – Holder (نيول ـ نيونکي), Act -- Actor (تمثيل کول ـ تمثيل کوونکی).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Al :

It is added at the end of nouns and changes them to adjectives.

د اسـمونو په اخېـر کې علاوه کېـږي او هغـوی په صفتونو تبدیـلوي.

**Ex: Nature – Natur<u>al</u> (طبعیت ـ طبعی), Nation – Nation<u>al</u> (ملت ـ ملـي) etc…**

## 3) Ion :

It is added at the end of verbs and turns them into nouns.

د فعـلونو په اخېر کې علاوه کېـږي او هغـوی په اسمونو تبدېـلوي.

**Ex: Locate - Locat<u>ion</u>(موقعیت لرل ـ موقعیت), Participate - Participat<u>ion</u>.(ګډون کول ـ ګډون)**

## 4) Sion :

It is placed at the end of the verbs and changes them to abstract nouns.

د فعـلونو په اخېر کې ځای نیسي او هغـوی د مانا په اسمونو باندی تبدیلېـږي.

**Ex: Decide – Deci<u>sion</u> (تصمیم نېول ـ تصمیم), Divide – Divi<u>sion</u> (تقسیمول ـ تقسیم).**

## 5) Ize :

It is added after the nouns and turns them into verbs.

له اسمـونو څخه وروسته علاوه کېـږي او هغـوی په فعـلونو تبدیلوي.

**Ex: Islam – Islam<u>ize</u>(اسلام ـ مسلمانول), National – National<u>ize</u> (ملي ـ ملي کول) etc…**

## 6) Ness :

This suffix is placed after adjectives and changes them to abstract nouns.

دغه وروستاړي له صفتونو څخه وروسته ځای نیسي او هغـوی د مانا په اسمونو تبدیلوي.

**Ex: Kind – Kind<u>ness</u>(مهربان ـ مهرباني), Dark – Dark<u>ness</u> (تاریک ـ تاریکي) etc…**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 7) Less :

Is added after nouns and converts their meaning.

له اسمونو څخه وروسته علاوه کېږي او د هغوی مانا تغیروي.

**Ex: Care – Care<u>less</u>(توجه ـ بې توجه), Hope – Hope<u>less</u> (امید ـ نا امید) etc…**

## 8) Ful :

It is placed after nouns and changes them to adjectives.

له اسمونو څخه وروسته ځای نیسي او هغوی په صفتونو تبدیلوي.

**Ex: Sin – Sin<u>ful</u> (گناه ـ گنهکار), Pain – Pain<u>ful</u> (درد – دردناک) etc…**

## 9) Ive :

It is placed after verbs and changes them to adjectives

له فعلونو څخه وروسته ځاي نیسی او هغوی په صفتونو باندي تبدیلوي.

**Ex: Conclude – Conclus<u>ive</u> (نتيجه ـ نتيجه بخش), Indicate – Indicat<u>ive</u> (ښودل ـ ښوونکی).**

## 10) Ment :

It is added at the end of verbs and turns them into nouns.

د فعلونو په اخیر کې اُضافه کېږي او هغوی په اسمونو باندي تبدیلوي.

**Ex: Arrange - Arrange<u>ment</u> (ترتیبول ـ ترتیب), Punish – Punish<u>ment</u>(مجازات کول ـ مجازات).**

## 11) Able :

It is placed after verbs and changes them into adjectives.

فعلونو څخه وروسته ځای نیسي او هغوی په صفتونو باندي تبدیلوي.

**Ex: Eat – Eate<u>able</u> (خوړل ـ خوړونکی), Drink – Drink<u>able</u> (څښل ـ څښونکی) etc…**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Punctuation

# علامه ایـښودنه

Punctuation is an important part of Grammar by which the speaker can explain Himself or herself well.

علامه ایښـودنه د ګرامـر یوه مهمـه بـرخه ده چې ویـونکـی د "هغه" په واسطـه کولای شـي خپل هـدف واضح "بیان" کړي.

⇨ **The following are the most important symbols in English:**

**په انګلیسي کې مهمتریـني علامې په لاندي ډول دي:**

## 1) Full stop, period ( . ) ټـکـی

Period is used to show the longest pause and is used as follow:

ټکی د اوږد ترین ځنډ ښکارندوی دی او په لاندي ډول استعمالېـږي:

**1.** To mark the declarative and imperative sentences.

د خبري او امري جملو د علامه ایـښودنې لپاره.

Ex: He come here yesterday**.** — مثال: هغه تېـره ورځ دلته راغي.

Ex: Please come on time**.** — مثال: لطفاً په وخت راځه.

**2.** After abbreviations. — له مخففاتو څخه وروسته.

Ex: Mr**.** Shahid. — مثال: ښاغلي شاهـد.

Ex: Dr**.** Mirwais. — مثال: داکتر میرویس.

**3.** To show a decimal. — د اعشاري ښودلو لپاره.

Ex: 5**.**6 million. — مثال: ٥،٦ میلیونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Cmma ( , ) :کامه

Comma represents the shortest pause in the sentences.

کامه په جملو کې له کوچنی ترین ځنډ څخه نماینده گي کوي.

- **Comma is used as follow:** **کامه په لاندې ډول استعمالېږي:**

**1.** To separate the series of words which have the same task in a sentence.

د یو دسته کلیماتو جلا کولو لپاره چې په یوه جمله کې یوشان وظیفه سرته رسوي.

Ex: Herat, Ghazni, Wardak and Kunar are the provinces of Afghanistan.

مثال: هرات، غزني، وردگ او کنړ د افغانستان ولایتونه دي.

**2.** After the main verb in the direct speech.

په مستقیم کلام کې له اصلي څخه وروسته.

Ex: He said , " I am very happy." مثال: هغه وویل، " زه ډېر خوشحاله یم.

**3.** After (yes) and (no). له (yes) او (no) څخه وروسته.

Ex: Are you a doctor. مثال: آیا ته یو ډاکتر یې؟

Yes, I am a doctor. هو، زه یو ډاکتر یم.

No, I am not a doctor. نه، زه یو ډاکتر نه یم.

## 3) Semi colon ( ; ) ټکي کامه (نیمه شارحه)

Semi colon shows a longer pause than comma but shorter than period.

ټکی کامه نسبت له کامي څخه دراز تر ځنډ مگر له ټکي څخه لنډ تر ځنډ ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1.** Semi colon can be used instead of a conjunction between two independent sentences.

ټکي کامه کولای شي د دوو مستقلو جملو ترمنځ د ربطي توري په ځای استعمال شي.

Ex: He is a student**;** Muzamil is a doctor.

مثال: هغه یو زده کوونکی دی؛ مزمل یو ډاکتر دی.

**2.** To separate the series of related words separated by comma.

د هغه دسته ټرلو کلمو د جلا کولو لپاره چې د کامې په واسطه جلا شوي دي.

Ex: To see, saw, seen**;** to ride, rode, ridden**;** to write, wrote, written.

## 4) Colon ( : ) شارحه ( دوه ټکي، کالن)

Colon represents the longer pause than semi colon but shorter than period and is used as follow.

شارحه نسبت له نیمه شارحې څخه په دراز تر مګر ټکي ته په لنډتر ځنډ نماینده ګي کوي او په لاندي ډول استعمالېږي.

**1. To express examples.** **د مثالونو بیانولو لپاره.**

Ex **:** He can play football. مثال **:** هغه کولاي شي د فوټبال لوبه وکړي.

**2. Instead of comma in the direct speech.**

**په مستقیم کلام کې د کامې په ځاي.**

Ex: He said **:** "I do my homeworke." مثال: هغهوویل **:** " ما خپله کورنی وظیفه سرته ورسوله . "

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2. To express enumerations.** **د شمېرلو د بیان لپاره.**

Ex: The (to do) verbs are **:** Do, Does, Did.

د (to do) فعـلونه عبارت دي له **:** Do, Does, Did ٔخخه .

**3. To express a quotation.** **د یو نقـل قـول بیان لپاره.**

Ex: Hazrat Mohammad(ص) says **:** prayer is the key of paradise.

مثال: حضرت محمد(ص) فرمايي **:** لمونځ د جنت کيلي ده .

## 5) Exclamation mark ( ! ) .د غــږ(نداء) یا تعـجـب عـلامـه

**Exclamation mark is used as follow:**

**د غږیا تعجب علامه په لاندي ډول استعمالېږی:**

**1. After interjections.** **د نداء له توري څخه وروسته.**

Ex: Pooh**!** I hurt my finger. مثال: اخ **!** ما خپله گوته پرې کړه.

**2. At the end of the exclamatory sentences.** **د ندايي جملو په اخېر کې.**

Ex: What a fooish he is**!** مثال: څه یو احمق سړی دی**!**

**3. After imperative verbs which asks for attention.**

**له امري فعـلونو څخه وروسته چې د توجه غوښتنه وي.**

Ex: Help me**!** مثال: مرسته راسره وکړه**!**

Ex: Long live Afghanistan**!** مثال: ژوندی دي وي افغانستان**!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 6) Question mark (?). د سـوالـيه عـلامـه

**Question mark is used as follow:** **د سواليه علامه په لاندي ډول استعمالېږي:**

**1. At the end of intrrogative sentences.** **د سواليې جملې په اخېر کې.**

Ex: Can you speak Arabic? مثال: آيا ته په عـربي خبري کولای شي ؟

**2. After intonation questions.** **د غـږي سوالونو څخه وروسته.**

Ex: You are here? مثال: تاسو دلته ياست؟

## 7) Slash ( / ). د انتخاب عـلامـه

Slash shows a choice between two words or sentences.

د انتخاب علامه د دوو کلمو ترمنځ انتخاب ښيي.

Ex: S + will / shall + V + C.

## 8) Hyphen ( - ) د وصـل عـلامـه

**1.** To connect the words in a combined noun.

په يـو اسـم کې د کلمو د وصلولو لپاره.

Ex: Father - in - law, Man - of - war.

**2.** At the end of lines to connect the rest of an uncompleted word.

د ليکې په اخير کې د يوې نامکملي کليمې د وصلولو لپاره.

Ex: Afghanistan is an agricultural and ancient country many people of afghan-

istan are uneducated.

مثال: افغانستان يو کرنيز هېـواد دی او د افغانستان ډېـر خلک بې سواده دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**3. To separate syllable.** **د هجا د جلا کولو لپاره.**

Ex: Moral = Mo - ral.

Ex: Clever = Cle - ver.

## 9) Dash (–). د فاصلې خط

1. Between two numbers or dates to express the duration.

د دوو عددونو یا نېټو ترمنځ موده بیانوي.

Ex: I studied from page 10 – 20. مثال: له ۱۰ څخه تر ۲۰ مخ پورې مطالعه وکړه.

2. To show tongue obstacles and stammering.

د ژبې بندیش او توتلې ښودلو لپاره.

Ex: Fa – fa – father come to Kabul. مثال: په – په – پلار کابل ته راغي.

## 10) Quotation mark (" "). د نقل قول علامه

The quotation marks can be used to show a narration.

د نقل قول علامه کولای شي د یوې وینا لپاره استعمال شي.

Ex: Shabeer said, " I am writting a letter now".

مثال: شبیر وویل، " زه اوس د یوې رسالې په لیکلو بوخت یم ".

## 11) Parentheses ( ) کوچنی قوس

1. To express the meaning of something. د یو شي د مانا بیانولو لپاره.

Ex: Hashish (narcotic) is harmful for health. مثال: چرس (مخدر) د روغتیا لپاره مضر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2.** To express the parts of a division. د يو قسمت د برخو بيانولو لپاره.

Ex: Afghanistan has two native languages. (a) Pashto (b) Dari .

مثال: افغانستان دوه محلي ژبې لري (a) پښتو (b) دری.

## 12) Apostrophe ( ’ ) اپا سترافي يا د له منځه وړلو علامه

**1.** In the genitive case. په اضافي يا مالکيت حالت کې. (له ملکي اسم سره).

Ex: Najeeb’s book. مثال: د نجيب کتاب.

Ex: Mohammad’s father. مثال: د محمد پلار.

**2.** To show a contraction. د اختصار ښودلو لپاره.

Ex: He has studied the book = He’s studied the book.

مثال: هغه کتاب مطالعه کړی دی.

## 13) Ellipsis or dots ( ... ) څو نقطې

Shows the omission of word or words. د کلمې يا د کلمو له منځه وړل ښيي .

Ex: The auxiliary verbs consist in: am, is, are, was, were, must ... etc.

مثال: کومکي فعلونه عبارت دي له: am, is, are, was, were, Must ... او داسي نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Writing
# لیکنه

Writing is a basic art and modern necessity. Through writting we can express our ideas for others and understand about the others ideas as well.

لېکنه یو اساسي او عصري ضرورت دی. د لېکنې له لاري موږ کولای شو خپل نظریات یا اهداف نورو ته بیان کړو او هم په "ضمن کې" د نورو له نظریاتو یا اهدافو څخه اطلاع حاصله کړو .

We can express our ideas by writing sentences and paragraphs.

موږ کولای شو خپل نظریات د جملو یا متنو په لیکلو سره بیان کړو.

## 1) Sentences writing: جمله لیکنه

Sentence is a group of words which makes a complete meaning.

جمله د کلمو هغه گروپ دی چې کامله یوه کامله مانا افاده کوي.

Ex: Ahmad plays footbal every day. — مثال: احمد هره ورځ د فوټبال لوبه کوي.

**The following points sould be observed in writing a sentence.**

**د یوې جملې په لیکلو سره باید لاندي ټکي مراعات شي.**

1. The first letter must be capital. — لومړی توری باید لوی وي.
2. Threre must be space among the words. — د کلمو ترمنځ باید فاصله موجوده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**3.** Mark a sentence with a full stop or question mark as required.

یوه جمله له ټکي یا د سوالیه علامې د غوښتنې سره سم علامه اېښودنه شي.

**4.** The sentence must be logical.

جمله باید منطقي وي.

## 2) Paragraph writing: متن یا پراګراف لیکنه

A group of sentences which are joined by conjunction and follow one main idea is called paragraph.

هغه ګروپ د کلمو چې د ربط توري په واسطه سره تړل شوی وي او یوه مفکوره وړاندي کړي د متن یا پراګراف په نوم یادېږي.

A paragraph usually has one topic sentence and several supporting sentences.

یو متن معمولاً د یو موضوعي او څو حمایوي جملو لرونکی وي.

### 1. Topic sentences: موضوعي جملې

The sentence which introduces a paragraph is called topic senten- ces. The topic sentence is usually used at the beginning of a paragraph.

هغه جمله چې متن معرفي کوي، د موضوعي جملې په نوم یادېږي. موضوعي جمله معمولاً د جملي په سرکي لیکل کېږي.

### 2. Supporting sentences: حمایوي جملي

The sentences which support the topic sentence and add details to a par- agraph are called supporting sentences.

هغه جملې چې موضوعي جمله حمایه کوي او په متن باندي جزیات زیاتوي د حمایوي جملو په نوم یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **The paragraph are divided into four parts:**

**متنــونه په څلورو برخو ویشل شــوي دي:**

1) Expository paragraphs. اخباري متـنونه
2) Persuasive paragraphs. تـشوېقـي متـنونه
3) Narrative paragraphs. نـقـلـي (روايتي) متنونه
4) Descriptive paragraphs. توصيفي متنونه

### 1) Expository paragraphs. اخباري متـنونه

A group of sentences which gives information about some person, place or thing is called expository paragraph.

هغه گروپ د جملو چې د شخص، ځای یا شي په باره کې معلومات ورکوي اخباري متن بلل کېږي.

### 2) Persuasive paragraphs. تـشويقـي متـنونه

A paragraph which encourages some one to do or not to do some-thing is called persuasive paragraph.

هغه متن چې یو شخص د یو شي ترسره کولو اویا نه ترسره کولو ته تشویقـوي، تشويقي متن بلل کېږي.

### 3) Narrative paragraphs. نـقـلـي (روايتي) متـنونه

A group of sentences which expresses a narration is called narrative paragraph.

هغه گروپ د جملو چې نقـل(روايت) بيانوي د نقلي متن بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4) Descriptive paragraph. توصیـفـي مـتـنـونه**

A paragraph which describes some one or something is called descriptive Paragraph.

هغه متن چې شخص یا شي توصیف کړي توصیفي متن بلل کېږي.

# Letter writing
# لـیـک لـیکـنه

Ltter writing constitute the main parts of writing, of course letter writing is a way to communicate with others in writing.

لیک لیکنه د لیکنـې مهمه برخه تشکیلـوي، الـبته لیک لیکنه هغه طـریقه ده چې د هـغې په وسېله له نورو سره اړیـکې نیسو.

| | | |
|---|---|---|
| 1) | Heading | عـنـوان |
| 2) | Greeting or salutation | روغبړ یا سلام |
| 3) | Body or text | د "لیک" متن |
| 4) | Closing | "د لیک" خاتمه |
| 5) | Signature | د امضاء "ځای" |

## 1) Heading : عـنـوان

In the heading the write's adress and the date of writing is written.

په عنوان کې د لیکوونکي آدرس او د لیکنې نېټه لیکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2) Greeting or salutation: روغبړ یا سلام

A letter usually starts with words which express the writer's feeling.

یو لیک معمولاً له هغه کلمو سره شروع کېږي چې د ویونکي احساس بیانوي.

**Like**: Dear sir (گرانه ښاغلیه), My dear Dad (زما گرانه آغا), Dear Madam (گرانې آغلې).

## 3) Body or text : د "لیک" متن

Body is the most important part of a letter which expresses the writer's aim for writing and purpose of the letter.

متن د یو لیک مهمترینه برخه ده چې د لیکوونکي هدف د لیکنې لپاره او د لیک مقصد بیانوي.

⇨ **The following points should be observed in the text:**

**د "لیک" په متن کې باید لاندې ټکي مراعات شي:**

1. The letter must be clear. لیک باید واضح وي.
2. Avoid using complicated words. د پېچلو کلمو څخه مخنیوی وشي.
3. There must be space among the words. د کلمو ترمنځ باید فاصله وي.

## 4) Closing : د "لیک" خاتمه

It is not fair to close a letter abruptly.

مناسبه نده چې یو لیک دفعتاً ختم کړای شي.

A letter is usually closed by the following words.

یو لیک معمولاً په لاندې کلمو خاتمه پیدا کوي.

**Sincerely yours (ستاسو مخلص), Yours ever (ستاسو تل پاتې "ملگری"), Truly yours (ستاسو صادیق) etc... او داسې نور...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5) Signature : د امضاء "ځای"

In this part the writer usually write's his name and signature. The signatre is placed below the closing in the middle.

په دې برخه کې لیکوونکی خپل نوم او امضاء کوي. امضاء د لیک په لاندې اخیري مابین کې ځای اختیاروی.

**Example of a Letter;** **د یو لیک مثال؛**

| | |
|---|---|
| **Khushhal Khan, A Part.** | **خوشحال خان، الف برخه.** |
| **Spin Ghar hospital street.** | **د سخا روغتون کوڅه.** |
| **Kabul, Afghanistan.** | **کابل، افغانستان.** |
| **19 April 2016.** | **۱۹ اپریل ۲۰۱٦.** |

**My dear father!** **زما گرانه پلاره!**

*I was so glad to receive your letter last Sunday. I am sorry I couldn't send a reply at once. Our final examination was on and I was very busy. You know I am not very good in English, my teacher advises me to read English books from our library, and has given me the names of several which he recommends. I think, if I had an English dictionary, it would be of great help to me in reading these books. Will you please buy me one and send it to me? I promise you I will make very good use of it. Please tell my mother that I am quite happy and safe here and keeping very fit. she need not be anxious about me.*

**Sincerely yours;**

**Bilal Ahmad (Popal)**

Signature:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Important Structures, Words & Its Useges

# مهم ساختمانونه، کلمې او د هغوی د استعمال ځایونه

## There+ to be;

After (**there**) can be used [To be(is, am, are, was, were)], and gives the meaning of (have or exist).

له (there) څخه وروسته [To be يعنې is, am, are, was, were] استعمالیدای شي، او د (درلودلو یا وجود لرلو) مانا ورکوي.

| Structures ساختمان | |
|---|---|
| Affirmative form<br>مثبت شکل | There+ to be + Complement.<br>Ex: There is a plate in cupboard. مثال: په الماری کې یو پشقاب وجود لري. |
| Question form<br>سواليه شکل | To be +there+ + Complement?<br>Ex: Is there a plate in cupboard? مثال: آیا په الماری کې یو پشقاب وجود لري؟ |
| Negative form<br>منفي شکل | There+ to be + not+ Complement.<br>Ex: there is not a plate in cupboard. مثال: په الماری کې پشقاب وجود نه لري. |
| Negative interrogative form<br>منفي سواليه شکل | To be +there+ not+ Complement-?<br>Ex: Is there not a plate in cupboard? مثال: آیا په الماری کې یو پشقاب وجود نه لري؟<br>(Isn't, aren't, ain't, wasn't, weren't) +there+ Complement-?<br>Ex: Isn't there a plate in cupboard? مثال: آیا په الماری کې یو پشقاب وجود نه لري؟ |

Ex: There is a book on the table. مثال: یو کتاب په مېز باندې وجود لري. (شتون لري).

Ex: There are two books on the table. مثال: دوه کتابونه د مېز په سر باندې وجود لري. (شتون لري).

Ex: There was a book on the table. مثال: یو کتاب په مېز باندې وجود درلود. (شتون درلود).

Ex: There were two books on the table. مثال: دوه کتابونه په مېز باندې وجود درلود. (شتون درلود).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Any, No

(Any) in negative sentences and (No) in positive sentences give the meaning of (**Nothing**).

Any په منفي او No مثبتو جملو کې د (هیڅ) مانا ورکوي.

Ex: There isn't **any** water in the glass. مثال: په گیلاس کې **هیڅ** اوبه نشته.

منفي جمله

Ex: There in **no** water in the glass. مثال: په گیلاس کې **هیڅ** اوبه نشته.

مثبته جمله

Ex: There isn't **any one** in the room. مثال: په خونه کې هیڅوک نشته.

منفي جمله

Ex: There is **no one** in the room. مثال: په خونه کې هیڅوک نشته.

مثبته جمله

**Note:** At the beginning of negative sentences, (Any) or combinations (anybody, anyone, anywhere, anytime, anything ...) are never used to indicate the meaning of (nothing). In such cases, only (No) or compounds with (no) are used.

**نوټ:** د جملو په شروع په کې د (هیڅ) مانا ورکولو لپاره هیڅکله له (Any) یا ترکیبونو(anybody، anyone، anywhere، anytime، anything...) څخه گټه نه اخیستل کیږي. په دغسې مواردو کې یوازې له (No) یا د (No) له ترکیبونو څخه گټه اخیستل کیږي.

Ex: **Noone** helped me when I was in trouble. مثال: کله چې زه په ستونزه کې وم، هیچا مرسته راسره ونکړه.

Ex: This house is empty. **Noone** lives in it. مثال: دغه کور خالي دی. هیڅوک په هغه کې ژوند نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Note:** Some time combinations with (any), used in positive sentences, which gives the meaning of (every).

**نوټ:** ځینې وخت د (any) ترکیبونه، په مثبتو جملو کې استعمالېږي، چې د (هر) مانا ورکوي.

**Such as:**

anybody ⟶ هرڅوک/ هرڅوک چې　　　anywhere ⟶ هرچیري

Anything ⟶ هرشی

Ex: **Anyone** can solve this problem.　　　مثال: هرڅوک کولی شي دغه ستونزه حل کړي.

## Because & Because of; ځکه، له دې سببه، ځکه چې، د دې لپاره، پخاطر

After (**because**) a sentence and after (**because of**), a noun is used.

له (**Because**) څخه وروسته یوه جمله او له (**Because of**) وروسته اسم پکار وړل کیږي.

Ex: He failed the exam **because** <u>he was lazy</u>.　　　مثال: هغه په ازموینه کې ناکام شو، ځکه تنبل و.

↓ جمله

Ex: He failed the exam **because of** <u>laziness</u>.　　　مثال: هغه د تنبلي پخاطر، په ازموینه کې ناکام شو.

↓ اسم

## Every & All; هر، هر یو، ټول

These two words in many cases mean all with the difference that the noun and the verb after (**every**)singular, but the noun and the verb after (**all** )are plural.

دغه دوه کلمې په زیاتو مواردو کې د (ټول) مانا ورکوي، په دې توپیر چې اسم او فعل له (Every) وروسته مفرد، مگر اسم او فعل له (All) وروسته جمع دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: Every **student** in the class **knows** the answer. مثال: په ټولګي کې هر زده کوونکي په جواب پوهيږي.

مفرد اسم مفرد فعل

Ex: All **students** in the class **know** the answer. مثال: په ټولګي کې ټول زده کوونکي په جواب پوهيږي.

جمع اسم جمع فعل

## Many/Much/a lot/ a lot of/ lots of; ډېر، زيات

⇨ (**Lots of**) &(**a lot of**), can be used before countable and uncountable nouns.

(**Lots of**) او (**a lot of**) د شمېرونکو او غير شمېرونکو اسمونو مخکې استعماليداى شي.

Ex: I have **a lot of friends**. مثال: زه ډېر ملګري لرم.

**Countable noun شمېرونکی اسم**

Ex: I have **lots of friends**. مثال: زه ډېر ملګري لرم.

**Countable noun شمېرونکی اسم**

Ex: I have **a lot of money**. مثال: زه ډېرې پيسې لرم.

**Uncountable noun غير شمېرونکی اسم**

Ex: I have **lots of money**. مثال: زه ډېرې پيسې لرم.

**Uncountable noun غير شمېرونکی اسم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



⇨ **(Many) is usually** used before countable plural nouns and (**Much**) is usually used before uncountalne nouns.

(**Many**) معمولاً د شمېرونکي جمع اسمونو مخکې او (**Much**) معمولاً د غیر شمېرونکي اسمونو مخکې استعمالیږي.

Ex: I have **many** **friends**. مثال: زه ډېر ملګري لرم.

**Countable plural noun شمېرونکی جمع اسم**

Ex: I have **much** **money**. مثال: زه ډېرې پیسې لرم.

**Uncountable noun غیر شمېرونکی اسم**

⇨ (**Much**) is usually used in negative and interrogative senteces.

(**Much**) معمولاً په منفي او سواليه جملو کې استعمالیږي.

Ex: Do you drink **much** coffee? مثال: آیا تاسو ډېره قهوه څښئ؟

Ex: I **don't** drink **much** coffee. مثال: زه ډېره قهوه نه څښم.

## Few/a few/ little/ a little کم، کوچنی، لیږ، ناچیز، یو شمېر، یو څو

(A little) and (Little) are used befor uncountable nouns, while (Few) and (A few) are used before countable nouns.

(A Lttle) او (Little) د غیر شمېرونکي اسمونو مخکې استعمالېږي، په داسـې حال کې چې (Few) او (A few) د شمېرونکي اسمونو مخکې استفاده کیږي.

Ex: A **Little water**. مثال:کمې اوبه.

**Uncountable noun غیر شمېرونکی اسم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: A **Little** money. مثال: کمې پیسې.

**Uncountable noun غیر شمېرونکی اسم**

Ex: **A Few books.** مثال: یوه شمېر کتابونه.

**Countable noun شمېرونکی اسم**

Ex: **A Few questions.** مثال: یوه شمېر پوښتنې.

**Countable noun شمېرونکی اسم**

## Enough; کافي، په کافي اندازه

(**Enough**) is used before noun and after adjective.

(**Enough**) له اسم څخه مخکې او له صفت خه وروسته پکار وړل کیږي.

Ex: Tall **enough**. (adjective). مثال: په کافي اندازه لوړ قد.

Ex: Good **enough**. (adjective). مثال: په کافي اندازه ښه.

Ex: **Enough** money. (Noun). مثال: کافي پیسې.

Ex: **Enough** time. (Noun). مثال: کافي وخت.

| Structures ساختمان | |
|---|---|
| First Structure | Enough + Noun + for + plural noun/pronoun + infinitive.<br>Ex:There aren't enough chairs for everyone <u>to sit down.</u><br>chairs → Plural noun; everyone → Pronoun; to sit down → infinitive<br>مثال: د ټولو لپاره په کافي اندازه څوکۍ نشته چې پرې کښینې. |
| Second Structure | Adjective+Enough + for + noun/pronoun + infinitive.<br>Ex: I'm not prepared enough <u>to take the test</u>.<br>prepared → Adjectivee; to take the test → infinitive<br>مثال: د ازموینې ورکولو لپاره په کافي اندازه اماده نه یم. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## For/ While/ During

**په اوږدو کې/ په جریان کې/ په وخت کې/ حال دا چې/ په هغه صورت کې/ په حال کې/ په حین حال کې/لپاره؛**

After (**During**) usually used a noun.

(**During**) معمولاً له اسم څخه وروسته استعمالیږي.

Ex: I usually fall a sleep **during** a **film**. مثال: د فلم کتلو په حال کې معمولاً خوب مې وړي.

**Noun اسم**

⇨ (**While**) can be used before a sentence or before a verb ing.

(**While**) له یوې جملې څخه مخکې استعمالولای شو.

Ex: I Fell asleep **while**, **<u>I was reading an article</u>**. مثال: په حین حال کې چې ما مقاله لوستله خوب یوړم.

**Sentence جمله**

Ex: I Fell asleep **while <u>reading an article</u>**. مثال: د یوې مقالې د لوستلو په حال کې خوب یوړم.

**عبارت Ing**

⇨ (**For**) is usually used before the phrase and indicates the duration.

(**For**) معمولاً له عبارت څخه مخکې استفاده کیږي او موده ښیي.

Ex: I lived in London **for** three years. مثال: د دریبو کلونو په موده کې مې په لندن کې ژوند کړی دی.

## Any longer/ No longer/ any more نور/نور له دې څخه/ نور له دې څخه زیات

⇨ **No longer;** is used before main verb and after helping verb in positive sentences.

**No longer** په مثبتو جملو کې، له اصلي فعل څخه مخکې او له کومکي فعل څخه وروسته استعمالیږي.

⇨ **Any longer/any more;** is used in the end of negative sentences.

**Any longer/any more** د منفي جملو په اخیر کې استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ex: Ahmad will not work here **any more**. مثال: احمد به نور دلته کار ونکړي.

Ex: Ahmad will not work here **any longer**. مثال: احمد به نور دلته کار ونکړي.

Ex: Ahmad **will no longer work** here. مثال: احمد به نور دلته کار ونکړي.

**will** ← **کومکي فعل**; **work** ← **اصلي فعل**

## Sometimes& Somtime;

✓ **Sometime** … یو وخت، یوه ورځ، پخوا

Ex: I saw him **sometime** last summer. مثال: هغه ما **یو وخت** په تېر اوړي کې ولید.

✓ **Sometimes** ځینې وخت/ځینې وختونه، کله نا کله، په ندرت سره،

Ex:We **sometimes** go to the beach to swim. مثال: موږ **ځینې وختونه** د لامبو وهلو لپاره د دریاب غاړې ته ځو.

## Alone, lonesome, lone, lonely یوازې، تنها، په تنهایي سره

Ex: I like to be **alone** for an hour. مثال: خوښیږي مې، چې یو ساعت یوازې اوسم.

**alone** ← صفت

Ex: He always went abroad **alone**. مثال: هغه همېشه خارج ته یوازې ځي.

**alone** ← قید

Ex: She felt **lonely**/**lonesome** after her husband dared.

**lonely/lonesome** ← صفت/ صفت

مثال: هغې د خپل خاوند له مرگ وروسته د یوازیتوب(غم) احساس کاوو.

Ex: The only green thing was **a lone** pine tree. مثال: یوازې زرغون موجود د کاج یوه ونه یوازې وه.

**lone** ← صفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې مثالونو بررسي ښيي چې:

- **Alone** هم (**صفت**) دی او هم (**قيد**)، مګر د (**صفت**) په عنوان همېشه يوازې پکار وړل کېږي او نشي کېدای له (**اسم**) څخه مخکې استفاده شي.

- **Lone** صفت دی او کولی شي له (اسم) څخه مخکې پکار يوړل شي.

- **Lonesome** او **Lonely** متفاوت مفهوم لري. په دغه دوو جملو کې «تنهايي» د غم او خفګان په مانا دي. (**Lonesome**) زياتره په امريکايي انګليسي کې پکار وړل کېږي.

## The other, the others, other, others, another; نور، يو بل، بل

1. Ex: He bought **another car** yesterday. مثال: هغه پرون يو بل ماشين واخيست.

صفت ↓ اسم ↓

2. Ex: Those cakes are wonderful. Could I have **another**?

↓ اسم

مثال: هغه يو عالي کيک دی. آيا کولی شم يو بل وخورم؟

3. Ex: She has two children. One of them is a girl and **the other** is a boy.

↓ ضمير

مثال: هغه دوه بچيان لري. يوه يې نجلۍ ده او بل يې هلک دی.

4. Ex: She has five children. One of them is a boy and **the others** are girls.

↓ اسم

مثال: هغه پنځه بچيان لري، يو له هغو څخه هلک دی، او پاتې نورې نجونې دي.

5. Ex: She has five children. One of them is a boy and **the rest** are girls.

مثال: هغه پنځه بچيان لري، يو له هغو څخه هلک دی، او نورې نجونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. She has five children. One of them is a boy and **the other** children are girls.

↓ صفت

مثال: هغه پنځه بچیان لري، یو له هغو څخه هلک دی، او نور نجونې دي.

6. Ex: He is very selfish. He never think of **the others**.

↓ اسم

مثال: هغه ډېر خودخواه دی. هیڅکله د نورو په هکله فکر نه کوي.

**د دې مثالونو بررسي ښيي چې:**

- ❖ **Another؛** هم **اسم** دی او هم **صفت** ( هم یوازې پکار وړل کېږي او هم مخکې له اسم څخه) او فقط په مفرد حالت کې پکار وړل کېږي. ( ۱ او ۲ مثالونه)
- ❖ **The other؛** هم **صفت** دی او هم **اسم**. د مفرد او جمع اسمونو مخکې پکار وړل کېږي. (۳ او ٦ مثالونه)
- ❖ **The others؛ ضمیر** یا **اسم** دی. تنها پکار وړل کېږي. د هغه مترادف کولی شو The rest هم استفاده کړو. (۴ او ۵ مثالونه)
- ❖ **The others یا Others** کولی شو د (نور، نورو) په مانا استفاده کړو.

## Alike/ like/ the same as/ the sam

1. Ex: These two books are **the same**. — مثال: دغه دوه کتابونه یوشان دي.
2. Ex: These two books are **alike**. — مثال: دغه دوه کتابونه یوشان دي.
3. Ex: These two books are **similar**. — مثال: دغه دوه کتابونه یوشان دي.

4. This book is **like** the other one. — مثال: دغه کتاب د هغه بل کتاب په شان دی.
5. This book is **the same as** the other one. — مثال: دغه کتاب د هغه بل کتاب په شان دی.
6. This is **similar** to the other one. — مثال: دغه کتاب د هغه بل کتاب په شان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د مثالونو بررسي؛**

- **The Same, alike او Similar**، دقیقاً یوشان مانا او استعمال لري. مانا یې (یوشان، یو ډول، مشابه، ...).
- **The same as، Like و Similar to**، جوړښت، استعمال او ماناوې یې یوشان دي. مانا یې (لکه، یوشان، ورته، مشابه، یوشان).
- **The Same، alike، Similar** یوازې پکار وړل کېږي مگر The Same as، Similar to او like همېشه له اسم څخه مخکې استعمالیږي.

## As + Adjective/adverb + as (په اندازه (As + صفت/ قید + As

دغه جوړښت معمولاً د (تساوي صفت) جوړښت په په نوم یادېږي، چې د دوو شیانو، کسانو، د سن، وزن، اندازه، اوږدوالي له نظره یوشان ښیي.

Ex: Ahmad is **as** intelligent **as** his father. — مثال: احمد د خپل پلار په اندازه هوښیار دی.

Ex: My daughters are **as** tall **as** sons. — مثال: زما لورگانې د زامنو په اندازه لوړقدي دي.

## The Same as (هم، یوشان، په شان، ورته)

Ex: The weather today is **the same as** yesterday. — مثال: د نن هوا د پرون **په شان** ده.

## The Same+noun+as /The same+اسم+as (هم، یوشان، ورته)

Ex: Your hair is **the same colour as** mine. — مثال: ستاسو وېښتان زما **هم** رنگ دي.

Ex: I arrived at **the same time as** Khalid. — مثال: زه له خالد سره په **ورته** وخت کې راورسېدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Used to & to be used to

دغه دوه جوړښتونه د مانا او په کار وړلو له نظره متفاوت دي.

- ✓ **Used to:** فقط، تېر/ماضي ته اشاره کوي(کاوو، کول، کوله...)، او د عملي بیان لپاره استفاده کیږي، چې په تېره کې سرته رسېده مگر نور سرته نه رسېږي.

Ex: When I was in high school, I **used to** play football two hours a day.

مثال: کله چې زه په لېسه کې وم، ما په ورځ کې دوه ساعته فوټبال **کاوو**.

Ex: Zahid **used to** study a lot of books when he was a university studend.

مثال: ذاهد چې کله د پوهنتون زدکړیال و، ډېره مطالعه یې **کوله**.

- ✓ To be used to: د دې جوړښت مانا چې له هغه څخه وروسته ing فعل یا Gerund پکار وړل کېږي، عبارت ده له (عادت لرل په). له To be څخه منظور د مصدر مختلف شکلونه دي، To be (am/is/are/was/were ) او نوموړي فعلونه په حال او تېره زمانه کې پکار وړل کېږي.

Ex: I am **used to** drinking a cup of tea after lunch.

مثال: زه معمولاً د غرمې له ډوډۍ وروسته د یو گیلاس چای **عادت لرم**.

Ex: We are **used to** getting up early.

مثال: زه په چابک راویښېدو **عادت لرم**.

- ✓ یو بل جوړښت له پورتني جوړښت څخه مشتق کیږي چې عبارت دی له(get used to) یعنې (عادت کول په) چې له هغه څخه وروسته اسم یا د فعل ing شکل پکار وړل کیږي.

Ex: The shoes felt strange at first but I **got used to** them.

مثال: بوټونه لومړی عجیب وو مگر ورسره عادت شوی یم.

Ex: If you live in India, you must **get used to** driving on the left.

مثال: که په هند کې ژوند کوئ، باید له چپې خوا په ډرېوري کولو، ځان **عادت کړئ**.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## If/ Whether آیا

په خاصو مواردو کې دغه دوه کلمې یوشان د کارېدو ځای او مانا لري، او دواړه د (آیا) مانا ورکوي. البته په دې مانا کې فقط د جملې په وسط کې استعمالیږي.

Ex: He asked **wether** I knew Mr. Mahmood? مثال: هغه پوښتنه وکړه، **آیا** ښاغلی محمود پېژنئ؟

Ex: He asked **if** I knew Mr. Mahmood? مثال: هغه پوښتنه وکړه، **آیا** ښاغلی محمود پېژنئ؟

## Whether/ or not که چیري/یا نه

Ex: **Whether** it rains **or not**, we are playing football on Saturday.

مثال: **که چیري** باران و اوریږي **یا نه**، موږ به د شنبې په ورځ فوټبال وکړو.

Ex: **Whether or not** it rains we are playing football on Saturday.

مثال: **که چیري** باران و اوریږي **یا نه**، موږ به د شنبې په ورځ فوټبال وکړو.

## Usages of (go), د (go) د استعمال ځایونه/

په خاصو حالتونو کې د (go) فعل د ځینې صفتونو مخکې وکاروو؛ چې په دې ځای کې د (**کېدل**) مانا ورکوي. لاندې حالاتو ته استفاده کېږي؛

❖ **د رنګ د تغیر ښوولو لپاره:**

Ex: Go white سپین کېدل    Ex: Go brown قهوه یي کېدل    Ex: Go green زرغونېدل

Ex: Go red سور کېدل

Ex: Leaves **go** brown in winter. مثال: پاڼې په ژمي کې سرې **کېږي**.

Ex: People **go** red, pale or white with anger. مثال: خلګ له غوسې، رنګ الوتی، سپین یا سور **کېږي**.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ **د افرادو د فزيكي يا روحي حالت د تغير ښودلو لپاره:**

Ex: Go crazy لېونی کېدل  Ex: Go mad عصباني کېدل  Ex: Go blind ړوند کېدل

Ex: Go deaf کوڼ کېدل

❖ **د موادو حالت، تغير ښودلو لپاره:**

Ex: Go trusty زنګ وهل  Ex: Go wrong خرابېدل  Ex: Go sour (شيدې) خرابېدل/ورستېدل.

Ex: Go bad (غوښه) خرابېدل/ ورستېدل.

## (go) with (ing) / فورم سره (ing) له (go)

(Go) له (ing) فورم سره په خاصو حالاتو کې يوځای کېږي، چې تفريحي او ورزشي فعاليتونو ته اشاره کوي.

Ex: Go waking پلي تګ ته تلل  Ex: Go climbing کوهنوردي ته تلل

Ex: Go skiing سکي ته تلل  Ex: Go shooting ډزو/فيرونو ته تلل

Ex: Go shopping خريداري ته تلل  Ex: Go hunting ښکار ته تلل

## Had better بهتره ده/ بهتر دی

د هغه کار د توصيې لپاره استعمالېږي، چې د هغه سرته رسول اختياري وي.

Ex: It might rain. **We'd better/had better** take an umbrella.

مثال: ممکن باران و اوري. بهتره ده، يوه چترۍ واخلو.

**منفي حالت يې (Had better not) دی؛**

Ex: You don't look very well today. You **had better not** go to work today.

مثال: نن ښه نه ښکارې. بهتره ده چې کار ته ولاړ نشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ دغه جوړښت د ټولو لپاره (لومړی شخص يا متکلم، دويم شخص يا مخاطب، دريیم شخص يا غايب، مفرد، جمع او...) يوشان دی او تغير نه کوي.

| |
|---|
| **I, you, she, he, we, you, they + had better+ $V_1$** |

❖ د دې جوړښت په منفي شکل کې له کومکي فعلونو څخه استفاده نه کيږي.
❖ له دې جوړښت وروسته(مثبت وي که منفي) فقط د فعل له ساده شکل څخه استفاده کيږي.

## It's time وخت يې دی

Ex: It's 10 o'clock and he's still in bed. **It's time** he got up.

مثال: ۱۰ بجې دي هغه اوس تراوسه هم ويده دی. وخت يې دی چې وپاڅيږي.

## Borrow & lend

له Borrow(قرض اخيستل)، وروسته د from اضافه توری، او وروسته له Lend(قرض ورکول)، څخه د to اضافه توری استعماليږي.

Ex: I **borrowed** ten Afghani **from** my friend. مثال: ما له ملګري څخه لس افغانۍ قرض واخيستلې.

Ex: My friend **lent** his coat **to** me. مثال: زما ملګري ما ته خپل کورتۍ قرض راکړه.

## Except & but

❖ د جملې په شروع کې معمولاً له except يا except for څخه استفاده کيږي، مګر but معمولاً د جملې په منځ کې استعماليږي.

Ex: Everybody **but** Anis come to the party. مثال: بغير له انيس څخه ټول ملمستيا ته راغلل.

Ex: Everybody **except** Anis come to the party. مثال: بغير له انيس څخه ټول ملمستيا ته راغلل.

Ex: **Except**/ **exept for** Anis, everybody came to the party.. مثال: بغير له انيس څخه ټول ملمستيا ته راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Sorry & excuse me! بخښنه غواړم/ وبخښئ!

Excuse me، یو چاته د زحمت ورکولو مخکې، او Sorry له زحمت او دردسر ورکولو وروسته استعمالیږي.

Ex: **Excuse me**, can I ask a question. مثال: وبخښئ، کولی شم یو سوال وپوښتم.

Ex: **Sorry**, I am late. مثال: وبخښئ، چې ناوخته شوم.

## Fewer&less کمتر، کم، کمه، کمې، لیږ

Fewer له شمېرونکي اسمونو مخکې، د جمعي حالت سره استعمالیږي او Less له غیرشمیرونکي اسمونو مخکې پکار وړل کیږي.

Ex: **Less** money کمې پیسې Ex: **Fewer** problems. کمې ستونزې.

## Patient/ill/ Sick ناروغ، ناروغه

❖ **Ill**، معمولاً تنها پکار وړل کیږي.

**Ex:** I'm sorry, I haven't answered your better. I've been **ill**.

مثال: بخښنه غواړم چې لیک ته مې جواب درنکړ. **ناروغ** وم.

❖ **Sick**، هم له اسم څخه مخکې او هم یوازې استفاده کېدای شي.

Ex: She spent three years looking after her **sick mother**.

↓ اسم

مثال: هغې درې کاله د خپلې **ناروغې** مور مراقبت وکړ.

نوټ: Sick، د کانګې(استفراق) کولو په مانا هم ده.

Ex: I feel **sick**. Where is the bathroom? مثال: د کانګې احساس کوم. تشناب چیرې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ **Patient**، یو اسم دی، او کولی شي د جمعي شکل ونیسي.

**Ex:** A patient goes to hospital to be treeted. مثال: یو ناروغ روغتون ته ځي ترڅو معالجه شي.

## Tell, & Say ویل

❖ Tell، معمولاً یوازې پکار نه وړل کیږي او له هغه وروسته اسم یا ضمیر پکار وړل کیږي.

Ex: She **told me** she would be late. مثال: هغې ماته و ویل، چې ناوخته راځي.

ضمیر

Ex: I t**old** **<u>the children</u>** to go away. مثال: ماشومانو ته مې و ویل، لیري ولاړ شئ.

اسم

❖ له Say، څخه وروسته د اسم یا ضمیر اړتیا نشته او کولی شو له جملي سره یې استعمال کړو؛ خو که چیري اسم یا ضمیر استفاده شي، نو د to اضافه توری ورسره هرومره استفاده کیږي.

Ex: She **said** **<u>that she would be late</u>**. مثال: هغې و ویل چې ناوخته راځي.

جمله

Ex: She **said** **<u>something</u>** **<u>to</u>** me. مثال: هغې یو څه ماته و ویل.

ضمیر اضافه توری

نوټ: په ځینې عبارتونو کې یوازې tell استفاده کیږي.

Ex: Tell a lie. مثال: درواغ ویل. Ex: Tell the time. مثال: ساعت ویل.

Ex: Tell the truth. مثال: حقیقت ویل.

## Besides & beside څنګ ته، ترڅنګ، بغل ته

❖ د **Beside** مانا (بغل ته، څنګ ته، ترڅنګ) ده.

Ex: Come and site **beside** me. مثال: راشه او زما څنګ ته کښېنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ د **Besides** مانا (علاوه په دې، علاوه پر، سربېره پر دې) ده.

Ex: **Besides** Pashto, she speaks English and Spanish.

مثال: هغه **علاوه پر** پښتو، په انګلیسي او هسپانوي خبرې کوي.

## It's & Its

**Its** یو ملکي صفت دی، که همېشه په جمله کې له اسم څخه مخکې استعمالیږي.

Ex: The dog wagged **its** tail.

مثال: سپي خپله لکۍ وښوروله.

**It's** د It is اختصاري شکل دی، وروسته له هغه د (The, a, an) د تعریف توری پکار وړل کیږي.

Ex: It's late.

مثال: ناوخته شو.

❖ کله کله It's د It has اختصاري شکل هم وي.

## Provided & as long as په شرط د دې

Ex: You can borrow my car **provided** (**that**) promise not to drive too fast.

Ex: You can borrow my car **providing** (**that**) promise not to drive too fast.

Ex: You can borrow my car **as long as** promise not to drive too fast.

Ex: You can borrow my car **so long as** promise not to drive too fast.

مثال: کولی شئ، موټر قرض واخلئ، خو په شرط د دې چې تېزه ډرېوري ونه کړئ.

❖ له Providing او Provided وروسته د That کلمه اختیاري ده، خو As long as او So long as وروسته د Thatکلمه نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځینې انګلیسي متلونه

→ A man is only as rich as he is contened.

قناعت کوونکی انسان مالداره وي .

→ A hard gathering a wide scattering.

بخشش په خروار، حساب په مثقال.

→ A friend to everybody is a friend to nobady.

د ټولو دوست د هیچا دوست ندی.

→ A friend in need is a friend is deed.

دوست هغه دی چې په سخته کې پکار راشي.

→ A hungry belly has no ears.

وږې ګېډه ایمان نلري.

→ A nod to the wise a rod for the fool.

اصیل ته اشارت کم اصل ته کوتک.

→ A blow with a word strikes deeper than a below with a sword.

د توري ټپ به جوړ شي خو د ژبې ټپ به جوړ نشي.

→ A burnt child dreads the fire.

مار چیچلی له پړي هم وېریږي.

→ Be true and fear not.

چې غل نه یې له پاچا مه ډارېږه.

→ Better to be alone than a bad accompany.

د بد ملګرى څخه یوازیتوب ښه دی.

→ Money is the root of all evils.

پیسې د فساد منبع ده .

→ A widow's mite.

برګ سبز تحفه درویش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# References
# مآخذونه

1. Creative English Grammar.
2. Muslim English Grammar.
3. Azeraksh English Grammar.
4. English Language for foreigners.
5. Amiri English Grammar.
6. Momand English Grammar.
7. Learn English Rapidly.
8. Invest time on Grammar.
9. English Grammar in use.
10. Oxford Grammar.
11. Chalenger English Grammar.
12. Raihan English Grammar.
13. Comprehensive English Grammar.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Dervish English Grammar

Khalil Ahmad Darvish



نوی
مستقبل خپرندویه ټولنه

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library